# نړیوال ادبي مکتبونه




لیکوال:

هیواد بریال کومکي


Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

# نړیوال ادبي مکتبونه

لیکوال: هیواد بریال کومکي

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د کتاب ځانګړنې

**دکتاب نوم : نړیوال ادبي مکتبونه**

**لیکوال: هېواد بریال کومکي**

**خپرندوی: نوی مستقبل خپرندویه ټولنه -کابل**

**برېښنالیک: moustaqble@gmail.com**

**چاپ شمېر: ۱۰۰۰ ټوکه**

**چاپ وار : لومړی.**

**چاپ کال: ۱۳۹٦ لمریز.**

**قیمت: ۱۰۰ افغانۍ**

نوی مستقبل خپرندویه ټولنه

لومړی ادرس:کوټه سنګي–دسیلو د څلورم اوپنځم سړک ترمنځ د شاداب ظفر بلاکونوته مخامخ

دویم ادرس : د دهمزنګ لومړی سړک (مرکز عمومي کتاب پلورنځی).

۰۷۸۸۲۲۰۵۳۰

دریېم ادرس: جوي شیر دخپرندویه ټولنو اوکتاب پلورنځینو عمومي مرکز

۰۷۸۱۸۹٤۰٦٤

اړیکې : ۰۷۸۶۶۳۰۷۳۱ ۰۷۷۸۸۷۰۳۰۵ ۰۷۸۷۱۸۰۷۵۳

د چاپ حقوق له خپرندویې ټولنې سره خوندي دي

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ډالۍ

شهید استاد حیکم تڼیوال، ډاکټر فیض محمد ځلاند، استاد محمد اسمعیل یون، ډاکټر خوشال روهي، تورن جنرال نوراحمدشاه انګار، عبدالشکور پیغام، مرحوم څارنوال ګل محمد کومکي او ګران استاد نورالله ښاد ته چې ما ترې ډېر څه زده کړي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## سریزه

د پوهنتون زده کړه‌ییز بهیر کې مې له ځینو نړیوالو څېړو سره اشنایي پیدا شوه، د دې خلکو افکار مونږ ته په کار دي.

تېره ورځ راته ګران ټولګیوال هېواد بریال کومکي زنګ وکړ، چې یو کتاب مې چاپ ته تیار کړی، ته یې له هم له سترګو تېر کړه.

د دی نن مې یې لوستنه پای ته ورسوله، اوس ځان داسې محسوسومه، په نړیوالو ادبیاتو کې د ماسترۍ زده کړې کوم.

په پښتو ژبه کې د نړیوالو ادبي مکتبونو په اړه دومره روان، تسلسلي او له هر اړخیزو مالوماتو ډک کتاب همدا دی. ښاغلي کومکي صیب په ډېر ښکلي ډول دا کتاب د ادب په پېژندلو پیل کړی، ورپسې یې ادبي دورې او له هغې وروسته یې نړیوال ادبي ښوونځي، کلاسېزم، رومانتېزه، ریالېزم، نچرالېزم، سیمبولېزم او نور واړه ادبي مکتبونه، د هغوی سرلارې، د هغوي د پیدایښت سیمې، د هغوی د را پیدا کېدو علتونه او د هغوی پیرو او مخالفین په داسې ډول تشریح کړي، چې موضوعي تسلسل یې سړی د کتاب لوستلو پسې بیایي.

زه یې په اړه نورې خبرې نه لیکم، لوستنه او قضاوت خپله وکړئ، خو زما ګران او هوډمن ملګري هېواد بریال کومکي ته د دې ارزښتمند کتاب د چاپېدا مبارکي وایم او له خالق ذات څخه ورته د نورو بریاوو په هیله یم !

په جهان د ننګیالي وي دا دوه کاره
یا به وخوري ککرۍ یا به کامران شي

(خوشال بابا)

په ټوله پښتني او علمي مینه
**رشیدالله جلبل مینه یآر**
**۱۳۹۶/۸/۲۱**

(c) ketabton.com: The Digital Library


# لړلیک

| سرلیک | مخ |
|---|---|
| سریزه | ۱ |
| ادب څه ته وایي؟ | ۲ |
| ادبي سبک او ښوونځی | ۵ |
| د نړیوالو ادبي دورو وېش | ۷ |
| لرغونی یونان او روم (لرغونې ادبي دوره) | ۹ |
| مذهب او ادبیات (منځنۍ ادبي دوره) | ۱۴ |
| د رنسانس (روښانتیا) پېر | ۱۶ |
| نړیوال ادبي مکتبونه | ۲۰ |
| کلاسېزم | ۲۲ |
| د کلاسېزم تاریخي شالید | ۲۶ |
| د کلاسیک ادب د اصولو پیدایښت | ۲۷ |
| اصول او قواعد | ۲۹ |
| د طبیعت تقلید | ۲۹ |
| له زړو هنرمندانو تقلید | ۳۲ |
| عقل او منطق | ۳۳ |
| کمال او برابري | ۳۵ |
| ښکلا او زده کړه | ۳۵ |
| ساده ګي، څرګندتیا او لنډون | ۳۶ |
| حقیقت | ۳۷ |
| ادبي سپېڅلتیا | ۳۸ |
| درې ګونی قانون | ۳۹ |
| کلاسیک اثار او لیکوال | ۴۲ |
| حماسه او رومان | ۴۲ |

(c) ketabton.com: The Digital Library



تراژيدي........................................................ ۴۳
د تراژيدۍ اتل ................................................. ۴۵
كوميډي ......................................................... ۴۶
د لرغوني يوناني كوميډيو جوړښت ............................... ۴۷
شپونيز شعر (BUCOLIQUE) ..................................... ۵۰
غنايي اشعار (LYRIQUE)........................................ ۵۰
كلاسېزم او فرانسه ............................................... ۵۱
نيكولاس، نيكولا بوالو (۱۷۳۶-۱۷۱۱م) ........................... ۵۱
د بوالو (شعر پوهنه)............................................. ۵۳
ژان ډولافنتېن (۱۶۲۱-۱۶۵۹م) ................................... ۵۴
ژان راسين (۱۶۹۹-۱۶۳۹م) ....................................... ۵۵
د راسين اثار..................................................... ۵۷
مولېر (۱۶۲۲-۱۶۷۳م) ........................................... ۵۷
بلز پاسكال (۱۶۲۳-۱۶۶۲م) ..................................... ۵۹
كلاسېزم او المان................................................. ۶۰
يوهان ولفګانګ فون (ګويته) (۱۷۷۹-۱۸۳۲م) ................... ۶۲
يوهان كريستوف فريدريک (شېلر) (۱۷۵۹-۱۸۰۵م)................ ۶۵
كلاسېزم او انګلستان ............................................ ۶۷
رومانتېزم......................................................... ۶۹
د رومانتېزم پيدايښت............................................ ۷۱
ويی او ريښه.................................................... ۷۲
د پانګوالۍ پيل او د فيوډالېزم زوال............................ ۷۳
د رومانتېزم اصول ............................................. ۷۷
د رومانتېزم ډولونه.............................................. ۷۷

(c) ketabton.com: The Digital Library


د رومانتېزم برنامه ........................................................ ۷۸
رومانتېزم په اروپا کې............................................................۸۱
ویکتور هوګو (۱۸۰۲ - ۱۸۸۵م) ...........................................۸۲
ژان ژاک روسو (۱۷۱۲ - ۱۷۷۸م).......................................... ۸۴
ویلیام ورډ زورث (۱۷۷۰-۱۸۵۰م) .......................................... ۸۶
الکساندر سرګیوېچ پوشکین ( ۱۷۹۹- ۱۸۳۷م)....................... ۹۰
ریالېزم (رېښتیا پالنه).............................................................۹۲
د ریالېزم مبارزه ...................................................................... ۹۷
ریالېزم د عادي او غیر شخصي مکتب په توګه.......................۱۰۰
د ریالېستي ادب موضوع.......................................................... ۱۰۱
نړیوال ریالېزم........................................................................ ۱۰۲
روسیه (روسی ریالېزم)...........................................................۱۰۴
لومړنی ریالېزم .......................................................................۱۰۵
انتقادي ریالېزم .......................................................................۱۰۶
سوسیالیستي ریالېزم................................................................۱۰۸
ماکسیم ګورکي (۱۸۶۸-۱۹۳۶م)..............................................۱۰۹
ناتورالېزم (طبیعت پالنه)........................................................ ۱۱۱
ریالیستي هنر د ناتورالېزم د مقدمې په توګه.........................۱۱۳
د ناتورالېزم لنډه فلسفه ..........................................................۱۱۴
ناتورالېزم دسیاست او اقتصاد له زاویې....................................۱۱۵
ناتورالېزم او پوهنه.................................................................۱۱۵
د ناتورالېستي اثارو ځانګړې .................................................. ۱۱۷
د ناتورالېزم ماته .................................................................. ۱۱۷
سېمبولېزم (ابهام) ................................................................. ۱۱۸

(c) ketabton.com: The Digital Library


د سېمبولېزم اصول ........................................................ ۱۲۳
ازاد شعر........................................................................ ۱۲۴
نامتو استازي.................................................................... ۱۲۵
له سېمبولېزم جلا شوي مکتبونه............................................ ۱۲۶
ناتورېزم......................................................................... ۱۲۷
کسموپلیتېزم (جهان پالنه).................................................. ۱۲۸
نور واړه مکتبونه ..............................................................۱۲۹
اونانیمېزم.......................................................................۱۲۹
فوتورېزم (راتلونکی).......................................................... ۱۳۱
د فوتورېزم پیدایښت ........................................................ ۱۳۲
د فوتورېزم اصول.............................................................۱۳۳
د فوتورېستي اثارو موضوع..................................................۱۳۴
د فوتورېزم نامتو استازي .................................................. ۱۳۵
د فوتورېزم ماته ...............................................................۱۳۵
اکمیېزم ........................................................................۱۳۶
اکمېیزم او روسیه .............................................................۱۳۸
امپرسیونېزم.....................................................................۱۳۸
اکسپرسیونېزم ................................................................. ۱۳۹
دادېزم...........................................................................۱۴۱
سور ریالېزم.................................................................... ۱۴۲
اګسزیستانسیالېزم............................................................ ۱۴۳
ویرېزم ......................................................................... ۱۴۴
اخځونه ......................................................................... ۱۴۵

(c) ketabton.com: The Digital Library



(c) ketabton.com: The Digital Library


## سریزه

خوښ یم، چې د لوی څښتن تعالی په مرسته مې د (نړیوال ادبي مکتوبونه) تر عنوان لاندې ادبي اثر بشپړ کړ. د دې کتاب د موضوع په هکله مې ډېر ژور فکر درلود. باید ووایم، چې په پښتو ژبه کې د نړیوالو ادبیاتو په هکله پوره او د پام وړ کار نه دی شوی. ما تر خپلې وسې زیار ایستلی، چې پښتو ژبې ته د نړۍ د ادبي مکتبونو په هکله یو څه دننه کړم، تر څو راتلونکی او ځوان نسل دغه بهنځونه تعقیب او د نړۍ د ادبیاتو په هکله ډېر څه لاسته راوړي. البته د دې اثر د لیکلو پر وخت له ډېرو ستونزو سره مخ وم، خو د باندنیو ژبو ځینو اثارو راسره مرسته وکړه، چې د موضوعاګانو ژورو ته دننه شم.

د دې اثر په محتوا کې پر ادبیاتو بحث شوی، ځانګې یې په ګوته شوې، د سبک، جریان او مکتب په کلمو کې نږدې والی او توپیرونه څېړل شوي دي. نړیوالو ادبي دورو ته کتنه او په دې پورې تړلي حقیقتونه، لاملونه او پیښې رابرسېره شوې، چې لوستونکي وکولی شي په جلا توګه د موضوعاتو منځ ته دننه شي. د نړیوالو ادبي مکتبونو په لړ کې په کلاسېزم او بیا وروسته په زنځیري ډول نورادبي مکتوبونه، د هغوی په اصولو او لیکلو اثارو بحث شوی دی. لیکوال یې د سیاسي، علمي، کلتوري او ټولنیزو تاوتریخوالو په پار د ولس د ویښتیا او د مثبت بدلون لپاره قلم پورته کړی، یا یې دغه خوځوښتونه رد کړي دي. دا موضوع د هغو ادیبانو، لیکوالو او هنرمندانو لپاره د نړیوالو ادبي مسائلو د څېړلو او پلټلو لپاره یوه ښه وسیله کیدای شي، وروسته به نورې درنې ستې په دغه لار کې لا روښانتیا رامنځ ته کړي. هیله مې دا ده، چې د ادب وړ‌ي تږي له دې اثر څخه ډېر څه کسب او دې ته وهڅېږي، چې د دغې موضوع د لا پراخولی لپاره متې راونغاړي.

پاتې دې نه وي، د دې کتاب د اصلاح او سمون په برخه کې زما ګرانو ملګرو عصمت الله کرم او رشیدالله جلبل ډېر زیار ایستلی او د شیخ زاید پوهنتون د ژبو او ادبیاتو له مخکښ استاد نورالله ښاد څخه زښت زیات منندوی یم، چې د دې کتاب د سمون په برخه کې راته لازمې لارښوونې کړې دي او خپل قیمتي وخت یې پر دې کتاب لګولی دی.          په درنښت

**هېواد بریال کومکي**
**خوست ـ افغانستان**
**۱۳۹۶/۸/۲۰**

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ادب څه ته وایي؟

د ادب په هکله دا پوښتني چې ادب څه شی دی؟، څه دندې لري؟،هدف او موضوع یې څه ده؟، پخوا ډېرې مطرح شوې او ادبپوهانو ورته پر ځای او لازم ځوابونه موندلي دي. که د ادب ریښه او کلمه وڅېړو نو معلومه به شي، چې دا کلمه د عربي ژبې له هذب څخه راوتلې او مانا یې (د ونې د بې ځایه څانګو او ښاخونو پرېکول) دي. دا کلمه له محسوساتو څخه معنویاتو ته رانقل او د هغه وګړي لپاره وکارېده، چې له عیبونو به پاک شو. دلته دا ټکی خورا مهم دی چې ادب نېغ په نېغه له هذب نه دی رغېدلی، بلکې هذب په هدب او هدب په ادب اوښتی دی. استاد الفت صاحب ادبیات، چې ادب ته منسوبه جمع ده، داسې راپېژني:(ادب د ښو الفاظو په وسیله د خپلو احساساتو او ادراکاتو یا د زړه د خبرو ښکاره کول او د اوریدونکیو په ذهن کې یې کېنول دي.) (۱: ۱،۳م)

د پښتو ژبې بل مخکښ ادبپوه زلمی هېوادمل په خپل اثر (د پښتو ادبیاتو تاریخ ) کې د یو ژبې ټول لیکلي (تحریري) او نا لیکلي (شفاهي) منظوم او منثور هنري اثار ادبیات ګڼي. هېوادمل صاحب د ادبي لیکنو او نورو پنځونو تر منځ اساسي توپیر په هنریت پورې تړي او یوازې هغه لیکنې ادبي بولي چې د هنر جادو له ځان سره ولري. (۲: ۸م)

ادبیات د نورو بشري پوهنو په څېر د مجرد تفکر درلودونکي او پر ورو سترو څانګو وېشل شوي دي، ادبیات په لومړیو کې پر دوو برخو ( ژبپوهنه

(c) ketabton.com: The Digital Library


او ادبپوهنه) وېشل کیږي، دا هره څانګه بیا نور بېل ښاخونه لري. لومړی په لنډ ډول ژبپوهنه، د هغې څانګې او ورپسې ادبپوهنه درپېژنو:

## (۱) - ژبپوهنه

ژبپوهنه هغه پوهه ده، چې د ژبې جوړښت، څرنګوالی، تکاملي پړاوونه او بدلونونه تر څېړنې او بحث لاندې نیسي. په لېنګوېسټیکس (ژبپوهنه) کې ژبې ته د هنري اثارو د موادو په توګه ځانګړې پاملرنه کیږي. ژبپوهنه لومړۍ پر دوو برخو؛ نظري ژبپوهنه او تطبیقي ژبپوهنه وېشنه مومي، وروسته نظري ژبپوهنه په ترتیب سره په لاندې څانګو وېشل کیږي:

۱- تشریحي ژبپوهنه

۲- تاریخي ژبپوهنه

۳- پرتلیزهژبپوهنه

## الف: تشریحي ژبپوهنه

تشریحي ژبپوهنه د نظري ژبپوهنې هغه څانګه ده، چې ژبه بې له کوم تاریخي تحول او بدلون پرته په یوه معلوم او څرګند مهال کې تر څېړنې لاندې نیسي. دغه ژبپوهنه په دریو لویو برخو وېش مومي چې عبارت دي له:

۱- غږپوهنه (فونولوژي)

۲- ګړ پوهنه(مورفولوژي)

۳- جمله پوهنه (سېنټېکس)

دغه هره څانګه دندې او اصول لري، ځانګړي ژبني مسائل بیانوي، د موادو ترتیب او شننه یې بېله او د ژبې په رغونه کې رغنده رول افاده کوي. له تشریحي ژبپوهنې علاوه تاریخي او پرتلیزه ژبپوهنه هم د ژبپوهنې له مهمو ښاخونو شمېرل کیږي. تاریخي ژبپوهنه د یوې ژبې مختلف تحولات بیانوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



او پرتلیزه ژبپوهنه بیا یوه ژبه له ډېرو نورو ژبو یا د ژبو له کورنیو سره پرتله کوي.

**(۲) - ادبپوهنه**

ستر ژبپوه رښتین صاحب ادب پوهنه داسې تعریفوي:((ادبپوهنه هغه علم دی، چې د ویلو، لیکلو او ښې وینا ډولونه راښیي او د نظم او نثر ښه والی بدوالی او نورې مرتبې بیانوي.)) (۳: ۱۰۷م) ادبپوهنه درې اساسي څانګې لري:

۱- ادب تاریخ

۲- ادبي نقد (کره کتنه)

۳- ادب تیوري

ادب تاریخ ژبني او هنري اثار له پیدایښتي شرایطو سره سم تر څېړنې لاندې نیسي او د یو ملت ادبي جریانات مطالعه کوي. کره کتنه په ساده ژبه د یوه اثر ښه والی، بدوالی، خوند، بې خوندي، کره، ناکره، ښکلا، بدرنګي، ګټې او زیانونه بیانوي. ادب تیوري بیا د ادب انکشاف،اصول، نښې، ځانګړتیاوې او د هغې په رڼا کې مېتود او موضوع راپېژني. یا په بل عبارت: د ادبي اثارو پر منشاء، ماهیت، تکامل، ارزښت او د ارزونې پر مېتود او پرنسیپونو بحث کوي او د کره کتنې او ادب تاریخ لپاره اصول او قوانین ټاکي.

د ادب د دندې او موضوع په اړه حبیبي صاحب د پخوانیو شرقي او غربي پوهانو زاړه او نوي نظریات راخیستي دي. شرقیانو پخوا د ادب موضوع یوازې په وینا (نظم او نثر) کې د فصاحت او بلاغت لخوا مطرح کوله. عبدالرحمن ابن الانباري (۵۱۳-۵۷۷ هـ/ش) اته علمه (نحو، لغت، صرف، عروض، قافیه، صنعت الشعر، اخبار او انساب) په ادب کې داخـــل

(c) ketabton.com: The Digital Library


ګڼل هر چا به چې په یوه یا ټولو پوهه حاصله کړه، هغه به ادیب بلل کېده. د غربي نړۍ اوسني نظریات مغلق او خورا زیات دي. په دې برخه کې د محمد اقبال وزیري صاحب دا تعریف بسنه کوي، چې وایي: ((په ملي - تاریخي ځانګړنو کې د خلکو د نننی او باندني ژوند ټولنیز کرکټرتوب له طبیعت سره په اړیکه کې د هنري ادب سکالو جوړوي.)) (۴: ۷،۶م)

د ادب دندې خورا ډېرې دي، ډېریو پوهانو د پوهاوي، ښکلاییزو او روزنیزو دندو یادونه کړې ده. د دوی په فکر لیکوال له پوهنو او هنرونو په ګټه اخیستنې د ښکلا په مرسته د ښو کرکټرونو په راوړلو دټولنیز ژوند پېښې انځوروي. لوستونکی نېغ په نېغه ترې تقلید او ورسره ځان پرتله کوي او بلاخره مثبت تحول پېښیږي.

د ادب موخه په ټولنه کې د ظلم او ښکېلاک پر وړاندې د ټیټې طبقې د غړونو پورته کول، د مثبت بدلون لپاره هڅه اود انسانانو په ژوندکې خوند، همدري، احساس، مینه او خواخوږي پیداکول دي. (۳: ۳۸م)

## ادبي سبک او ښوونځی

په ادبیاتوکې د نظم تر څنګ نثر هم ځانګړی مقام لري. وګړي د خپلې ایډیا د انعکاس لپاره یانظم ټاکي یا نثر، چې دواړه یو تر بله ډېر توپیر لري. سبک یوه عربي کلمه ده، چې د سرو او سپینو زرو ویلي کول او په قالب کې اچول دي. سبیکه بیا د زرو ټوټې ته ویل کیږي. د ادب په اصطلاح کې د یو شاعر او لیکوال د وینا او لیکنې لارې، اسلوب، روش او مېتود ته وایي. یا په بل عبارت: په لیکوالۍ کې د لیکوال لیکنې طرز ته هم سبک ویلی شو. (۵: ۱۱۱ م)

(c) ketabton.com: The Digital Library



د سبک دکلمې پر وړاندې اروپایانو د (Style) کلمه کاروله، چې د لاتینې ژبې له (Stilus) څخه مشتق شوې ده. ستیلش هغه اله وه، چې د هغې په وسیله به پر مومیایي تابلوګانو لیکنې کېدې. د ستایل کلمه د سبک په نسبت زیات جامعیت او ارتولی لري او د اروپایانو د ټولو کړو وړو لپاره په خاص او ممتاز ډول استعمالیږي. په اروپا کې سبک د ارستویي او اپلاتوني ماناوو تر منځ توپیر شوی دی او د رنسانس وروسته پرې تاوده بحثونه ترسره شوي دي چې سر یې همدغې اپلاتوني او ارستو یي پورې اړوندو نظریو ته رسیږي.

د سبک دکلمې پر ځای پخوانیو پارسي ادبپوهانو د فن، طرز، سیاق، طریقه، شیوه اسلوب او دې ته ورته کلمې کارولې، خو اوس ټول د سبک د کلمې پرکارونې تفاهم ته رسیدلي دي.

هر لیکوال، شاعر او ادیب د لیکلو ځانته طرز (سبک) لري. دا سبک د جوتو ځانګړتیاوو له اړخه د نورو لیکوالو له سبک نه توپیر پیداکوي، یا یې پیروي کوي. د ادبیاتو د ننه په نثرکې ځینې ادیبان دومره ځلیږي، چې د لیکنې سبک یې د ارزښت تلې ته لوېږي، پنځګر یې په شعوري یا غیر شعوري ډول پیښې کوي او په دې ډول د لومړي شخص د سبک پیرو بلل کیږي. خوشال بابا، حمید مومند او رحمان بابا د اشعارو او اثارو په پنځولو ډېر لیکوال او شاعران اغېزمنکړي دي. دلته دا ټکی د فکر وړ دی، چې (سبک په یوه شخص پورې تړاو لري، خو ښوونځی د څو ورته سبکونو، چې پنځګر یې طرزي او فکري همرنګي ولري ټولګه وي.) (۶: ۲۸م)

د یوه ادبي مکتب پیدایښت د ادب له تاریخي، فرهنګي او کلتوري شرایطو سره تړاو لري. د ادبي ښوونځیو په منځته راتګ کې دوه شیان خاص

(c) ketabton.com: The Digital Library


رول لري، لومړی د پوهنیزې ایډیا تاثیر او دویم د یوې منلې ادبي نظریې یا خوځون مخلافت دی، چې د فرد پر ځای په یوې ډلې پورې تړاو پیدا کوي. ښاغلي اجمل ښکلي په خپل کتاب (سبک پوهه) کې د ښوونځي او سبک پر موضوع باندې ډېر اوږد بحث کړی او هم یې د خارجي پوهانو تعریفونه او تحلیلونه راوړي دي. نوموړی د یو ادبي قاموس لیکوال (جی. ای ګډون) نظر لیکي او وایي مکتب د هغو لویو پنځګرو ډلې ته وایي، چې ټول یو ډول ادبي ارونه (اصول) پالي، یا د یو فکري نظام یا یوې مفکورې خلک او تخلیقي هڅې یې ادبي مکتب بللی شو.

ادبي ښوونځی هغه ادبي جریان دی، چې د لیکوالو، ادیبانو، شاعرانو او پنځګرو د سبکونو له ګډون څخه رامنځته کیږي، یا یې د هغو نظریو، ادبي او کلتوري ځانګړتیاوو مجموعه بولو، چې د هېوادنو د ګډو ټولنیزو او سیاسي اوضاعو په بهیر کې منځ ته راغلې وي. ښوونځی په یوه ټاکلې دوره کې د یوه ګروپ لیکوالو له خوا د یوې ځانګړې لارې او سبک تعقیبول دي. (۶: ۱۴،۵)

## د نړیوالو ادبي دورو وېش

د نړیوالو ادبي دورو وېش اسان کار نه، بلکې ډېرې زیرکتیا، پوهې او ادبي درک ته اړتیا پېښوي. ټولنیز علوم په تېره بیا ادبیات له مجرد تفکر څخه برخمن دي او پوهان په ډېرو خېړنو او ادبي مسائلو کې سره ورته نظریات نه لري. د ادبي دورو ټاکنه هم یو پیچلی بحث دی، چې پوهانو ورته له بېلو زاویوکتلي دي.

استاد پوهندوی جانس زړن (د نړیوالو ادبیاتو د ادبي دورو وېش) تر عنوان لاندې په علمي او خېړنیزه مقاله کې د نړیوالو ادبي دورو د وېش ټاکنه کړې ده. د مقالې منځپانګه د څلورو لویو وچو (اسیا، افریقا، اروپا او

(c) ketabton.com: The Digital Library


امریکا) د ادبیاتو څېړنه جوړوي. د لرغوني یونان، پخواني روم او ورسره پر ځینو هندي، باختري، مصري، بابلي او استرالیایي ژبو سربېره د اروپا پر منځنۍ پېړۍ هم څېړنه شوې ده، چې په پای کې یې نړیوال ادبیات پر څلورو دورو وېشلي دي.

## لومړۍ دوره

په دې دوره کې لرغوني مصري، بابلي، اسوري، باختري، پخواني چینایي، عبراني او لرغوني هندي ادبیات شامل دي. دا ادبي دوره له (۵۰۰ق.م) راپیل اوتر (۱۰۰۰ق.م) پورې رارسېږي. پاتې دې نه وي، چې هماغه مهال د پخوانیو شرقي هېوادونو ادبیات مخ پر وړاندې روان وو او غربي نړۍ د جهل په تورو تیاروکې ډوبه وه.

## دویمه دوره

دویمه ادبي دوره له (۱۰۰۰ق.م) رانیولې ان تر (۵۰۰) میلادي پورې رارسېږي. دا دوره د نویو مدنیتونو، فرهنګونو او مترقي افکارو هنداره ګڼل کېږي. د لرغوني یونان، روم او ورپسې د لرغوني باختري ادبیاتو پیلامه له دغه ځایه پیل مومي.

## درېیمه دوره

درېیمه دوره له (۵۰۰ م) پېړۍ را پیل او تر (۱۳۰۰م) پېړۍ پورې جریان پیدا کوي. په دې عصرکې روم خپل ځواک له لاسه ورکوي اوکلیسا پر ادبیاتو تسلط پیداکوي. په وروستیو پېړیوکې د اروپا لیکوال د علومو او فنونو زده کړې ته مټې رانغاړي؛ نوي بنسټونه رامنځته کوي، په ایټالیا کې د ادبیاتو د ودې لپاره زمینه سازي کېږي او بلاخره د رنسانس پېر ته لاره هوارېږي.

## څلورمه دوره

(c) ketabton.com: The Digital Library



څلورمه دوره په (۱۳۰۰م) پېړۍ کې پیل او په ایټالیا کې د رنسانس له پیل کیدو تر نه ادامه پیدا کوي. رنسانس په اروپا کې د نوي علمي، ادبي او هر اړخیز انقلاب نوم دی، چې اغېز او لاسته راوړنې یې په ټوله اروپا کې د پام وړ تغیر پېښ کړی دی. د اروپا معاصر ادبیات په خپل ذات کې پر نورو وړو او لویو دورو وېشل غواړي او ادیبان او لیکوال یې د نظر ژور اختلافات تعقیبوي. نو موږ له موضوع تېرېږو او پر خپله موضوع پیل کوو. (۷: ۹،۱۰م)

## لرغونی یونان او روم (لرغونې ادبي دوره)

کله چې د ادبیاتو او پوهنو بحث راپورته کیږي، نو د لرغونو مصریانو، سومریانو، یونانیانو او چینایانو نومونه د انسان ذهن ته راځي. دا هغه لومړني انسانان دي، چې د لیک او لوست لپاره یې ډېر زیارکښلی او د راتلونکو نسلونو د هوساینې لپاره یې د ارام ژوند زمینه برابره کړې ده. د قلمي او تصویري لیکونو پیدایښت د همدغو انسانانو د زیار محصول دي، چې د ونو پاڼو او د غوایانو پر څرمنو لیکل شوي دي. له میلاده (۲۰۰۰) کاله وړاندې سومریانو یو حماسي اثر درلود، چې ګیلګمش نومیده. ددې کتاب ارزښت دومره زیات دی، چې کله ناکله ورته د انسانانو د لومړني کتاب خطاب هم کیږي. چینایانو او مصریانو هم ورته نوښتونه کړي دي او د یونانیانو لپاره یې اصول ایجاد او د فرهنګ په انتقال کې یې رغنده رول لوبولی دی.

لرغونی یونان د نړۍ او په ځانګړي ډول د اروپا علمي، کلتوري او ادبي انقلاب زانګوګڼل کیږي. له میلاد نه تقریبا زر کاله وړاندې په یونان کې ادبیات منځ ته راغلي او پوهان یې د لویدیځې اروپا تر ټولو لرغوني ادبیات ګڼي. په دې عصرکې د انساني ژوند د بېلا بېلـو اړخونو په اړه خبـرې اتـرې

(c) ketabton.com: The Digital Library



او بحثونه ترسره شوي دي. پنځګر یې د ادبي ژانرونو (حماسه، تراژیدي اوکومیډي) په چوکاټ کې ولسي ستونزې او پرابلمونه راولاړ کړي او هم یې د اتلولیو پر ستاینې ښکلې پنځونې منځته راوړې دي.

لرغونی یونان د بېلو ادبي ژانرونو د پیدایښت ټاټوبي هم بلل کیږي. په دې عصرکې ډېر حماسي او غنایي اشعار د یونان ستر شاعر هومر (Homer) په لاس منځ ته راغلي دي چې یو یې ایلیاد (The Iliad) او بل یې اودیسه ( The Odyssey) نومیږي. هومر په دې اثارو کې د یونان د ولس د قهرمانیو، زړورتیاوو او په جګړهییز ډګرکې له مقاومتونو غږیږي او د یونان د ستر ولس ستاینه کوي.

د ټراي جګړه د الیاد او اودیسې اساسي موضوع تشکیلوي. الیاد د سپارټا او ټراي ترمنځ د پېښ شوي لس کلن جنګ د وروستیو شپږو اونیو بیان له ځان سره لري چې (۱۲۵۰ق.م) شا و خوا پېښ شوی دی. دا جګړې د ټراي د پاچا پریام د یو شپانه زوی پاریس په واسطه د سپارټا د پاچا میلانس د ښځې هلن تښتول وو. میلانس خپل ورور اګامنون ته امرکوي، چې د جګړې لپاره لښکر تیار او پر ټراي حمله وکړي. په دې جنګ کې د ډېرو اتلانو تر څنګ اکیلیز او د ایتاکا پاچا جنرال ادیسه یوس هم شامل وو. دوی یونیم میلیون لښکر او د زرو په شا و خوا کې کښتۍ تیاروي او د هلن د بېرته راوستلو لپاره ټراي ته ورځي او د لس کلن جنګ وروسته هلن بېرته له ځان سره راولي. هومر په دې کیسه کې د خپل ولس شجاعتونه او شهامتونه توصیفوي. (۱۰: ۵۰،۵۱م)

(c) ketabton.com: The Digital Library





د ټرای فتح د الیاد موضوع ده، خو په اودیسه کې هومر بیا د یونانیانو بېرته راتګ او د جنرال ادیسه لس کلن تریخ ژوند، سفر او ماجراوې انځور کړې دي. اودیسه د حماسې اتل دی، چې بېرته د راګرځیدو پر مهال له جادوګرانو، ارباب النوعو او هر ډول بلاوو سره مخ او ورته ستونزې جوړوي. پنسیلوپ د ده مېرمن په دې حماسه کې له نفسي او شیطاني وسوسو سره د مبارزې نوم خپلوي او تیاماخوس بیا د خپل پلار د موندلو لپاره له هرې وسیلې کار اخلي. تر شلو کلونو وروسته اودیسه کور ته رارسیږي او خپله مېرمن یې نه پېژني. بلاخره اودیسه نوی ژوند پیلوي او په دې ډول کیسه پای ته رسیږي. دغه کیسه د یونان لرغونی فرهنګ او فولکلور راپېژني او د یونانیانو د ژوند د اصولوپه هکله خبرې اترې کوي.

که څه هم په دې اثرکې د ارباب النوعو او اشباحو رول ته زیات ارزښت ورکړل شوی، خو بیا هم د یونان د ولس د ربښتیني ژوند بڼه لري، چې له دې امله ورته د نړۍ په ادب کې د ریالېزم لومړی اثر هم ویل کیږي.

په یوناني ادب کې تر حماسې او غنایي اشعارو وروسته تراژیدي، کومیډي، ډرامې او تیاتر د دوی ځای خپلوي. په (۷ ـ ۸ ـ ۹ ق.م) پېړیو کې هومر، هیسود، الکي پندار، ادرخي لوګ، اکسه، تیرتي، سولول او ته اګنیس ژوندکاوه. هومر حماسي او هیسود غنایي اشعار وپنځول او لـه دوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



وروسته په ترتیب سره اریستوپان دکومیډۍ او ایس خیل د تراژیدۍ اساس کېښود، چې ورته د تراژیدۍ د پلار لقب هم ورکړل شو او مشهور اثر یې اوریستي نومېږي. له ایس خیل وروسته سوپوکلي ستر او دویم تراژیدي لیکونکی دی، چې ورپسې یوروپیید ښودل شوی دی. پاتې دې نه وي، چې د (۴ ـ ۵ق.م) پېړیو په جریان کېږد ډرامې او تیاتر پېر منځ ته راځي. لومړۍ بېلګې یې د ایس خیل اثار بلل شوي دي. د یونان لیریک متنونه او شعرونه د ارخیلوکوس او د ساپو پخوانۍ شاعرې عشقي اشعار په میراث راپاتې دي.

لرغوني یونان په فلسفه، ریاضیاتو، نجوم، طب، سیاست، اخلاق، بلاغت، معمارۍ، مجسمه جوړونه، نثر، شعر او تاریخ لیکلو کې ځانته نوم او لومړیتوب خپل کړی دی. سوکرات، دیموکریت، اپلاتون او ارستو د نړۍ ستر فیلسوفان دي او هیردوت د نړۍ لومړی تاریخ لیکونکی پیژندل شوی دی. همدا یونانیان وو، چې د لومړي ځل لپاره یې د طبیعت راز راوسپاړه او د مادې د ماهیت، فکر، نیکۍ، حقیقت او ښکلا په اړه یې د پوهیدلو لپاره کوښښونه پیل کړل. دوی د انسانانو د ټولنیز او سیاسي ژوندانه د سمبالتیا په موخه خپل فکري ځواک پرکار واچاوه او بشر ته یې نوي فکرونه په میراث پرېښودل. (۳: ۱۰۸،۱۰۹م)

له دې وروسته رومیانو د سیاسي قلمرو د پراخولي او غځونې لپاره په څلورمه ق.م پېړۍ کې پر یونان حمله وکړه او د یونان وروستی ښار الاده یې ونیو. دلته د نظم په پرتله د نثر خوا غښتلې او ادبي انواعو له نثر سره روغبړ وکړ. د رومیانو تر پاچاهۍ وروسته ادبیات له لومړۍ ق.م پېړۍ راپیل او تر څلورمې میلادي پېړۍ پورې یې دوام وکړ. رومیانو زیاتې ادبي پنځونې کړې دي، خو د یـــونان ځای نشي نیولـی. د دوی اشعار ځانته خوند لري، چې پر

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپل ځای د ستایلو وړ دي. د پلاتوس او تېرېنتیوس کومیډیک اثارکه څه هم رومیانو ته منسوب دي، خو بیا هم له یوناني ادب څخه الهام اخلي. همدرانګه ویرجیلیوس او هوراتس په قصیدو او شعرونوکې د طبعیت په محتوا کې له ښکلا، مصاحبتونو، عاطفې، طنز، خنډونو او د انساني ژوند له معنویاتو غږېږي.

د دې دورې نثر بیا د طنز، ژوند لیکونو، فلسفې او د تاریخ لیکلو په خدمت کې واقع کېږي. رومیان بلاخره په څلورمه پېړۍ کې خپل سیاسي قدرت مخ په ځوړ ویني او ادبیات یې له ماتې وروسته په ټوله اروپا کې له مذهب سره روغبړکوي. پاتې دې نه وي چې د یونان او روم سترو لیکوالو او فیلسوفانو د ټولنیز ژوندانه په هکله د بېلو ادبي ژانرونو په وسیله ستونزې او ننګونې راولاړې او د مختلفو پوهنو او هنرونو لپاره یې اصول او قوانین وضع کړي، چې تر ننه د منلو وړ دي. د لرغوني یونان او روم تخلیقات، تحقیقات او تحلیلونه د نړۍ ستر ادبي او علمي میراثونه دي، چې پوهیدل پرې ضروري او لازمي دي.

د یوناني او رومي ادبیاتو اغېز یوازې په اروپا کې پاتې نشو، بلکې ټولو اروپايي او غیر اروپايي ادبیاتو ته یې لار بیامونده. یونانیانو د انسان ارزښت په خپلو لیکنوکې راونغاړه او د ادب په ملګرتیا یې پر وړاندې پرته خنډونه، ستونزې او نابرابرۍ له منځه یو وړې. د دې لیکنو اوکتابونو ارزښت دومره زیات دی، چې په ۲۱مه پېړۍ کې هم دکتې اخیستنې وړ بلل شوي دي. دوی پوهنې او هنرونه له تنګ چوکاټ څخه راوباسل او د ارتوالي لپاره یې پراخ قوانین وضع کړل. د دوی پنځونې د نړیوالو ادبیاتو لپاره الهام ښونکی رول ادا کړ او هر انسان چې ادب او پوهې ته لاس اچوي اړکیږي، چې لـه دغو

(c) ketabton.com: The Digital Library



لومړنیو اشخاصو او لیکنو سره یې ځان اشنا او له فکرونو، نوښتونو،ابتکاراتو او پوهنو یې ځان خبرکړي. (۱۰: ۲۷ م)

## مذهب او ادبیات (منځنۍ ادبي دوره)

د اروپا منځنۍ تاریخي دوره پر څلورو دورو وېشنه مومي. لومړۍ یې لرغونې کلاسیکه، دویمه یې منځنۍ، دریېمه یې د روښانتیا (رنسانس)او څلورمه یې معاصره دوره بلل کیږي، چې له (۱۶۰۰م) څخه پیل مومي. منځنۍ پېړۍ په معمولي ډول په پنځمه پېړۍ کې د روم امپراطورۍ له پایښت څخه د عثماني دولت په لاس د قسطنطنیې د سقوط او په (۱۴۵۳م) کال کې د رومي شرقي امپراطورۍ په پرځیدو سره پیلیږي.

دا منځنۍ دوره د اروپا په تاریخ کې یو مهمه دوره ده، چې له (۴۰۰م) څخه پیلیږي او تر (۱۴۰۰م) پېړۍ پورې ادامه پیدا کوي. په دې دوره کې دین د ټولنې پر مهمو برخو تسلط پیداکوي او سیاست، ټولنه او فرهنګ اغېزمنوي.

په منځنۍ پېړۍ کې د یونان او روم امپراطورۍ له پښو غورځیږي، دا حالات مسیحت ته لاره هواروي، ځو په ټولنیز او اقتصادي نظام باندې لاس بری شي. دلته د غلامۍ دور منځ ته راځي او دوه ډلې فیوډالیستان او دکرنیزو مزارعو او لویو بزګرانو مشران پر نورو د واک د چلولو لپاره ګډې هڅې پیلوي. دلته فیوډالېزم د یو سیاسي نظام او کلیسا د یو فکري نظام په توګه له یو بل نه ملاتړکوي، تر څو ولس په تیاره کې وساتي او دوی خپلو اهدافو ته دوام ورووبښي، خو په منځنیو کلونو کې دواړه ډلې (سیاست او دین) له یو بل سره ګډ فکري یووالی رامنځته کوي اوکلیسا پر سیاست هم

(c) ketabton.com: The Digital Library


واکمني تر لاسه کوي. دا به د طبیعت قانون وګڼو، چې کائنات په تېره بیا انساني قشرونه د تاریخ په بېلا بېلو دورو کې د تکامل او تحول په حال کې واقع کېږي، چې د تکامل دغه بهنځونه ساده نه، بلکې پیچلې بڼه لري. تاریخ شاهد دی، چې د اقتصادي، علمي، صنعتي، کلتوري، ادبي او ... پرمختګونو پر وړاندې بلاخره بیا داسې قشرونه، طبقې او ډلې راپیداکېږي، چې دغه مسیر له خنډ او ځنډ سره مخ کوي.

اروپا په منځنیو پېړیو کې د فیوډالېزم ښکار شوه. په دغه دوره کې پاپانو، کشیشانو، اسقافو او نورو مذهبي مشرانو هڅه کوله د غلامۍ دور د ایجاد او بقا لپاره د یو طرز تفکر او ایډیالوژۍ څخه استفاده وکړي. دوی انسان د طبیعت له مخې ګناهګار ګاڼه، نو د همدې اصل پر بنیاد یې ښه ګڼله چې انسانان دې ټول مال، حیوانات او نور با ارزښته توکي کلیسا ته وسپاري او پاتې ژوند دې په غرونو او سمڅوکې په زارۍ تېرکړي. دوی د انسانانو د لوړو خیالونه، فکرونه او اندونه د مذهبي اساساتو خلاف او د طبیعت په برخه کې یې څېړنې او پلټنې شیطاني وسوسې ګڼلې.

د اروپا منځنۍ ادبي دوره له پنځمې میلادي پېړۍ څخه راپیل او تر پنځلسمې پېړۍ پورې رارسېږي. د وزیري صاحب په خبره چې په دې دور کې پر لویدیځه نړۍ د ختیځې کلیسا بریالیتوب دی. پاپانو او اسقافو شاهي نظامونه میراثي ګڼل اوکلیسا پر دې بریالی شوه، چې د نظامونو هر رازکنټرول په لاس کې واخلي.

ادبیات اوکلتور د سیاسي، اقتصادي او ټولنیزو پېښنو په شان تحول او بدلون مومي، دا چې ادبیات له ژبې سره تړاو لري، نو لاتیني ژبه هغه مهال د اروپا مذهبي اوکلتوري ژبه ګڼل کېده او پر ادب د مذهب تاثیرات هغه څه دي چې سړی ترې سترګې نشي پټولی.د دولسم او دیارلسم قرن په جریان کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



اروپايانو د نوښتونو د رامنځته کولو لپاره هلې ځلې پيل کړې او له مختلفو ادرسونو څخه يې د برډګۍ د خلاصون او سيکولريزم د ايجاد او بقا لپاره د قلمي څواک څخه په استفادې ډېرې پنځونې وکړې. د ایټاليا داستاني ادبيات د شعر، نقاشۍ او رسامۍ په برخه کې نوي موضاعت شرح او بيان کړل، چې په دې سره يې د (رنسانس) ادبي دورې ته لاره هواره کړه. دانته، پتراکه، سونېټ او بوکاچيو د هنري ادب له لارې ټولنيزې ننګونې انځور او په پايله کې د غلامۍ دوره له منځه ولاړه. ادبيات او هنر په دې وتوانيدل، چې د اروپا د اشرافو او پاپانو دورې ته د پای ټکی کيږدي او د روښانتيا پېر ته لاره هواره کړي. (۳: ۱۲م )

## د رنسانس (روښانتيا) پېر

د رنسانس لغوي مفهوم د (نوي، روښانه او بيا راژوندي کېدو) مانا لري. د روښانتيا پېر د ۱۵م قرن په اواخرو کې د صنعت، ادبياتو او علومو بيا راژوندي کېدل ښودل شوي. رنسانس د نوي، کلتوري، ادبي او علمي انقلاب نوم دی، چې د نړۍ د تاريخ او په ځانګړي ډول په اروپا کې د انساني تفکر او ايديالوژيک بدلون سبب ګرځيدلی دی. (۱۱: ۵۸۰م)

د روښانتيا دور د پيل او پای په هکله پوهان سره يوه خوله نه دي، بلکې بېلو دورو او مهالونو ته ګوت څنډنه کوي. پال اوسکارکريستېلر ( Paul Oskar Kris teller) د رنسانس مخکښ څېړونکی په دې نظر دی، چې دغه دوره له (۱۳۰۰م) څخه پيل او تر (۱۶۰۰م) پېړۍ پورې ادامه پيدا کوي، خو نور څېړونکي يې بيا د پيدايښت او پايښت نېټه له (۱۵م) پېړۍ له اواخرو او د (۱۹م) پېړۍ ترمنځنيو لسيزو پورې جاري ګڼي. دغه بحث هغه وخت تود شو، چې ایټالوي ليکوال ياکوب بورکات خپل اثر (په ایټاليا کې د رنسانس تمـدن) په (۱۸۶۰م)کې له چاپه راوويـست. خبره دا وه، چې په ۱۹مه ميلادي

(c) ketabton.com: The Digital Library



پېړۍ کې ځینو څېړونکو داسې اټکل کړی و، چې ګواکې منځنۍ پېړۍ د تورې دورې نوم نه دی. دوی هڅه کوله د رنسانس مفهوم تر پوښتنې لاندې راولي، خو بورکات بیا په دې کتاب کې دکلیسا او پاپانو په لاس د انساني ارزښتونو او معنویاتو تتوالي او نشتون ته ګوت څنډنه کوي او په دې ډول د حقیقتونو ژورو ته دننه کیږي. (۱۲: ۱،۳م)

د ایټالیا د ۱۴مې او ۱۵مې پېړیو ادبیات د رنسانس د پیلېدو اساسي زړي تشکیلوي. فلورانس د ایټالیا تجارتي ښار و، چې د علمي، تاریخي او ادبي نوابغو ټاټوبی هم بلل کېده. همدلته پتر ارک، میکل انژ، لیوناردو داوینچي، رافایل، دانته او نورو شخصیتونو نړۍ ته سترګې پرانیستې دي او د رنسانس د پیل لپاره یې د پوهنو او هنرونو له لارې د ولسونو ویښتیا ته مبارزې او ترخه حقیقتونه انځور کړي دي، چې نمونې یې تر ننه راپاتې دي.

پتر ارک (۱۳۰۳-۱۳۷۴م) د ایټالیې ستر شاعر او د انسان پالنې (هیومانېزم) سېمبول ګڼل کیږي. نوموړی د خپلو اثارو له لارې د نړیوال ژوندانه د ښه والي پیغامونه خوروي، شاید لومړنی هنرمند به وي، چې له مودو وروسته په مقالو او اثارو کې د ښځې مقام بیانوي او لومړیتوب ورکوي.

لیوناردو داوینچي (۱۴۵۲-۱۵۱۹م) د ایټالیې په فلورانس کې زیږیدلی، چې مشهور ایټالوی مهندس، معمار او مجسمه جوړونکی شمېرل کیږي. دغه نامتو انځورګر د هغوکسانو له جملې شمېرل کیږي، چې د انسانانو څېرې یې د هغوی له رواني حالات سره برابرې ترسیم او د هنر په واسطه یې د انسانانو ناوړه کړنې، خویونه، او د روښانه نوي ژوند هڅې انځور کړي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library




رافایل (۱۴۸۳-۱۵۲۰م) یو بل نامتو ایټالوی مجسمه جوړونکی، لرغونپوه او انځورګر دی. د هغه هنري انځورونه د رنسانس د دورېستره لاسته راوړنه بلل کېږي، چې د فردي ازادۍ تصویرونه په کې بیان شوي دي.

میکل انژ (۱۴۷۵-۱۵۶۴م) د هیومانېزم ستر سرلاری، مجسمه جوړونکی، انځورګر او د معمارۍ ښوونکی دی. د انسان پالنې د انعکاس او ترویج په باب د انژ او رافایل ګډې هڅې د ستایلو او یادولو وړ دي. د انژ زیات فکري تمرکز د انسان پر جسم باندې متمرکز و او په ډېرو اثارو کې یې بشر پالنه په ځرګند ډول محسوس او د پام وړ یې هیومانېزم جوړاوه.

داوینچي، انژ، رافایل د هیومانېزم ستر هنرمندان بلل کېږي، چې د هنرونو او پوهنو په وسیله یې د خپل ولس حقونه راسپړلي دي. په اروپا کې د هیومانېزم له پیلېدیو سره سم په ۱۶مې او ۱۷مې پېړیو کې د نوي علمي انقلاب پر لور خوځښتونه پیل شول. فرانسیس بیکن (۱۵۶۱-۱۶۲۶م) انګلسي فیلسوف په تجربو، تمرینونو او تحلیلونو پیل وکړ. ستر فرانسوي ریاضي پوه او فیلسوف دکارت (۱۵۶۹-۱۶۵۰م) د ټولنیزو اندېښنو په درلودلو ستر حقیقتونه راوسپړل. دانته (دورانته) الیګیري (۱۳۲۱-۱۲۶۵م) ایټالوي شاعر، چې د اروپا نامتو هنرمندان او شاعران ورڅخه اغېزمن شوي، په خپل منظوم

(c) ketabton.com: The Digital Library


اثر (الهي کومیډي) کې د انسان پر روح بحث پیلوي او هغې بلې نړۍ ته د روح سفر او د اخرت اړوند پیچلې خبرې راخرګندوي. پاتې دې نه وي، چې یو شمېر پوهان د دانته دغه ادبي او مذهبي حماسه د سوریې مشهور عالم ابو العلای معري تقلید ګڼي. (؟)

بوګاچیو (۱۳۱۳-۱۳۷۵م) د ایټالیې بل لیکوال دی، چې په خپل اثر دکامرون کې یې زیات شمېر وړې کیسه‌ګۍ لیکلې او منځپانګه یې ټولنیز ناراضیتوب ښیي. همدرانګه جان میلتون (۱۶۰۸-۱۶۷۴م) انګریز مشهور حماسه لیکونکي هم ډېرې پنځونې کړې، چې د نوي ژوند او نوي پیل اړوند بحثونه په کې خوندي دي. (۱۳: ۱۷۹،۱۸۲)

فیودور داستایوفسکي د نړۍ تکړه لیکوال په نولسمه پېړۍ کې د امریکا د لویې وچې د موندنې را په دې خوا پر معاصرو ادبیاتو لنډه څېړنه کړې ده. نوموړي په خپل اثر (د ادبیاتو تاریخ) کې د سروانتس د رومان نوي سبک ته په اشاره سره ادبیاتو ته ورننوځي او د اروپا ادبي بهنځونه تر بحث لاندې نیسي. د هغه په اند په لومړۍ معاصره دوره کې د بویژه فلسفي اثر په فرانسه کې منځته راځي. ویلیام شکسپیر، جان میلتون او جاناتان سویفت د معاصرو ادیبانو په توګه راخرګندیږي او د ۱۸مې او ۲۰مې پېړیو تر منځ په فرانسه کې لوی انقلاب پیلیږي، چې په دې سره کیسه‌ییز ادبیات او بشرپالنه په پراخه کچه اوج ته رسیږي. دلته لارډ بایرون په اروپا کې له رومانتیکو خیالاتو او پنځونو سره د ادب میدان ته راځغلي او هانس ګریستیان انډرسن په ډنمارک کې لکه ځلانده ستوری ځلیږي. د امریکا، فرانسې او روسیې ستر لیکوال داستایوفسکي، تولستوی، مارک ټواین، انوردو، بالزاک او ویکتور هوګو په دغه دوره کې د انساني ارزښتونو د بقا او د ټولنیز ناراضیتوب له امله سـرونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



راپورته کوي او لیکنې او پلټنې کوي. دغه دوره تر نړیوالې لومړۍ جګړې پورې ادامه پیداکوي او دویمه معاصره دوره بیا له دویم نړیوال جنګ ان تر ننه پورې غځېږي. (۱۴: ۳م)

کلیسا په منځنیو پېړیوکې ادبیات، کلام، فلسفه او هنر د مذهب په تنګ چوکاټ کې ساتلي وو، د انسان نوي مترقي افکار یې شیطاني وسوسې ګڼلې او اروپا یې په علمي، اجتماعي او سیاسي لحاظ ډېره شاته ساتلې وه، خو رنسانس د منځنۍ دورې پر خلاف په ټوله اروپا کې نویو سیمه‌ییزو، تاریخي، فرهنګي، ټولنیز او هنري ابتکاراتو، نوښتونو او خوځښتونو ته لاره هواره کړه، چې په پایله کې په ټوله اروپا کې د فکر او بیان ازادي حاکمه شوه. ولسونه له ظلم او ستم څخه خلاصون پیدا کړ او په دې انقلاب کې د لیکوالو او هنرمندانو رول د پام وړ بدلون پېښ کړای شو.

## نړیوال ادبي مکتبونه

نړیوال ادبي مکتبونه د لویدیځې نړۍ (اروپا) د مکتبونو په نوم پېژندل کیږي. دغه ادبي ښوونځي د ۱۶ قرن څخه پیل ان تر ۲۰ قرن پورې ادامه پیداکوي. هر ښوونځی ځانته اصول او ځانګړنې لري، د مختلو سیاسي، ټولنیزو، کلتوري او فرهنګي شرایطو پر اساس ټاکل شوي چې پر ختیځ ادب یې په خاص ډول دکره کتنې په برخه کې ژور تاثیرات خواره کړي دي. د نړیوال ادب پرته شاید په عربي، پارسي، پښتو او ... ادبیاتوکې یو پنځګر، لیکوال او شاعر په غیر شعوري ډول په خپلو اثارو او اشعاروکې له غربي ښوونځیو سره ګډې ځانګړنې وپالي، خو دا خصوصیات به د ټولنیز خصلت او ماهیت له مخې وي. (۱۵: ۵م)

د ختیځ په پرتله په لویدیځ کې د شعر محتوا په فلسفي مسائلو، ژور ټولنیز درک او ځانګړو افکارو راڅرخي، خو شرق بیا په خپله شاعرۍ کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



احساساتو او غوښتنو ته ځای ورکړی، چې پرکوم خاص ادبي، فلسفي او فکري محور نه راڅرخېږي. ځینې فلسفي مسائل بیا په لویدیځ ادب کې نه تر سترګوکیږي، کوم چې ختیځ یې له ځان سره لري. لکه تصوف یا عرفان او داسې نور ...

په شرقي ادبیاتو د غربي ښوونځیو اغېز په شعوري ډول د شاعرانو او لیکوالو له لوري د نړیوالو ادبي مکتبونو مطالعه او د هغو د افکارو تقلید ګڼي، چې وروسته یې په خپلو اثاروکې په نا څرګند ډول بیان کړې وي. خو دا پر ځای او مننوکی دلیل نشې کېدای. موږ که چېرې د غني خان بابا اشعار وپلټو، معلومه به شي، چې نوموړی یو رومانتیک شاعر دی او دلیل یې په شعرکې بغاوت دی، چې دا د رومانتیک شاعر ځانګړی اصل دی. همداسې ریالېزم درواخله، چې د ختیځ زیاتره شاعرانو او لیکوالانو د همدې مکتب له قوانینو سره سم شاعرانه پنځونې کړي او د نړیوالو ریالېستانو په څېر یې د خپل ادب له ادرسه د پانګوالۍ نظام پر ضد د جګړې اعلان کړی او د خپل قلمي ځواک په کارولو یې د غریبې طبقې حقونه رامخې ته کړي دي. موږ سل په سلوکې د شاعر او نړیوال مکتب تر منځ نیږدې والی ته د تقلید نوم هم نشو ورکولی، خو د ځینو شاعرانو په برخه کې بیا پورتنی قضاوت د منلو وړ دی. (۱۶: ۲،۴م)

غربي نړیوال مکتبونه شاید د پښتو له ځینو مکتبونو سره ګډې ځانګړنې او اړیکي ولري، خو په کامله مانا د دغو مکتبونو اصول او قوانین پر پښتو او بل شرقي ادب د تطبیق وړ نه دي. د دې مکتبونو د زیږیدنې ټاټوبي اروپا او نور غربي هېوادنه ښودل شوي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## کلاسېزم

څنګه چې ادبیات، ښکلا، حقیقت، خوند، رنګ او سبک د تعریف په تنګ چوکاټ کې نه ځایېږي، همداسې ادبي ښوونځي هم د پېژندلو په برخه کې واحد تعریف نشي خپلولی. د لرغونې دورې نړیوالو ادیبانو په خپلو اثارو کې د ادبي مکتب اړوند تعریفونه او پېژندنې نه دي خوندي کړې او دایرة المعارف هم یوازې له تاریخچو پرته نور څه نه وایي.

دکلاسیک اصطلاح په علمي او ادبي لحاظ پر هغو ټولو اثارو اطلاق کیږي، چې د یو ملت د ملي افتخاراتو او ویاړنو استازیتوب کوي. د یو هېواد ادبي زیرونې چې ملي ارزښت ولري، کلاسیک ادب بلل کیږي. دکلاسېزم کلمه د لاتینې ژبې له کلاسیکوس (Classic us) څخه اخېستل شوې ده، چې د لومړۍ (عالي) درجې مانا او د لرغونو، پخوانیو، تاریخي او لومړۍ درجې ادبیاتو او اثارو ته کارول شوې ده. د لومړی درجې کلمه هماغو اثارو او لیکوالو ته کارېدله، چې لیکنو یې لوړ ادبي او علمي مفهوم درلود.

دا ادبي ښوونځی د ۱۷مې میلادي پېړۍ په اوایلو، په فرانسه کې په رسمي ډول منځته راغلی، ځینې نور یې بیا په انګلستان کې بولي، خو تر ډېره بریده حق له فرانسې سره دی. کلاسیک ادبیات هغه اثار په غېږه کې رانغاړي چې تل پاتې ارزښت ولري او هر مهال د ویلو او لوستلو لپاره لوستونکي ولري. لکه په پښتوکې د ستر خوشال، حمید مومند او رحمان بابا اشعار او اثار چې همېشنی ارزښت او لوستلو لپاره تل پاتې ذوق له ځان سره لري. (۵: ۱۵۵م)

کلاسېزم د اروپا لومړنی ادبي ښوونځی دی، چې په هنري، فرهنګي، ادبي او علمي لحاظ د یونان او روم له زړو ادبي ایجاداتو تقلید کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


کلاسېستانو په معمارۍ، موسیقۍ، مجسمه جوړونه او ادبیاتوکې نوښتونه رامنځته کړي وو. د دغه ادبي ښوونځي پیدایښت په ۱۴مه میلادي پېړۍ کې د هیومانېزم (بشرپالنې) دظهور پر مهال د غلامۍ او فیوډالېزم پر وخت تت راڅرګند او په اوولسمه او اتلسمه پېړیوکې اوج ته ورسېد او تر (۱۸۵۰م)کال پورې یې دوام پیدا کړ.

د هیومانیستانو ادبي اوکلتوري کړنې دکلاسېزم لپاره الهام ښښونکې شمېرل کېدې او لامل یې د رنسانس له پیل سره جوخت په څوارلسمه پېړۍ کې د سترو ایټالوي لیکوالو په لومړي ځل د یونان پخوانیو اثارو ته پاملرنه وه، چې د هر اړخیزو نوښتونو زړي یې وکرل. دغه لکیوال پټراکه، بوکاچیو او دانته نومېږي، چې په اثاروکې یې دکلاسېزم رنګ او خوند محسوسېږي. د ایټالیې په فلورانس او نورو ښارونوکې کلاسېزم راڅرګند شو او په اوولسم قرن کې په یو لوی خوځښت واوښت، فرانسویانو ومانه او د باروک پر وړاندې ودرید.

فرانسې د صنعتي انقلاب (۱۷۸۹م) نه وړاندې ډېر محدودیتونه درلودل. د قلم او انساني ازادیو نه شتون او په ښوونیزو اموروکې د دولت مداخلې ژبه او ادب د دربار په چوپړکې ساتلي وو. له بلې خوا ملي مطبوعات د ذاتي اصولو خلاف د اشرافیانو په ستاینه بوخت وو، نو همدا علت و چې د علماوو، ادب طرفدرانو له فکري او معنوي موضوعاتو سره کومه ځانګړې دلچسپي نه درلوده. ولس د لیکوالۍ مقام ته کوم ځانګړی ارزښت نه ورکاوه او د پاریس اشرافو، مالکانو او ممتازې طبقې پرته نور چا دکتاب او مطالعې غم نه درلود او لیکوال هم د حاکمې طبقې خلک شمېرل کېدل، چې په لیکنوکې یې د خپل ذوق اړوند سکالو ته ځای ورکاوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



او د ټیټې طبقې افکار، خیالات او احساسات یې په بشپړ ډول له پامه غورځولي وو. (۱۵: ۲م)

ولسي شاعران او نثر لیکونکي هم د دې دور پیاوړي مطرح کسان شمېرل کېدل، چې له درباري شاعرانو سره یې اساسي توپیر د لیکنو او اشعارو منځپانګه د لرغوني روم او یونان د ادبیاتو له تقلید څخه غږېدل ښودل شوي. په دې سبب فرانسویانو د یونان او روم له زاړه ادب سره بلدتیا پیدا کړه او په فرانسه کې یې رواج وموند. کلاسیک هنر په اصل کې هماغه د یونان او روم پخوانی هنر و، چې د فرانسې د اوولسمې پېړۍ شاعرانو او لیکوالو په خپلو اثاروکې ترې پیروي او د ارستو د عقایدو اقتباس په پام کې نیولو. په لومړي ځل فرانسوي بوالو دکلاسیک ښوونځي ستر مدافع او نقاد په (۱۶۷۴م) کال په یوه منظومه (د شعر فن) کې د دغه مکتب اصول او قواعد فرانسویانو ته بیان کړل. نوموړي د شاعر او لیکوال اصلي هنر دا ګاڼه، چې هغه اصول او قوانین چې په خپلو پخوانیو اثاروکې راوړي وو، په بشپړ ډول مراعات کړي، تر څو اثر یې وکولی شي د ښکلا مقام خپل کړي. د هغه په فکرشعر باید د طبیعت او عقل تابع واوسي او بس.

کلاسېزم یو فرهنګي او هنري خوځښت و، چې د غربي اروپا د ولسونو د زیار اوکار محصول یې بولي. د رومانتېزم او سېمبولېزم په باره کې کولی شو، د ټولې اروپا نوم واخلو، خوکلاسیک ادب بیا تر ډېره حده د اوولسمې او اتلسمې پېړیو له روانو ادبي جریاناتو غږېږي، چې په غربي اروپا پورې اړه لري.کله چې د منځینۍ اروپا د هېوادونو (المان، ایټالیې او هسپانیې) ادبپوهان د لرغوني دور د غنایي شعر، هنر، ادب، نثر او تیاتر په هکله خبرې او بحثونه کوي، نو د کلاسیک مکتب پر ځای د باروک کلمه کاروي او پـه

(c) ketabton.com: The Digital Library


دې ډول له کلاسیک ادب څخه ځان تیروي او ادعا کوي، چې کلاسېزم باید د باروک یوه برخه وګڼل شي. دا حقیقت دی، چې دکلاسیک مفهوم د باروک کلمه له ادب تاریخ څخه ایستلې او په خپله د اوولسم قرن ادبي جریانات غبروي، په نورو هېوادونوکې ځانته ځای پیدا کوي او د لرغوني تقلید پروسه سرته رسوي.

رومي څېړونکی اولیس جولیوس د دې عصر لیکوال په عمومي ډول پر دوو ډلو وېشي، یو ډله (کلاسیک لیکوال) او بله ډله (عامه لیکوالان) معرفي کوي. نوموړی کلاسیک لیکوال هغه ګڼي چې اثار یې د ټولنې د لوړې طبقې د مطالعې او لوستلو ذوق ولري. یعنې دغه صفت د وخت په تېرېدو واضحه مانا پیداکوي او په هغو اثارو باندې اطلاق کېږي، چې د نوي نسل د تربیت او روزنې لپاره په ټولګیوکې لوستل کېږي، نو ځکه ورته د کلاسیک ادب د سرلارو خطاب کېږي. دکلاسېستانو په اند د دوی اثار د پېړیو په تېرېدو هم خپل ارزښت ساتلی دی او له ژبې او ادب څخه نه دي غورځول شوي. لکه: د تولستوی، ګویته او پروست اثار چې د روسي، الماني او فرانسوي کلاسیک اثار بلل شوي دي. کلاسیک ادب د باروک او رومانتېزم د سبک پر خلاف پر احساساتواو خیالاتو نه بلکې پر عقل او منطق تکیه کوي. لرغوني رسمونه را اخلي او هڅه کوي پر مسیحي عقایدو یې تطبیق کړي. د دې دورې اثار د نظم او ساده توب پلوي کوي؛ عمومیاتو ته ترجیح ورکوي؛ د حقیقت ایډیال او ښکلا اړوند بحثونه پیلوي او د یووالي د ایجاد لپاره خپل نهایي کوښښ کوي. کلاسیک هنرمند پر دې باور لري، چې ټول شیان ویل شوي خو درک شوي نه دي. نو د همدې اصل پر اساس باید چې حقایق راوسپړل شي. ارستو د یونان ستر فیلسوف په

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپل اثر پوتیکا (بوطیقا) کې هنر د طبیعت تقلیدګڼي او باوري دي، چې د هنرونو تر منځ توپیر په خپله یو ډول پېښې دي. (۱۷: ۵۹م)

## دکلاسېزم تاریخي شالید

په غربي نړۍ کې کلاسېزم د لرغوني ادبي دورې نوم دی، چې لسګونه کلونه یې د ادبیاتو پر فضا پاچاهي کړې ده او دا تر ټولو اوږد عمر دی چې یو ادبي ښوونځی یې له ځان سره لري. د اوولسم او اتلسم قرن له کلاسیکو اثارو پرته دکلاسېزم څراغ خاموش پاتې نشو، بلکې د شلمې پېړۍ نامتو لیکوالو جان کوتکو او پل سارتر خپلو اثارو ته هم دکلاسیک ادب خوند رنګ ورکړ او ورسره د فرانسې د علمي طبقې د پام وړ وګرځید. د دې مکتب لومړۍ دوره د یونان لرغوني اثار دي، چې په پنځمه ق.م پېړۍ کې منځته راغلي او تر پنځمې میلادي پېړۍ پورې جریان پیدا کوي، دویم دور له پنځمې میلادي پېړۍ پیلېږي. غرب د یونان او روم له لرغوني تمدن او همدرانګه د لاتینې او یوناني ژبې سنتي اړخونه خپلوي. درېیمه دوره د اوولسمې او دیارلسمې پېړیو تر منځ د لاتیني ژبې له حاکمیت څخه غځېږي. لاتیني ژبه د پوهې او ادب ژبه ګڼل کېږي، غرب د اپلاتون او ارستوله افکارو سره بلدتیا پیداکوي او اروپایان دکلیسا پر وړاندې ودرېږي.

دیارلسم قرن له کلیسا د خلاصون، د هیومانېزم (انسان پالنې) د پیدایښت او د ادبي بیدارۍ پېر بلل کېږي. لاتیني ژبه د ظالمانه امپراطوریو د سقوط او د ملي افکارو د پیدایښت له بابته له پامه غورځول کېږي او ځای یې قومي ادبیات او بومي ژبې نیسي. څلورمه دوره د دیارلسم قرن له اواخرو او اتلسم قرن تر اوایلو پورې ادبي مسائل په برکې نیسي. په دې مرحله کې پر ملي او بومي ژبو ټینګارکېږي، انسان پالنه د دې عصر د پام زړی جوړوي او د

(c) ketabton.com: The Digital Library



ویښتیا افکار دلته خپل اغېزمنتیا شیندي. په پنځلسمه او شپاړسمه پېړۍ کې د ارستو او هوراس د شعر هنر تر نوم لاندې اثار مهم تاثیرات پیدا کوي، د لاتیني ژبې له کمزورتیا سره سم بومي ادبیات په مختلفو هېوادونوکې نوې بڼه غوره کوي او د وخت په تېرېدو هیومانیستي اوکلاسیکي هنر د ولسونو په ژبه له دوی سره روغبړکوي او په دې ډول د رنسانس لومړۍ مرحله په ایټالیا کې پیلېږي.

شپاړسمه پېړۍ د مخکښتیا او نویوالي نوم دی، په دې دورکې نوي فکرونه راټوکېږي، هنرمندان او ولسونه پوهنو او هنرونو ته لاس اچوي او د ترقۍ لوړو پوړو ته رسېږي. نوي ملي ادبیات راڅرګندېږي او فرانسویانو، په تېره بیا لوی پنځګر مونتني او رابله د خپلو ادبي نوښتنو له لارې دکلاسېزم مفهوم را ژوندی کوي او نړیوال ادیبان یې د همدې سبک لوی استادان ګڼي. د ۱۶مې او ۱۸مې پېړیو تر منځ کلاسېزم په ټوله اروپا کې د هېوادونو له سرحدونو تېرېږي او د هرې ژبې او ادب په محتوا کې ځانته ځای پیدا کوي. بلاخره په فرانسه،انګلستان، المان او ایټالیې سربېره په نورو هېوادونو کې هم ډېر لیکوال خپلوي. (۱۸: ۷۹،۷۲م)

## دکلاسیک ادب د اصولو پیدایښت

د هنر او ادب لپاره د اصولو ایجاد او پېژندل اړین دي. سترو ادبي څېړونکو رنسارد (Ronsard) او دوبله په دې اند وو، چې د پخوانیو هنري اثارو له تقلید وړاندې باید د هغوی نظریات مطالعه کړای شي. هغه اصول او قواعد چې دوی په خپلو اثاروکې راوړي، تر مطالعې لاندې ونیول شي او وروسته بیا پر خپلو لیکل شوو اثارو دغه قواعد تطبیق کړي. په دغه کارکې هسپانویان او ایټالویان له فرانسویانو وړاندې وو او د دې موضـوع په هکلـه

(c) ketabton.com: The Digital Library


یې بحثونه له (۱۵۹۶م) څخه تر (۱۶۴۰م)کلونو ترمنځ په هسپانیه کې پیل کړي وو. ایټالویانو هم د نوښتونو د موندلو او انساني اصولو د انعکاس لپاره هڅې ازمایلې وې، خو د څېړونکو په خبره چې فرانسویانو له هسپانوي خوځښتونو څخه کوم جوت تاثیرات نه دي خپل کړي، خو دا قضاوت بیا د ایټالویانو په حق کې معکوس دی. فرانسویانو د ایټالویانو په شاند ارستو له قوانینو څخه زده کړه کوله او د کلاسیک لومړی ښوونکی بوالو (Boileau) و چې په لومړي ځل یې د دې مکتب قوانین او قواعد فرانسویانو ته ور وښودل.

کلاسیک لیکوال په دې نظر وو، چې د دغو اصولو په رعایت سره کولی شي په خپلو اثارو کې د ښکلا څرک وویني. کوم اثار به چې له دغو قواعدو بې برخې و، کلاسیک اثار نه شمېرل کېدل. د کلاسیک مفهوم په هغه لیکوالو او هنرمندانو اطلاق کېده، چې په (۱۶۶۰م)کال د دغه مکتب پیروان بلل شوي وو. نني لیکوال او څېړونکي راسین (Racine) بوالو (Boileau)، مولېر (Moliere)، لافونټین (Lafontaine)، بوسوئه (Bossue)، لابرویر ( La Bruyeere) او مادام دولافایت (Mme de Lafayette) د کلاسیک مکتب پیرو ګڼي چې په ټوله مانا یې دغه اصول او قوانین مرعات کړي دي. ځینې نور محققین بیا پر دې اند دي، چې یوازې د (۱۶۶۰ ـ ۱۶۸۰م) کلونو پرته د دې مکتب اصول په نورو اثارو او اشعارو کې نه دي مراعات شوي.(؟) ( ۱۸: ۹۴م)

پایله دا شوه، چې فرانسویانو د غربي اروپا له پوهنو استفاده وکړه، زړې پوهنې یې را واخیستې او له هغو یې تقلید پیل کړ. هغه اصول یې زده کړل چې په دې پوهنو او هنرونو کې نغښتي و، بیا یې په خپلو اثارو کې رعایت کړل. دا اصول عبارت دي له: (طبیعت څخه تقلید، راونـي او ساده ګي، د عقل او احساساتو تر منځ تناسب، فصاحت او بلاغت، د اخلاقو اصالت،

(c) ketabton.com: The Digital Library



لنډون او ایجاز، له زمان او زړو پوهنو زده کړه، مذهبي او اخلاقي مسائلو ته توجه) او داسې نور ... .

دا اصول دکلاسېستانو په اثاروکې په څرګند او ښکار ډول مراعات شوي دي. د یونان ستر فیلسوف ارستو د ذکر شویو اصول پرته یو بل قانون ته چې د درېګوني قانون (وخت، ځای او عمل) یووالی یې باله، اشاره کوي، چې دا دکلاسیک ادب نورې ځانګړتیاوې په ګوته کوي.

## اصول او قواعد

هر نړیوال ادبي مکتب ځانته ځانګړتیاوې لري، چې له نورو ادبي مکتبونو جوت او بارز توپیر پیدا کوي. کلاسېزم هم په لاندې اصولو له نورو ادبي مکبتونو خپله لار بېلوي.

## د طبیعت تقلید

د چاپېریال پېښې او پالنه دکلاسیک ادب مهمه ځانګړنه په ګوته کوي. هرکلاسیک لیکوال په خپله لیکنه کې له قانون او قاعدې سره سم باید د چاپېریال پېښې او انځورونه وکړي. د دې اساسي رکن د مانا په هکله هېڅ یوه واحده او منل شوې توضیح نه لیدل کېږي. فرانسوی نیکولا بوالو (۱۶۳۶-۱۷۱۱م) په (د شعر فن) کې د طبیعیت په اړه لیکي: ((حتی یوه شېبه هم له طبیعت څخه نه یم غافل شوی.)) (۹: ۳۷۴م) د بوالو هدف ممکن دلته دا وي، چې د لرغوني دور په شان طبیعت د هنر لپاره دکار محور وګرځوي. فیلسوف ارستو هم په پوتیکا کې هنر د طبیعت تقلید ګڼي او د هنرونو تفاوت په خپله یو ډول تقلید ښیي. ګتشد (۱۶۷۷-۱۷۰۰م) د جرمني ستر نقاد وایي: ((د انساني چاپېریال او ذهن توانایي هماغه ده، کوم چې دوه زره کاله

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښخوا وه.نو په دې سبب له شعر څخه خوند اخېستنه هم باید هماغه شان وي، چې لرغونو ولسونو انتخاب کړې وه. کلاسیک هنرمندان په دې معتقد دي، چې په چاپېریال کې هر څه ویل شوي، خو د انسان په ژوندکې مهمه مسله دا ده چې هېڅ څه په ټوله توګه نه دي درک شوي، نو د همدې اصل پر اساس باید چې حقیقتونه همېشه تکرار شي.)) کلاسیکو هنرمندانو د یونانیانو او رومیانو د اثارو پیښې کومه بندګي او غلامي نه، بلکې په دې نظر وو، چې دغه اثار له ځان سره ډېر نوي څه لري، چې په ویلو ارزي.

دلته یو بل ټکی چې د نظر اختلاف راپاروي، له طبیعت څخه د تقلید په برخه کې دنورو ادبي سر لارو ادعاګانې دي. ویکتور هوګو د رومانتېزم ستر پیرو چې له کلاسېزم سره په مخلافت کې ولاړ دی، د طبیعت په اړه یو نظر څرګندوي او لیکي: ((نو بس طبیعت !! طبیعت یعنې حقیقت.)) همداسې سپاس زولا د ناتورالېزم بنسټپال ادعا کوي، چې د طبیعت په نوم یې نوي څه ادبیاتو ته ور دننه کړل. خوکومه خبره چې روښانه او بېله ده، هغه د تقلید دغه بهنځ د هر یو ادبي ښوونځي څخه په مختلفو لاملونو توپیر پیداکوي. زیاتره شاعران او هنرمندان خپل اشعار، انځورونه او تابلوګانې له طبیعت څخه غوروي، خوکلاسیک تقلید له نورو پر دې بېلیږي، چې انځورونه یې څرګنده وي. د حقیقت د انتقال بهیر په پراخه کچه سرته رسوي؛ د انځور دننه پرته واقعیتونه رابرسیره کوي؛د هغې صورت ټولنې ته ښیي، تر څو ټولنه د چاپېریال په راز پوه شي. په کلاسېزم کې پنځګر یا هنرمند باید د تقلید شپیلۍ له انساني طبیعت څخه وغوروي او هر څه چې بیانوي، د پراخو جزیاتو پرځای یې لنډ بیان کړي. د طبیعت انځورول باید د واقعیتونو هغه کامل صورتونه ترسیم کړي چې د بشریت له ارمانونو او هیلو سره تړلي وي.دلته د پام زړی دا دی چې که چېرې مونږ د چاپېریال له انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library



ولو غږېږوو، موخه به مو انساني طبیعت وي. یعنې کلاسیک هنرمند د ټول طبیعت تقلید نه کوي. خبره دا ده، چې په (۱۷)مه پېړۍ کې هغه طبیعت چې وروسته یې جان جاک روسو کشفوي، نه دی پېژندل شوی. د دې پېړۍ لیکوال سانت اورمون (Saint Evremond)په دې اړه وایي:((گفتاری که در ان فقط از درختانو رودها و چمنزارها وکوهها و باغها سخن رودؤ اثر رخوت اوری در ما دارد یا حد اقل، لذت تازه ای ایجاد نمی کند اما انچه از بشرین گرفته شده است، از قبیل تمایلات و محبت ها و تاثرات ، طبیعتا در اعماق روح ما نفوذ می کند و احساس می شود، زیرا زائیده طبیعیت واحدی است و باسانی از روح هنرمند به روح خواننده یا تماشاگر منتقل می شود.) (۱۳:،۹۸م)

د انساني طبیعت په اړه بله پوښتنه د ستاینې مطرح کیږي. دلته کلاسیک هنرمند غواړي، له هغو صفتونو چې حقیقي بڼه او په انسانانوکې شتون لري، څرګندکړي یا نه. خو بوالو له دغه کار څخه ډډه کړې ده او له دې جوتیږي، چې د انساني صفت له ستاینې سره جوړ نه دی راغلی او عقیده لري، دغه صفات په حیواناتوکې هم موجود دي، خوکوم مشخص توپیرونه چې انسان او حیوان سره بېلوي، ډېر لوړ او د تشریح او څرګندتیا لپاره یې باید فکرونه پکار واچول شي. د بوالو په اند حیوان اسیر او انسان حاکم پر حیواناتو دی. د انسان هغه صفات باید تر بحث لاندې ونیول شي، چې زر تېرېدونکي نه، بلکې تل پاتې وي. دغه همېشني صفتونه د انسان په روح کې ځای لري، لکه: مینه، حسد، غوښتنې او ... .

په پایله کې دومره لیکم، چې کلاسېټ د بشریت له داخلي طبیعت څخه غږېږي او د خارجي چاپېریال هغه برخې تمثلوي چې له روحي ذوق سره ګډېږي اړیکې وپالي. نـور ادبـي ښوونځي لـه باندیني چاپېریال څـخه ډېـر

(c) ketabton.com: The Digital Library


تاثیرات خپلوي، خوکلاسیک هنرمندان بیا خارجي طبیعت یعنې منظرو ته دومره لوړتیا نه ورکوي او د څو محدودو کرښو له لیکلو پرته نور څه نه لیکي. دوی انسان ته له باندیني محیط څخه زیات اهمیت ورکوي او انساني خیالات، احساسات، جذبات، مینه او عواطف څېړي او دا ډول بحثونه د خپلو لیکنو په منځپانګوکې ګدوي. بلاخره ویلی شوو چې کلاسېزم د انساني طبیعت د انځورولو یو لوی ادبي پېر دی. (۱۹: ۱، ۲م)

## له زړو هنرمندانو تقلید

دا حقیقت دی، چې له چاپېریاله نېغ په نیغه او بې له واسطې تقلید، زده کړه او پېژند اسان کار نه دی. طبیعت تل له ځان سره داسې پېچلي مسائل لري، چې پرې پوهیدل ډېرې ځیرکتیا او خوارۍ ته اړتیا پیښوي. پخواني ولسونه پر دې توانیدلي وو، چې دغه راز پیدا او بیا په خپلو اثاروکې ترې استفاده وکړي. کلاسیک هنرمندان په پخوانیو (یوناني، رومي) اثاروکې د تل پاتې ښکلا لټون او پېژندانه غواړي. د دوی په فکر نوي اثار شاید ښه وي یا بد خو ډېر ژر د خلکو له فکرونو لوېږي، یوازیني اثار چې تل پاتې ارزښت خپلوي، د ویرژیل د (انشی) او د اورپیدیز (ویفي جیني) په شان نور شکهارونه دي، چې له (۲۰۰۰)کلونو وروسته هم د لوستلو لپاره ذوق او علاقه راجلبوي. دکلاسیکې دورې لیکوال په دې هڅه کې دي چې دغه زاړه اثار چې په ښکلې سبک لیکل شوي پیښې وکړي، هغه نوښتونه ابتکارات چې دوی کارولي زده او په خپلو اثارو او اشعاروکې ترې استفاده وکړي، نو د کلاسیک ادب پیروان هم د زړو اثارو له موضوع، سبک او فن څخه زده کړه پیلوي او د دې لپاره چې اثار یې دکلونو لپاره ژوندي پاتې شي، په خپلو پنځونوکې ترې نه استفاده کوي. د یادولو وړ ده، چې راسین له اورپیدیز او

(c) ketabton.com: The Digital Library



لافونټین له وپ ځخه د تقلید مرحله پای ته رسولې ده. دلته یوه بله دا خبره اړینه ده، چې د زړو اثارو پیروي د غلامۍ په مانا نه، بلکې د موضوعاتو محتوا ته چې پخوانیو لیکوالو او هنرمندانو یې ذکرکړې دي، نوی رنګ او نوي مانا ورکول دي. هر هغه لیکوال چې دغه مرحله سرته رسوي، مجبور دی له غور او دقت څخه کار واخلي. د هرکلاسیک هنرمند په خوله یوه خبره ډېره کېږي.((هر څه ویل شوي، یعنې څرګند شوي دي.)) خو لیکوال الن بیا په دې نظر دی چې:((د بشر د ژوندانه جالبه خبره دا ده چې هر څه ویل شوي، خو هېڅکله په کامله توګه درک شوي نه دي.)) (۱۳: ۱۰۱م)

دکلاسیک ادب لیکوال د لرغونو اثارو کرکټرونه، ایډیالونه، مفکورې او موضوعات را اخلي او د اثارو په منځپانګه کې دغو نوښتونو ته ځای ورکوي. په کومه لار چې د ویرژیل قهرمان، ډایډن او د اورپیدیز قهرمان، اندرومک د مینې ښار ته ننوځي، په هماغه لار د اوولسمې پېړۍ لیکوال خپل قهرمانان دغه ښار ته دننه کوي او هلته پرې د مینې اور بلوي. راسین د هغو لیکوالو په کتارکې ودرېږي چې د زړو دغه پېښې یې کړې دي. هغه د اتن او رومي ادبي ذخیرو ته په پام سره دا چل زده کوي، چې څنګه کولی، شي د هغو په شان په خپل تیاترکې د ولس له سترګو اوښکې بهیدل ووینې او بلاخره ځان پرې د ادب ځلانده ستوری جوړکړي. (۲۰: ۳،۲م)

## عقل او منطق

دکلاسیک ادب له ډلې یو تن پنځګر په دې اند دی، چې زه یوازې په هغو مواردوکې د پخوانیو لیکوالو تقلید منم اوکوم، چې له عقل سره مطابقت ولري. دکلاسیک ادب پلار نیکولا بوالو هم په (شعر پوهنه) کې وایي: (( له عقل او منطق سره مینه ولرئ؛ ښې ښکلاوې ترې زده کړئ؛ خو

(c) ketabton.com: The Digital Library



اثر مو لا ښکلا بیامومي.)) دکلاسېسټانو په اند له عقل څخه پیروي دوی په هغه شان چې پخوانیو لیکوالو په خپلو هنري اثاروکې کړې ده، تعقیبوي. پر عقل او هوش باندې ډېر ټینګار د هغې زمانې د اصولو یوه برخه وه. فیلسوف دکارت دې ټکي ته اشاره کوي او وایي: ((عقل پالنې د هغه وخت د پوهانو د فکر زړی جوړ اوه.)) (۲۱: ۴م) د یادونې وړ ده چې کلاسیک لیکوال تخیل، احساس او هیجان ته ډېره پاملرنه نه کوي او پرته له څو محدودوکرښو نور څه ورباندې نه لیکي.

کلاسېسټان هڅه کوي، عقل او منطق تل پر احساساتو او خیالاتو پورته وښیي. دلته دکلاسېزم له ایجاد سره سم په ټولنوکې د تفلسف او تعقل بازار ګرم دی او له بل لوري د فلسفي مکتبونو اغېز هر چېرې خور دی، په دې اساسي وخت کې هنر هم له عقل او منطق څخه نشي محرومیدلی، دوی ځکه د انسان تله درنه ښیي، چې د نورو ژوندیو موجوداتو په توپیر د عقل او تفکر قوه لري، نو پر دې اساس بشر پر نور حیواناتو غوره او لوړ معرفي کوي. د بوالو په خبره چې کلاسېسټان باید منځنی حد په پام کې ونیسي، دلته له عقل څخه هدف راسیونالیستي عقل دی چې دکارت هم په خپله فلسفه کې ترې یادونه کړې ده. د اوولسمې پېړۍ په شاو خوا کې کلاسیک لیکوال مجبور شول، چې د ارستو لاره خوشي او د عقل اصلت ته پرې لوړتیا ورکړي. دوی د انفرادي عقل پر ځای د نړیوالو او ټولیزو طبقو د عقل پر اساس اثار لیکي او عقلي او اخلاقي ډول پنځونو ته ادامه ورکوي.

انګلستان د عقل پالنې په برخه کې لومړی خوځون پیل کړ. په عقل او منطق باندې عقیده دکلونو لپاره وغځېده، خو په فرانسه کې اخلاقیونو او شاعرانو (کلاسیټانو) مخلافت ورسره کاوه. د لومړنیو کلاسېسټانو ډېر تاکید

(c) ketabton.com: The Digital Library



پر عقل او منطق و، خو وروستیو لیکوالانو بیا د دې اصل پر توپیر ورو ورو د انسان داخلي نړۍ انځورولو ته مخه کړه. د انسانانو هیلې، ارزوګانې، غوښتنې، خیالات، احساسات او جذبات یې په اثارو او اشعارو کې د عقل د اصل سره جوخت انځور کړل. دلته یوګډ ترکیب رامنځته شو، خو توپیر یې پر ځای او نه هېروونکې بڼه خپله کړه. (۹: ۳۷۸م)

## کمال او برابري

هغه تفاوت چې کلاسېزم له نورو ادبي خوځښتونو بېلوي، د تعادل د موندلو ژورې هڅې دي. کلاسېستانو د دغه اصولو په رعایت سره خپلې پنځونې داسې ترتیب کړې دي، چې د پېښو تر منځ یو ډول برابري ښيي او د موضوعاتو د ټولو اړخونو په ښوولو سره د اعتدال او برابرۍ اصل مراعاتوي. کلاسیک هنرمند د همدې اصل د رعایت لپاره د سختۍ او اسانۍ، خوند بې خوندۍ، غم او خوشالۍ ... تر منځ یو ډول تعادل ساتي، چې له دې طریقه بیا ځان دکمال درجې ته رسوي. دلته موږ یوه خبره زده کوو، هغه دا چې کلاسیک لیکوال د اعتدال او برابرۍ د غوراوي لپاره ډېر زیارونه ایستلي او دغه اصول یې مراعات کړي دي.

## ښکلا او زده کړه

ښکلا د هر هنري او ادبي اثر د ملا تیر جوړوي. په کوم اثر کې چې ښکلا، عاطفه، مینه، زړه سوی او مهرباني نه وي ځرګنده ده، چې د لوستلو لپاره به ذوق ونه لري. کلاسیک پنځګر هم له دې سره سره بیا هم یوازې د یو اثر په تکمیل کې د هنریت رول کافي نه ګڼي. بلکې وایي هر اثر باید د یو پیغام په لرلو زده کړه‌ییز او اخلاقي مسولیتونه سرته ورسوي. دا یو معلوم

(c) ketabton.com: The Digital Library



حقیقت دی، چې لیکوال خپله لیکنه د لوستونکو لپاره کوي، همدا لوستونکي د ټولنې مختلف قشرونه جوړوي. اثر د همدغې ټولنې له منځ څخه جوړېږي او په کې ورځېني پرابلمونه، ستونزې او یا واقعات پېښېږي. لوکرس (Lucrece) وایي:

(( ترخه دوا ماشومانو ته په هغه لوښي کې ورکوي، چې چار چاپېره ترې خواږه راتاو وي، ماشوم له خوږو سره مصروفېږي او بلاخره دې ته چمتو کېږي، چې ترخه دوا وخوري.)) کلاسېستان په دې باوري وو، چې ادبي اثر د ښکلا تر څنګه باید یوه اخلاقي بڼه ولري. کلاسېزم د ټینګ وعظ او نصیحت ښوونځی نه، بلکې یو اخلاقي مکتب دی چې په ساده بڼه په پوهنیز نظام کې شته توپیرونه په ګوته کوي، په ښوونیزو امورو کې د هغو روېشونو ستاینه کوي، چې ولس ته د منلو وړ وي او په ګټه یې وي. (۱۳: ۱۰۳م)

## ساده‌ګي، څرګندتیا او لنډون

کلاسېزم کامل اثر هغه ګڼي، چې ساده، واضح، لنډ او څرګند وي. له لنډون او ساده توب یې هدف د هنري اثر په محتوا کې د جملو اوکلماتو کارونې او زیرکتیا ته اشاره ده. کلاسېستان په ساده روانه ژبه او لنډو ټکوکې د مفهوم لېږدول غواړي.د کلاسیک ادب ژبه پراخه نه ده او لیکوال یې له محدودو کلماتو کار اخلي، لکه راسین چې په خپل اثرکې یې له اتو سوو ډېر کلمات نه دي کارولي.

کلاسېستان د اصطلاحاتو په استعمال کې له ډېرې سختۍ‌کار اخلي او د کلاسیک سبک له اصولو سره سم مفهوم په ښکاره او لنډه توګه بیانوي. ډرامه چې تر دوه زره بیتونواو پندونه چې له دوو کرښو زیات شي، اوږده یې بولي. دوی د هر لیکوال او پنځګر اثر د امکان تر حده په یو او د موضوعاتو

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پراخوالي له کبله کولی شي، پر دوو جلدونوکې خپله سکالو بیان کړي. او پر منځپانګه یې د ولتر معقوله (باید هېڅ بې ګټې خبرې ونه لیکل شي.) تطبیقوي. (۹: ۳۷۹م)

## حقیقت

په کلاسیکو اصولوکې حقیقت ځرګندونه پر ټولو اصولو عالي مقام لري. یوناني فیلسوف ارستو د خپل اثر (پوتیکا) په نهم څپرکي کې د دغې موضوع اړوند ځینې کرښې او تعریفونه کښلي دي، چې له پېړو وروسته نورو لیکوالو ترې اقتباس کړی دی، ارستو لیکي:

((له شکه پرته چې شاعر له هغه څه چې پېښ شوي دي، څه نه لیکي، بلکې له هغه څه غږېږي، چې د ضرورت یا حقیقت د ځرګندولو وړ وي. شاعر او تاریخ لیکونکی په دې نه بېلیږي چې شاعر نظم او تاریخ لیکونکی نثر لیکي، بلکې تر منځ یې بنیادي توپیر دا دی چې مورخ هغه څه لیکي چې پېښ شوی وي، خو شاعر بیا هغه حالت بیانوي، چې د نوموړي د تخیلي ځواک په مټ پېښ کړای شوي وي. شعر له کلیاتو او تاریخ له جزیاتو بحث کوي. کل هغه څه ته وایي، چې هر انسان د خپل روحي ذوق مطابق د اړتیاوو او حقیقت د ښکاره کولو پر اساس ویل کیږي، پر شعر دا ډول خاص نوم د تطبیق وړ دی.)) (۱۳:۱۰۶م)

ارستو په لیکنوکې حقیقت ښودنه غواړي اوکلاسیک ادیبان یې تر ډېره حده مني. د وخت ځینې نور لیکوال بیا د ارستو دغه اصل تر پښو لاندې کوي او ادعاکوي، چې نشي کولی د ادبیاتو په ټولو برخوکې د دغو اساساتو رعایت وشي. دوباریک په کال (۱۶۵۷م) کې د تیاتر په برخه کې د دې موضوع په هکله دا ډول ځرګندونې کوي:((حقیقت د ډارمې موضوع نشـــي

(c) ketabton.com: The Digital Library



جوړېدلی، ځکه چې ډېر حقیقي شیان شتون لري، خو د ښودلو لپاره باید وړاندې نشي او نه هم باید د تیاتر موضوع وګرځي. د دې کار دلیل د ډېرو شیانو ترسره کولو امکان، خو ښودنه یې بیا خندا راپارونکې وي.)) (۱۳: ۱۰۷م)

هر اثر بایدګټور وي، زده کړه‌ییزه بڼه ولري او لیکوال یې د خپل قلمي ځواک په مرسته د اخلاقي او اصلاحي هدف د ترلاسه کولو او د ولسونو لپاره د حقیقت په ښکاره کولوکې اغېزمن واقع شي. په هنر کې حقیقت هغه دی، چې د عمومي قشرونو فکري یووالی خپل کړي. نو له دې طریقه کلاسېسټ باید د حماسې یا هنري اثر قهرمان داسې ځوک وټاکي، چې خوی یې له موضوع سره ورته والی ولري. باید له پامه ونه غورځول شي چې اتل د بشریت د احساساتو ښکارندوی او د سمون او اصلاح لپاره جوت پیغامونه لیږدوي.

## ادبي سپېڅلتیا

ادبي نزاکت دکلاسیک ښوونځي له مهو اساساتو حسابیږي. یو اثر باید په اخلاقي او تاریخي لحاظ هغه مسائل بیان کړي، چې ټولیزو ککریو ته د منلو وړ وي. هر راز لیکنه باید له ځان سره سپېڅلیتا ولري، اجازه ورنه کړل شي چې قلم چلوونکی انساني ارزښتونه قرباني کړي. دلته ډېروالی یا کموالی د لیکوالۍ له اصولو سره خیانت او اعتدال یې حق ګڼل ګیږي، خو دا چې د کلاسېزم ظهور د فیوډالېزم پر مهال شوی، څرګنده ده، چې د اشرافو یا لوړې طبقې د ستایلو لپاره به ډېر څه لیکل شوي وي. بیا هم کلاسیک ادب د یو نوي شکل د نېولو لپاره هڅه کوي او ورو ورو د انسانیت تر منځ د شته تاوتریخوالي مخه نیسي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دريګونی قانون

د يووالي له دريګوني قانون هدف د (موضوع، وخت او ځای) يووالی دی. داقانون دکلاسيک ادب له مهمو اصولو شمېرل کيږي، چې له يوناني ادب په تېره بيا د ارستو له اثارو په ميراث را پاتې دی. کلاسېستان په دې عقيده وو، چې د هر هنري او ادبي اثر دننه دغه قانون بايد مراعات شي او هغه اثر چې له دغې قانون څخه مستثنی وي، نشي کولی د کلاسيک ادب په کتارکې ودريږي. پاتې دې نه وي چې دا قانون په تراژيدی کې ډېر محترم دی.

## د موضوع يووالی

هر اثر روښانه او څرګنده موضوع لري، پر هماغه ټاکلې موضوع بحث کوي. د موضوع له يووالي هدف هغه فرعي او اضافي حوادث دي چې بايد اصلي موضوع ته وردننه نشي. ارستو په پوتيکا کې دا موضوع څېړلې او په اند يې د موضوع يووالی هېڅ کله د داستان د يو قهرمان په ټاکلو نه تر لاسه کيږي، ځکه يو سړی په ژوندکې له ډېرو پېښو سره مخ کيږي، نو له دې امله په اصلي موضوع کې دننه نورې وړې پېښې هم بايد له پامه ونه غورځول شي. هر ليکوال بايد د قهرمان يوه داسې پېښه انځور کړي، چې وړې برخې يې له اصلي موضوع سره په ټکر کې واقع نشي.

## د وخت يووالی

دغه اصل هم د نورو په شان له ارستو راپاتې دی. ارستو وايي:(( تراژيدي د امکان تر حده بايد خپل ځان په يوه شپه او ورځ کې ورک کړي او بايد چې له دې حدودو تجاوز ونه کړي.)) په ډرامه کې پېښېدونکي واقعيتونه بايد هغومره ژوند ولري چې د وړاندې کيدلو پر مهال ورکول شوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



وي. د کلونو او پېړیو پېښې په ډرامه کې ځایول د ځلورو یا پنځو ساعتونو کار نه دی او د نمایش پر مهال د پېښو او واقعاتو د اجراء ناسمه موده تراژیدي له عادي حالت څخه ګونګ حالت ته بیایي.

## د ځای یووالی

دمکان د یووالي په هکله ارستو څه نه دي ویلي، خو ایټالوي عالم ماګي دغه بحث په (۱۴۵۵م) کې راپورته کړی. نوموړی دغه اصل د وخت له یووالي څخه اخیستونکی بولي.که چېرې د ډرامې موده لنډه او په هغه ځایونوکې چې حوادث پېښېږي له یو بل څخه ډېر لرې وي تراژیدي خپله طبیعي بڼه له لاسه ورکوي، نو له دې طریقه د امکان تر حده باید چې یوه واقعه په یو واحد مکان کې پېښه شي. تراژیدي هغه وخت اغېزمنتیا شیندي، چې جامع نظم ولري. که چېرې یوه پېښه په مختلفو وختونو او ځایونوکې د کرکټرونو له لورې تمثیل شي، خوند او رنګ یې نه پاتې کیږي. په لومړیوکې د ډرامې د ننداري لپاره یو معلوم او واحد مکان ټاکل کېده، لکه یوه جزیره، یو ایالات او یا یو ښار. دوی داسې ځای غوره کاوه، چې له ۲۴ ساعتونو یې د تګ راتګ سفر نه اوږدیده. په (۱۶۳۵م) کال کې شاپلن دغه اصل له پامه وغورځاوه.(۱۳: ۱۰۹م)

پاتې دې نه وي، چې په (۱۷۷۰) میلادي کال د دریو وحدتونو دغه قانون حتمي او قطعي وګڼل شو. هوراس په شعر پوهنې کې پر درې ګوني قانون سربېره له ځلورم قانون څخه هم غږېږي. که د هوراس دغه اصل ته پام وشي، شاید مختلف کمیډیک او تراژیدیک اثارکلاسیک مفهوم له لاسه ورکړي. پر درې ګونې قانون د پوهاوي لپاره د لوی استاد روهي صاحب نظر را اخلو چې په اړه یې لیکي: (( کلاسیک لیکوال باید په خپل اثر کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



(د موضوع یووالی، د زماني یووالی او د ځای یووالی) مراعات کړي. په دې ډول چې لیکوال مجبور دی، په خپل ادبي اثرکې ټوله موضوع په یو وخت او یو ټاکلی ځای کې راولي او یوازې د یو عمل شرح او بیان وکړي. له یوه وخت نه بل وخت ته، له یوه ځای نه بل ځای ته او له یوه عمل نه بل عمل ته انتقال ونه کړي... .)) (۹: ۳۸۱م)

د روهي صاحب له خبرې داسې معلومیږي، چې کلاسېستانو په ادبي اثارو او علمي پنځونوکې دغه درې ګونی قانون مراعات کړی دی. دا قانون د موضوع په لحاظ باندني موضوعات د اصلي موضوع منځ ته نه پرېږدي، خو د اړوندې موضوع په محتوا کې پرتې وړې پېښې او ایډیالونه انځوروي. د دغو پېښو انځورونه هم خورا مهم بحث دی. دا پروسه هم باید د مکان او زمان په لحاظ ټاکلې او ثابته وي. هغه څه چې د اصلي او لومړني کرکټر په هکله یې ووایي باید چې د زماني او مکان په لحاظ سره تړلې اړیکه ولري. موږ دلته د یو بل استاد نظر هم راخلو. سر محقق دوست محمد شینواری په خپل اثر (د ادب تیوری اساسونه) کې د اړوندې موضوع په هکله داسې لیکي:((... د ادب درې ګونو (عقل، زمان، مکان یووالي)) اصولو مراعات یې لازم ګڼله. د یوې موضوع ځای باید یو او د اجرا وخت یې له څلرویشتو ساعتونو ډېر تجازو نه وای کړی. د موضوع پرمختګ لاره باید نېغه وای او انحراف کې ورته اجازه نه وه. دغه اصول له هر څه زیات په تراژیدي اثرکې زیات محترم وو. تراژیدي اثر همېشه د دولتي پرنسیپونو د فتحې، ظفر او په شخصي احساساتو د غلبې ایډیا درلوده. عمل د پردې تر شا اجرا کیده او د پر دې مخ استازیو ورنه حکایت کاوه. د افادې ژبه یې هیجان راوړونکې او لړزوونکې وه.) (۸: ۱۴۲م)

(c) ketabton.com: The Digital Library


## کلاسیک اثار او لیکوال

که چېرې د کلاسیک ادب د سرحدنو په هکله خبرې کوو، باید پوه شو دا نړیوال ادبي مکتب یوازې په فرانسه کې محدود نه دی پاتې شوی، بلکې اروپایي او غیر اروپایي ادبیاتو ته یې هم لاره موندلې ده. ډېرو لیکوالو د مختلفو ادبي ژانرونو په مرسته دکلاسېزم د قوانینو په رعایت سره مختلفې پنځونې کړې او په دې برخه کې ترې پرېمانه اثار لاسته راغلي دي. کلاسیک اثار ټول طبقه بندي شوي، چې هر یو ډول یې په لاندې ډول درپېژنو:

## حماسه او رومان

د حماسې په برخه کې د ستر یوناني شاعر هومر لیکل شوی اثر ایلیاد نومېږي، چې د نړۍ په هرګوټ کې د ولسونو په زړونو کې ځای لري. د همدې کامیابۍ او شهرت له وجې حماسې په ادبي ژانرونو کې د لومړۍ درجې موقف غوره کړ او د کلاسیکې دورې هر شاعر په دې اند و، چې ایلیاد ته ورته یوه حماسه ولیکي. د دغې حماسې دننه ستر عظمت، جګړهییز شان او د اتلانو لاسته راوړنو او بریاوو ته ځای ورکړل شوی او د پېښو دننه یې مینه او اخلاص هم ځانګړی مقام لري. د حماسې اتل له هرې مانا کامل او تېروتنې یې هم له هېڅ راز قهرمانه کړنو خالي نه دي.

کله چې داستان د شعر پر ځای نثر بیان کړي، بیا نو دغه ادبي ژانر ته رومان ویل کېږي. رومان هم حماسې ته ورته قواعد او اصول لري، توپیر یې دا دی چې په حماسه کې اساسي ځای جګړې اشغال کړی وي، خو رومان بیا د عشق او مینې تمځای بلل شوی. په رومان کې ډېر ارزښت حقیقت ښکاره کولو ته ورکړل شوی او ډېر ټینګار پر ګټور اخلاقي پیغام تمامېږي. د

(c) ketabton.com: The Digital Library


ټولوکلاسیکو پنځګرو او شاعرانو فکري تمرکز رومان لیکلو ته وقف نه و، بلکې دلته یوازینی شخص چې مدام دولافیت نومېږي، رومان لیکلو ته مټې رانغاړي او د لویو بریاوو تر څنګ د شهرت لوړو پوړو ته رسېږي. د نوموړي رومان شهزادګۍ کلو نومېږي، چې په کلاسیکه دوره کې د اصولو په رعایت سره منځته راوړل شوی دی.

## تراژیدي

تراژیدي له دووکلمو (تراګوس tragosورغومي او ode سندره) جوړه ده. تراژیدي د ډراماتیکو ژانرونو په ډله کې هغه پوخ ژانر دی، چې تاریخي پس منظر یې د لرغوني یونان مذهبي سندرو ته رسي. د قبل المیلاد په پنځمه پېړۍ کې تراژیدي په لرغوني یونان کې د پرمختګ په حال کې وه، هغه مهال هنریت او مذهب ګډ جوړښت درلود، مذهبي رسمونه به د هنر له لارې ولس ته وړاندې کېدل او بنسټ یې د رب النوع (دیونیس) په ویاړ په میلو، اخترونو او مذهبي نمانځغونډو کې په سندرو او نڅاګانو ولاړ و. هغه وخت یونانیانو د یو او تل پاتې الهي ذات په پرتله انسانان خدایان ګڼل او دیونیس یې هم د شرابو او انګورو خدای باله. یونانیانو د ځمکو ښه حاصلات او زراعتي پراختیا د دیونیس مهرباني او پېرزوینه بلله. خلکو له دیونیس څخه د مننې په ویاړ جشنونه او نمانځغونډې ترتیبولې او بیا به یې قرباني شوی ورغومی (سیرلی) په اتڼونو او نڅاګانو د دیونیس لوړ حضور ته وړاندې کاوه. د دغو سندرو محتوا د دیونیس په ژوندکې هغه پېښې انځورلې، چې نوموړی ورسره مخ شوی و. دغه سندرې په دوه ډوله دي:

۱ـ هغه سندرې چې د دیونیس تکلیفونه، ستونزې، سرښندنې او مړینه انځوروي، د همدغو سندرو پر اساس د تراژیدۍ بنسټ کېښودل شوی دی.

۲ـ دویم هغه سندرې دي، چې په کې د رب النوع دیونیس بیا راژوندي

(c) ketabton.com: The Digital Library



کېدل، پر مرګه غلبه او پر مصیبتونو او تکلیفونو بریا په کې انځور کړای شوې ده. همدغه سندرې دکمیډۍ اساس منځته راوړي.
(۱۰: ۷۹،۷۸م)

تراژیدي د یوناني ژبې کلمه ده او د بزې سندرې مفهوم افاده کوي. تراژیدي د ډراماتورجي یو ډول ژانر دی، چې د پرسوناژو د تراژیک ټکر پر بنسټ جوړه او پایله یې تراژیدیکه وي.په تراژیدي کې هغه پېښې راغونډېږي چې د داخلي تضادونو غوټه جوړوي او واقعیتونه په کې په ډېر لوړ شان او جدي بڼه انعکاس مومي. د وزیري صاحب دغه تعریف پر ځای او منونکی دی، خو نړیوال څېړونکي او ادب پوهان بیا د تراژیدۍ په تعریف پېژندنه کې د ارستو تعریفاتو ته مراجعه کوي. ارستو د ګڼو نورو تعریفونو او اصولو تر څنګ په شعر پوهنه کې د تراژیدۍ تعریف هم وړاندې کړی دی. نوموړې تراژیدي د رېښتینو واقعاتو جدي، کامل او جامد تقلید ګڼي.

ارستو د عمل او مضمون یووالي ته ګوت څنډنه کوي او په دې اند دی چې په (تراژیدي کې هغه پېښې تمثیلېږي، چې په هغوکې د حق او رېښتیا فتح، د انساني عقل او احساس پر بریالیتوب، د اخلاقي شهکار یوه ښکلا او ښاغلیتیا ځرګندوي.) (۸: ۲۱۸م)

پخوانۍ تراژیدي د درې ګونې (وخت، ځای او عمل) د یووالي قانون تر سیوري لاندې مخ ته تللې؛ د شعر په ژبه به لیکل کیدې او د لوړ سبک په وسیله به په کې توپیر ځرګندیده. د لرغونو تراژیدیو په هکله مهم ټکی د تراژیدۍ اتلان دي. د لرغونو تراژیدیو اتلان د اشرافي طبقې خلک وو، چې د تراژیدۍ لیکوونکي لخوا به خدایان، امیران او پهلوانان معرفي کېدل. د معاصرې تراژیدۍ بنسټ په انګلستان کې ویلیام شکسپیر ایښودلی، ویلیام په رښتینې او حقیقي بڼه خپل اتلان د واقعي مبارزې لپاره تیاروي او په کې د

(c) ketabton.com: The Digital Library


ولسونو غوښتنې مطرح کوي. شکسپیر په تراژیدۍ کې لرغوني قوانین له پامه غورځولي، درې ګونی قانون او افسانوي اتلان یې هم له پامه غورځولي او په نوي بڼه یې تراژیدي وړاندې کړې ده.

په کلاسیکه مرحله کې فرانسوي پنځګرو کرنیل، وامېنه او نورو د کلاسیکې تراژیدۍ روښانه نمونې جوړې کړې وې، دوی له پخوانیو قوانینو ځان نشو خلاصولی، نو مجبور وو درې ګونی قانون مراعات کړي. له دوی وروسته شکسپیر او الکساندر پوشکین په دې بریالي شول، تر څو دغه قوانین ونګوي. (۳ :۸۹،۹۰م)

## د تراژیدۍ اتل

د ارستو خبره ده، چې د تراژیدۍ اتل باید ګناهګار، ظالم او مجرم نه، بلکې پرهېزګار او سپېڅلی انسان وي. پر نورو زړه سوی او ترحم ولري، پاک زړه او د اخلاقو د لوړ معیار خاوند شخصیت وي. په تراژیدۍ کې د مرکزي کرکټر رول په ټولنه کې د مثبت تحول او انساني حقونو د دفاع یو بشپړ انځور دی. د تراژیدۍ قهرمان د ژوند په سترو ستونزو کې ډوب وي، خو ورته حل لاره نه لري او په پای کې له داسې برخلیک سره مخ کیږي چې زړه سوزونکی وي. دا اتل د لرغوني یونان په پرتله د رنسانس نه وروسته بله بڼه خپلوي او له فیوډالېزم سره په مستقیم ډول د مبارزې میدان ته وردننه کیږي. دلته د هیرو ژوند عامل د ارباب النوع په شان خیالي نړۍ نه، بلکې خپله د ټولنې د وګړي او د ژونه دیو قشرونو د ژوند او شرایطو لپاره مبارزه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## کومیډي

کومیډي د نورو ډراماتیکو ادبي ژانرونو په څېر په لرغوني یونان کې منځته راغلې ده. په لرغوني یوناني ژبه کې ورته (komoidia) او په لاتینې ژبې ورته د (comoedia) کلمه کارول شوې ده. په اوسني مفهوم دکومیډي اصطلاح له (komos)، د خوښۍ او (ode) چې د سندرې مانا لري، اخېستل شوې ده. دا ژانر د تراژیدي په شان د قبل المیلاد په پنځمه میلادي پېړۍ کې د ادبي فورم په چوکاټ کې پر مخ ولاړ دی.

کومیډي په ظاهري بڼه خندا لرونکي کرکټرونه لري، ترشا هغه مسائل په برکې نیسي، چې د خندا په جامه کې نغښتي وي. په کومیډي کې د اتل شخصیت او ماتې د خوښیو باعث ګرځي، نو له دې طریقه لیدونکي ورته خاصه توجه نه کوي. دلته ننداره کوونکي په دې پوهیږي، چې کومه لویه واقعه نه پېښیږي، بلکې داسې څه به پېښ شي، چې د اتلانو د خوښۍ سبب به وګرځي. مرکزي کرکټرونه یې د منځنۍ طبقې له افرادو جوړیږي او د فعل د اجراء پر مهال له داسې تېروتنو سره مخامخیږي چې د لیدونکو د خندا وړ ګرځي. د اتل په لاس د پېښ کړای شوو مسائلو په اړه د لیدونکوکمزوری لید لوری خندا راپاروي او لیدونکو ته خوښي وروبښي. ارستو لیکي: ((کومیډي د انسان د ناوړه خویونو توصیف نه، بلکې د بدو اخلاقو او ناسمو رفتارونو پېښې دي. نوموړی کومیډي د شرمناکو اعمالو توصیف او تقلید ګڼي، کوم چې د مسخرې او ریشخند سبب ګرځي.) (۳ : ۹۰م)

د ارستو له خبرې معلومیږي، چې په حقیقت کې مسخره د هغو عیبونو ترجماني ده چې دکومیډي په وسیله تمثیل او چا ته یې تکلیف او درد نه رسیږي.کومیډي په ظاهري شکل د فرد د خندا او خوښۍ سبب ګرځي؛ تر شا یې ترخه حقایق پرته وي او ولسونه په ټولنه کې له شته ناخوالو او ټولنیزو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ننګونو خبروي. دغه خبرېدنه دکومیډي له لارې د خندا په څېره کې خپل هدف ته ځان رسوي.

د تراژیدي او کومیډي تاریخي مبدا تر ډېره بریده له یوې زمانې خړوبیږي. د شراب خدای (دیونیس) په ویاړ جوړ شوو مذهبي مراسموکې دوه ډوله سندرې ویل کېدلې:(اوله برخه یې د دیونیس د مړینې، کړاوونو او زحمتونو په یاد ویل کېدلې، دا د تراژیدۍ خوا وه. بل ډول سندرې او مراسم هغه وو چې د دیونیس بیا ژوندي کېدل، پر مرګ غلبه او د ده د کړاوونو پای ته رسیدل په کې ستایل کېدل، چې دغه برخه دکومیډۍ بله خوا جوړوله.) (۱۰: ۱۵۸م)

## د لرغوني یوناني کومیډیو جوړښت

**تقریظ(Prologue):** د یوناني کومیډیو په دې برخه کې لوبغاړو هوښیارانه طرحې مطرح کولې، تر څو خپلو عجیبو هیلو ته ورسیږي. دغه په زړه پورې طرحې د خندا لرونکو پېښو د بنیادي یا اساسي شکل د نیولو لپاره لومړنۍ هڅې وې، تر څو خلکو ته خوشالي راوړي. په دغه برخه کې د لوبغاړو اساسي اندیښنې تخیلي او غیر عملي بڼه درلوده.

**پاراډوس (Parados):** د پاراډوس کلمه په اصل کې د لرغوني یونان د ننداتون د جوړښت پر هغې برخې اطلاق کېده چې د اساسي صحنو دواړو طرفونو ته به موسیقي غږونکي قرار درلود او له منځه به یې ننداره وړاندې کوونکي له سندریزو زمزمو سره یوځای راوتل او له همدغو زمزمو سره یو ځای به یې په پاراډوس کې خلکو ته ځانونه ورپېژندل.

**اګون (Agon):** دغه کلمه د مناظرې، خبرو اترو او بحث څخه عبارت ده. په

(c) ketabton.com: The Digital Library


دې برخه کې هغه بحثونه شامل دي، چې د مرکـزي کرکــټر او د مخلافانو تر منځ جاري وي. ځینې وخت د عمل د اجراء یوه برخه ننداره وړاندې کوونکي د لومړني کرکټر په وړاندې ودرېږي او مجادله کوي. د ننداري مباحثوي بنیاد د همدغو کرکټرونو په وسیله مخ ته ځي.

**پارابسیس(Pasabasis):** پارابسیس د ننداري وړاندې کولو ټولنیزې شاعرانه زمزمې دي، په دغه برخه کې نندارچیان مخ پر وړاندې ګام اخلي او مخامخ له دوی سره خبرې اترې کوي. نوموړې په دغه خبرو کې مخامخ د لیکونکي نظریات بیانوي او ځینې وخت بیا د ننداري لیکلو سیالۍ په تیاتري جشنوارو کې بیانوي او ځینې وخت په شوخۍ سره دوی ته اخطار ورکول کېږي چې لومړنۍ جایزه باید دوی ته ورکړل شي.

**ایګزودوس(Exodos):** دا هغه برخه ده، چې لوبغاړي به خپلې اخرنۍ سندریزې برخې ته را رسیدل او بلاخره صحنه به یې خوشې کوله. په کومیډي کې د اتلانو اخري سندریزې شیبې په لوی جشن پای مونده. له دې طریقه د یوناني کومیډۍ اخرنۍ برخې دکوموس (Comos) په نامه یادیدې. دغه صحنه به ډېرې وخت د موسیقۍ سره یوځای پای ته رسېده او په اخره کې به ټول کارکوونکي د جشن لپاره له صحنې دباندې وتل.

کومیډي د یو ادبي ژانر په توګه د نړۍ ډېرو ژبو او ادبیاتو ته لار موندلې ده. ارستو د همدې ادبي ژانر په هکله کوم ځانګړې نظریات نه دي لیکلي او د کلاسیک ادب سرلاروکومیډي هغه په زړه پورې ژانر ګڼلی، چې کسان یې د منځنۍ یا ټیټې طبقې اشخاص وي او د دوی ورځني پرابلمونه په کې مطرح شوي وي. دوی په کومیـډیـک اثـر کـې د حـقیقـت څرګندونه لازمي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګڼي او پایښت یې له خوښیو سره روغبړ ښیي او نوي نوښتونه را ټوکېدل یې په زړه پورې اصل ګڼي.(۲۲:م)

د لرغونوکومیډیو پرمختګ په ارستوفان (Arisstofan) پورې اړه لري او انګلس یې دکومیډې پلار بولي، چې پوهان یې لامل دکومیډې بې ساری پرمختګ په ګوته کوي. پخوا کومیډې د دریو تنو اکټرانو له لوري تمثیلېدله، سندرې او نڅاوې به هم ورسره مل وې، دوی به له ځانګړو ماسکونو سره د ننداري میدان ته دننه کېدل او په دې ډول به خلکو له دې صحنې زیات خوند اخیست. د ارستوفان په کومیډیوکې د ټولنیزو او سیاسي پرابلمونو انځورونه او انعکاس تر ټولو لویه ځانګړتیا ښودل کېږي او تر څنګ یې د زیاتوکومیډیو موضوعګانې د سولې اړوند مسائلو ته هم ځانګړې شوې دي.

ارستوفان په سیمه کې جګړه‌ییز سنګرونه له نېږدې څارل، په دې پوهیده چې جنګ یوازې د وسلو جوړونکو موسسو خاوندان بډای کوي او بس! ارستوفان د(پلوپوني) روانه جګړه په خپلوکومیډیوکې غندله او ورسره یې نورو ډېرو اجتماعي او اقتصادي مسائلو ته په خپلوکومیډوکې ځای ورکړی و. د فقر اړوند موضوعات یې په (پلوتوس)، د بشري ټولنې د جوړښت مسائل یې په (الوتونکي)، د ملي طبقې پر وړاندې د صنعتکارانو او تجارانو افکار یې په (سپاره) او د شعر او ټولنیز ارزښت افکار یې په (چونګښه) نومي کومیډیوکې راسپړلي دي.

دکومیډې اساسي پرمختک په اتلسمه پېړۍ پورې اړوندېږي. فرانسوی ډرامه لیکونکی مولېر (Molier) په مستقیم ډول په دغه پراختیا کې لوی لاس لري. د نوموړي کومیډۍ د فرانسوي کلاسېزم په مجرا کې لویدلې دي، چې هم قوي او هم کمزورې برخې لري. قوی اړخونه یې د ټیپونو او ټیپیکو

(c) ketabton.com: The Digital Library



کرکټرونو په تصویر کې وي. همدغه انځور د ده د پلان لومړۍ برخه تشکیلوي. ((ده هم د ارستوفان غونډې ټولنیز عبرت او نصیحت ته ډېره ترجیح ورکوله او ورسره د فرانسوي ټولنې د ارستو کراتې طبقې عیاشۍ، بد اخلاقۍ، د روحانیونو ریا کاري، تېر ایستل او د ټولنې د نورو بورژوازي عناصرو منفي ځانګړنو ته په کومیډیوکې ځای ورکړی دی.) (۱۰: ۱۶۱،۱۶۳م)

په اتلسمه پېړۍ کې پیرو بیو مارچیس (P. Beau Marchias) د مولېر غونډې ورته موضوعاتو ته اشاره او د زاړه نظام پر وړاندې د مبارزې اند خپل کړ. لنډه دا چې کومیډي پر منفي حوادثو ملنډې وهي او د ټولنې د روزنې لپاره یې د صحنې مخته وړاندې کوي. په کومیډي کې د تراژیدي خلاف، اتل د پېښو جنجال او له کشمکش څخه بریالی راوځي. دکومیډي تر څنګ په کلاسیک ادب کې نور واړه ادبي فورمونه هم ځای لري، چې عبارت دي له شپونیز او غنایي اشعارو څخه. دلته په لنډو ټکو دا دواړه فورمونه درپېژنو:

## شپونیز شعر (Bucolique)

په دې شعر کې هغه شپونیزې کېسې انځور شوي دي، چې د طبیعت خوږې نغمې او د سپیڅلې مینې ایډیال غږوي. د دغو اشعارو ارزښت په روان والي، ساده ګۍ او طبیعي رنګ کې نغښتی دی. دا ډول شعرونه زیاتره د بزګرې او شپونیزې طبقې لخوا لیکل او ویل کېږي.

## غنایي اشعار (Lyrique)

دا ډول اشعار مختلف ډولونه لري، قصیده یې تر ټولو لوی شعري فورم دی چې په کې د خدایانو، لویو جګړو او سوبو ستاینه راځي. دا اشعار دا توانایي لري چې یوه په زړه پورې موضوع بیان کړي. (۱۳: ۱۸۸م)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## کلاسېزم او فرانسه

په فرانسه کې د کلاسېزم د پیدایښت او پایښت په هکله مو ډېر څه ولوستل، دومره لیکم، چې په کال (۱۶۶۰م) کې په فرانسوي ادبیاتو کې یو نوی طرز تفکر ایجاد او ترویج شو. هېر مو نشي چې نامتو فرانسوي کلاسېستان نیکولا بوالو (۱۶۳۶-۱۷۱۱م)، ژان راسین (۱۶۳۹-۱۶۹۹م)، ژان ډولافنتېن (۱۶۲۱-۱۶۵۹م)، مولېر (۱۶۲۲-۱۶۷۳م) او نور ... لیکوال دي، چې د همدې ښوونځي په چوکاټ کې یې لیکنې کړې دي.

## نیکولاس، نیکولا بوالو (۱۷۳۶-۱۷۱۱م)



د کلاسیک ښوونځي پلار بوالو نومېږي، چې د څوارلسم لوئي د سلطنت پر مهال یې په فرانسه کې ژوند کاوه. پاچا نه یوازې پر ولس بلکې پر لیکوالو هم ډېر نفوذ درلود. بوالو په (۱۶۳۶م) کال په پاریس کې نړۍ ته سترګې پرانیستې او پلار یې تندونویس یو سیاسي سړی او د پارلمان لوړ رتبه غړی و. نیکولا د حقوقو په برخه کې لوړې زده کړې پای ته ورسولې او له قضاء سره یې کار پیل کړ. بوالو له ادب، سیاست او هنر سره د لیونۍ مینې له بابته له شعر ویلو او سیاست سره غاړه غاړې رالوی شو او ادبیاتو ته یې مخه کړه. نوموړي لومړی خپله ادبي تنده په شعر لیکلو ماتوله، وروسته ترې د ادبیاتو په برخه کې ستر نقاد جوړ شو. نوموړي په شعر کې ځانګړې مهارت درلود او په محفلونو کې به یې ملګرو ته خپل شعرونه ورښودل. د شاعرۍ ارزښت یې په دې کې و، چې د نقد او طنزي اشعارو په

(c) ketabton.com: The Digital Library



وسیله یې پر نامتو شاعرانو حملې کولې او هغوی یې په دې ډول خلکو ته بې ارزښته کول. د نوموړي دغه دښمني ډېره اوږده شوه او ملګرو یې د پاچا دربار ته ور وپېژاند. په کال (۱۶۶۹م) کې نیکولا عامه افکار د ځان په ګټه راوڅرخول او په دې ډول یې ځان د بریا پولو ته ورساوه. کله چې نوموړي د هجویي اشعارو ترڅنګ قافیه وال شعرونه وپنځول، نو یې له شعري فورمونو سره زیاته اشنایي پیداکړه. په (۱۶۷۴م) کې بوالو د (شعر پوهنې) تر سرلیک لاندې کتاب ولیکه، چې د ګرامر، شعري فورمونو، قواعدو او د ادب سره د بلدتیا د اصولو په برخه کې ډېر څه په کې لیکل شوي دي. بوالو دا کتاب څورالسم لوئي (د فرانسې پاچا)ته ډالۍ او په دې ډول یې ځان دربار ته لا نیږدې کړ. څلورکاله وروسته د پاچا او د ده اړیکې لا پخې شوې او د (۴۲) کلنۍ په عمر د پاچا مورخ او واقعه نګار وټاکل شو.

بوالو د درباري دندې په ترلاسه کولو له ولسه لرې او تر څنګ یې زیات کورني دښمنانان پیدا کړل. د مورخ په توګه یې دنده د دې باعث شوه چې د زیاتې مودې لپاره له ادبي پنځونو شاته پاتې شي، خو له یوې اوږدې خاموشۍ وروسته بېرته ادبیاتو ته راستون او د (سترې بریا) تر عنوان لاندې یې یو قصیده ولیکله. ده د طنز له لارې په لوی امپراطور سکندر مقدوني باندې هم حملې کړې چې هغه وخت دا ډول کار په رېښتیا اسانه خبره نه وه. په (۱۶۸۴م) کې بوالو له سرسختو داخلي مخلافتونو سره سره پر دې واتونید، چې د فرانسې د اکاډمۍ غړی شي، د غړیتوب په ترلاسه کولو کې د پاچا پوخ ملاتړ له ده سره و، همدلته یې دګټورو او ښکلو اثارو په لیکلو سره د فرانسې په ادب کې دکلاسیک ادبي ښوونځـــي د ستر شاعر، ادیب او سر

(c) ketabton.com: The Digital Library



لاري مقام خپل کړ او په اوولسمه پېړۍ کې یې د بخت او شهرت ستوری وځلېد. بوالو د ژوند اخري کلونه په هغوکورونوکې تېرول، چې پاچا ورته اخیستي وو، خپل ادیبان ملګري به یې هلته وربلل، خو زړه یې خوښ او روح یې ارام نه و. د هېواد ناسمو شرایطو چې ولس ته د منلو وړ نه و، ډېر ځوراوه. په زړښت کې له ډېر غم او درد سره لاس اوګرېوان و او د وخت په تېریدو لومړی کوڼ او وروسته فلج شو. بلاخره دغه ستر شاعر او لیکوال تر سخت کړاو وروسته په (۱۷۱۱م) کال د (۷۵) کلونو په عمر له دې فاني نړۍ سترګې پټې کړې او په فرانسه کې خاوروته وسپارل شو. (۲۴: م)

## د بوالو (شعر پوهنه)

شعر پوهنه د بوالو هغه اثر دی، چې کلاسېستانو ترې اصول اقتباس کړي دي. دغه اثر په څلورو برخو وېشلی شو، د دې کتاب په لومړۍ برخه کې الهام، له عقل سره د قافیې مطابقت او د فرانسوي شعر تاریخي پس منظر ته په کې اشاره شوې ده، دویمه برخه یې د شعري فورمونو (غنایی شعر، قصیدې) لپاره د قواعدو ټاکنه کوي، درېیمه برخه یې هم د سترو ډراماتیکو ژانرونو (حماسه، تراژیدي اوکومیډې) لپاره د اصولو ټاکنه ترسره کوي او وروستۍ څلورمه برخه بیا اخلاقي روشونو ته ځانګړې شوې، چې انسان ته پرکار او پرهېزګارۍ تېنګارکوي. په اوسني مفهوم بوالو یو پوخ شاعر نه دی، د دې خبرې دلیل په اثاروکې یې د احساساتو او تخیلاتو نه شتون ښودل کیږي، خو د ده دا خبره پر ځای ده چې وایی:(( زما شعر ښه دی یا بد، خو مانا او مفهوم لري.)) (۲۳: ۸۳م)

(c) ketabton.com: The Digital Library



د بوالو شاعري که څه هم له استعارو او تشبیهاتو سره کوم ځانګړی اړخ نه لګوي، خو د ولسي افکارو مثبت او صحیح انعکاس يې د ستایلو او پاللو وړ دی. نوموړي په نظم او نثر دواړو کې اخلاقي مسائلو ته ډېره توجه کړې ده. نوموړی لیکي:(( پوهیږئ !! ولې زما اشعار د توجه وړ ګرځي؟د دې راز په ښکلا کې نه، بلکې پر دروغو د حقیقت غلبه ده.)) د ادب د قواعد د ټاکلو لپاره بحث ته اړتیا نشته. هماغه اصول چې په پاسنیو پاڼو کې د کلاسیک ادب د اصولو تر عنوان لاندې یاد شوي، اکثریت بوالو وضع کړي دي. دا اصول د جوړښت له مخې اکثرو کلاسیسټانو منلي، په خپلو اثارو کې يې ترې استفاده او د یوې اوږدې مودې لپاره يې پر ادب حکمراني کړې ده. (۸۵:۲۳م)

## ژان ډولافنټن (۱۶۲۱-۱۶۵۹م)

دغه نامتو فرانسوی لیکوال او شاعر په (۱۶۲۱م) کال د فرانسې په کلان کې زیږیدلی دی. پلار يې د ځنګل ساتنې او اوبو رسونې د ادارې مشر و. ډولافنټن د کوچنوالي ورځې له خپلې کورنۍ سره یوځای تېرې او وروسته د ژبې او ګرامر په برخه کې خپلې زده کړې پیل کړې. نوموړي له هر اړخیزې مطالعې سره بې کچې مینه درلوده، په حقوقو او الهیاتوکې يې خپلې رسمي زده کړې پیل خو په



بیړه يې د عدم علاقې له وجهې دواړه پرېښودې او پاریس ته ولاړ. په ادبي محفلونو او غونډو کې په ګډون سربېره د لیکوالۍ هنر ته مخه کړه او په دې بریالی شو، چې ډرامې او منظوم اثار ولیکي. د نوموړي لومړنی اثر (کېسې او

(c) ketabton.com: The Digital Library



افسانې) نومېږي، د دغه اثر محتوا لنډې اخلاقي کېسې جوړوي، له کیسه‌ییز ادب په دې توپیرېږي، چې اتلان یې حیوانات او یا ځناوران دي او د انسانانو په څېر رفتار کوي. که څه هم دا ډول کېسې د ماشومانو ذوق راپاروي، خو ژان توانیږي د عمومي قشرونو اذهان له دې موضوع سره جوړ راولي. دغه افسانې په شپږو جلدونوکې ترتیب شوې، چې منځپانګه یې داستان، نصیحت او ښې خبرې جوړوي. نوموړی ښکلا او بدرنګي د حیواناتو په ژبه (مجاز) بیانوي. دلته ژان د انسانانو له ژوندانه سره جوخت د حیواناتو ژوند ته هم ګوتڅنډنه کوي او حقوقو ته یې پاپندي ښيي. نوموړي ډېر اثار لیکلي، چې ډېر یې طبیعي، فلسفي او ټولنیز اړخونه په ګوته کوي او د موضوع او محتوا په لحاظ ډېر لوی مسائل بیانوي. پاتې دې نه وي، چې د ادب دا ځلانده ستوری په کیسه‌ییز ادب کې ځانګړی مقام او پخه تجربه لري. نوموړي بلاخره په (۱۶۹۵م) کې د درې اویا کالو په عمر له دې فاني نړۍ سترګې پټې کړې. (۲۳: ۹۶م)

## ژان راسین (۱۶۹۹-۱۶۳۹م)



ژان راسین د اوولسمې پېړۍ د نورو نامتو لیکوالو (مولېر اوکورني) په څېر ادیب، شاعر، تراژیدي او ډرامه لیکونکی دی، ډېری وخت به یې د تراژیدۍ په لیکلو تېراوه. تر څنګ یې یو ښه کومیډي لیکونکی هم شمېرل کیږي، چې ترې ډېرې کومیډۍ په میراث پاتې دي.

راسین په (۱۶۳۹م) کې د فرانسې د پیکارډي په یوه متوسطه کورنۍ کې نړۍ ته سترګې غړولې دي، په دوه کلنۍ کې یې مور او په څلورکلنۍ کې یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



پلار له لاسه ورکړ. د والدینو له مرګ وروسته یې له خپلې انا او نیکه سره ژوند پیل او د کلاسیکو پوهنو زده کړې ته یې ملا وتړله. په (۱۶۴۹م) کې یې د نیکه مړینې د لا زیاتو ستونزو سره مخ کړ او انا یې د (پورټرویل) نومي صومعې ته کډه شوه او لمسی یې هم له ځان سره دې مقدس ځای ته راوست. ژان د پورټرویل په یوکوچني ښوونځي کې زده کړې پیل کړې او د یوناني او لاتیني ژبو سربېره له ادب سره هم اشنا شو.

راسین په تنکۍ ځوانۍ کې لیکلو ته مخه کړه او ورو ورو یې له ډرامې لیکلو سره لېوالتیا پیدا شوه. نوموړی د بوالو په خبر په (۱۶۶۴م) کال د ښکلو شعرونو په لیکلو د څوارلسم لوئي دربار ته لاره وموندله. لومړۍ ډرامه یې (لوی سکندر) نومېږي، چې په (۱۶۶۵م) کال د مولېر او ځینو نورو لوبغاړو په مټ ننداري ته وړاندې شوه. په دې ډول د هغه دغه ډرامه د پاچا او عامو ولسونو ډېره خوښه شوه، خو د دویمې ډرامې د اجرا لپاره راسین دا ځلې مولېر له پامه وغورځاوه او په دې ډول مولېر د نوموړي دغه خیانت تر پایه ونه باښه.

راسین خپلې ډرامې د نورو تکړه لوبغاړو په زیار تر سره کولې، له لږ څند وروسته راسین دوه اثره د (پورټ رویل) او (پخواني ښوونکي) تر سرلیک لاندې ولیکل او تر څنګ یې په تراژیدي لیکلوکې هم لوی لاس درلود. د ژان راسین نامتو تراژیدۍ (اندروماک ـ ۱۶۶۷م)، (بریتانیکوس- ۱۶۶۹م) او (فدیر – ۱۶۷۷م) نومېږي. راسین د ژوند اخرې شیبې په پورټ رویل کې تېرې کړې او د (۱۶۹۹) میلادي کال په پاریس کې ومړ او د وصیت له مخې د یو پخواني ښوونکي تر څنګ خاورو ته وسپارل شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د راسین اثار

راسین په تراژیدي لیکلوکې ځانګړې مهارت درلود او تر څنګ یې د ټولنیز ژوند په نورو برخوکې هم کرښې تورې کړې دي. د نوموړي اثار په لنډ ډول در پېژنو:

- ۱- La Thébaïde (دښمن وروڼه) (۱۶۶۴م)
- ۲- Alexandre le Grand (لوی سکندر) (۱۶۶۵م)
- ۳- Andromaque (اندروماک) (۱۶۶۷م)
- ۴- Les Plaideurs (دفاع کوونکی) (۱۶۶۸م)
- ۵- Britannicus (بریتانیکوس) (۱۶۶۹م)
- ۶- Bérénice (پرنیس) (۱۶۷۰م)
- ۷- Bajazet (بایزید) (۱۶۷۲م)
- ۸- Mithridate (میهرداد) (۱۶۷۳م)
- ۹- Iphigénie (ایفي ژني) (۱۶۷۴م)
- ۱۰- Phèdre (فیدر) (۱۶۷۷م)
- ۱۱- Esther (استر) (۱۶۸۹م)
- ۱۲- Athalie (اتالي) (۱۶۹۱م)

## مولېر (۱۶۲۲-۱۶۷۳م)



مولېر د اوولسمې پېړۍ مشهور فرانسوی هنرمند او ادیب دی، چې دکومیډیو او ډرامو لیکلو په برخه کې ځانګړې شهرت لري او اصلي نوم یې (ژان باتیست پوکلن) دی. په (۱۶۲۲ م) کې په پاریس کې زېږېدلی او پلار یې د وخت د پاچا په قصرکې دنده درلوده. مولېر تر لومړنیو زده کړو وروسته د حقوقو په پوهنځي کې شامل شو، د لیکوالۍ او هنر سره د ځانګړې مینې له کبله یې خپل دغه ځانګړی مسلک پرېښود او د پژارت په نوم له یوې کورنۍ سره یې اشنایي پیل کړه. د دوی همکاري وه، چې مولېر په پاریس کې دننه تیاتر ورغاوه. په (۱۶۵۸م) یې ډرامې لیکلو ته مخه کړه او هم یې د اجراء لپاره ځان غوره وګڼه. د لومړنیو پایلو وروسته مولېر ماته

(c) ketabton.com: The Digital Library



وخوړه او چا ورسره چندان علاقه ونه ښوده. نوموړي بلاخره یوه ګرځیدونکې ډله ایجاد او د فرانسې په مختلفو ښارونوکې یې خپلې ډرامې د خلکو په وړاندې ننداریې ته وړاندې کړې او له مودو وروسته بېرته پاریس ته راستون شو.

مولیر په (۱۶۵۹م) کال یوه اخلاقي کومیډي ولیکله، چې د متکلفینو افراطیت ته په کې ګوتڅنډنه شوې وه. یوه بله ډرامه یې چې (ښځینه ښوونځی) نومیږي، هم ټولنې ته وړاندې کړه. پاتې دې نه وي، چې مولیر په خپلو ډراموکې د فیوډالیزم سخته غندنه او د هغه دور اخلاق یې په مسخرانه ډول وړاندې کړي دي. په ادبي فعالیتونوکې د مولیر بله هڅه سیاسي کومیډي وه، چې په کې ټولنیزې ننګونې انځور شوې وې. د مولیر دغه سیاسي اصلاح غوښتونکې هڅې نه واکمنو او نه هم د مولیر دښمنانانو زغملی شوې، نو پر دې اساس مولیر د همدغو افرادو له دسیسو سره مخ شو. مولیر د ژوند په دغه حساس پړاوکې ناهیلی شو او ناروغي یې لا زیاته شوه، خو حوصله یې ونه بایلله او حتی د مرګ پرکال (۱۶۷۳م) یې هم د (خیالي ناروغی) تر عنوان لاندې ډرامه اجراء کوله، چې ناروغ او بې هوشه شو. کور ته پر لار و چې د (۵۱) کالو په عمر یې ساه ورکړه. کلیسا او پاپانو د ښار په رسمي هدیره کې د ښخولو اجازه ورنه کړه، چې لامل یې معلوم او څرګند و. نوموړی هغه مهال په سینټ جوزیف هدیره کې چې په هنرمندانو پورې یې تړاو درلود، خاورو ته وسپارل شو او په (۱۸۱۷م)کال یې هډوکي بېرته د پاریس پرلاشز هدیرې ته راوړل شول او دلته یې خاورو ته د دویم ځل لپاره وسپاره. مولیر د ژوند تر پایه د قلم عفت وساته او اجازه یې ورنه کړه، چې د ځمکه والو په چوپړکې ځان ستړی کړي. د ده قلمي مبارزې د ولسونو په زړونوکې ځوان فکرونه را ژوندي کړل او د ټولنې مړ روح یې راویښ کړ. (۲۴:م)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## بلز پاسکال (۱۶۲۳-۱۶۶۲م)



پاسکال نامتو لیکوال، فیلسوف، مخترع او ریاضي پوه دی چې په (۱۶۲۳م) کال یې د فرانسې په کلرمون کې نړۍ ته سترګې غړولې دي. مور یې په درې کلنۍ کې له لاسه ورکړه او پالنه یې پلار ته ور په غاړه شوه. په کوچنیوالي کې ناروغ خو ذهین ماشوم و. پلار یې د ښه استعداد او نبوغت په لیدو پاریس ته کډه شو، څو زوی یې سترې بریاوې تر لاسه کړي. پاسکال په طبیعي پوهنو او ځانګړې ډول د حساب ماشین الاتو په اختراع کې پوره مهارت درلود. نوموړي ډېره مطالعه کوله او زیاتره وخت به یې د لاتیني او یوناني ژبو ادبیات له نظره تېرول. د علمي روشونو په هکله یې لیکنې لوړ مفهوم افاده کوي او په دې برخه کې یې هڅې د ستایلو وړ دي. نوموړي د ژوند ډېره برخه تحقیق او څېړنې ته وقف کړې وه، چې محصول یې د نویو کشفیاتو منځته راوړنه ښودلی شو. پاسکل په شپاړس کلنۍ کې د انځوریزې هندسې په هکله لیکنې وکړې، چې د معاصر اقتصاد او ټولنیزو علومو په پیدایښت کې یې بارز رول افاده کړ. دغه فرانسوی عالم د اروپا او نړۍ یوه ښه انجینر، مخترع او ریاضي پوه و.

پاسکال پر ادبیاتوکومې ځانګړې څېړنې نه دي کړې، خو د نورو علومو په برخه کې یې څېړنې او پلټنې د ستایلو وړ دي. پاسکال په کلاسیکې دورې کې ژوندکاوه او په لیکنوکې یې هغه اصول مراعات کړي، چې یو لیکوال یې باید په پام کې ونیسي. شپاړس کلن و، چې لیکوالۍ ته یې مخه کړه؛ د مختلفو موضوعاتو په اړه یې لیکنې وکړې او د علومو او اختراع ګانو

(c) ketabton.com: The Digital Library



په اړه یې زیات شمېر اثار چاپ شول. کلاسیک پوهانو پاسکال له ادب ډېر لرې نه دی ګڼلی او لیکنې یې د کلاسیکې دورې له روشونه سره جوړې شمېرلي دي. پاسکال مخکې له دې چې فیلسوف شي، دکاتولیک مذهب لومړی درجه مدافع و. دی په دې اند و، چې د وحي په وسیله به ډېر څه حل کړای شي، خو وروسته خبره برعکس شوه. د نوموړي دغه نظریه د دې لامل شوه، چې پوهان پاسکال ته د فیلسوف خطاب، له فلسفې سره خیانت وګڼي. نوموړي په (۱۶۵۴م) کال د عرفان له مخې علمي کارونو ته شا وګرځوله او پاتې عمر یې هغه څه ته وقف کړ، چې د خدای پېژندلو فلسفې ته منسوب وو. په دې هکله نوموړي دوه کتابونه هم لیکلي، چې دلته یې یادونه اړینه نه ده. پاسکال کلونه ناروغیو وځوراوه او بلاخره یې د (۳۹) کالو په عمر له ژوند سره مخه ښه وکړه او انسانانو ته یې ډېر څه په میراث پرېښودل. (۲۵: ۲۷۸م)

## کلاسېزم او المان

کلاسېزم یوازې په فرانسه کې محدود نه دی پاتې شوی، بلکې د لویدیځې او شرقي اروپا هېوادونو ته یې لاره موندلې ده. دا پوښتنه چې الماني کلاسیک لیکوال شتون لري؟ بې ځوابه پاتې ده. زیاتره جرمنیان د خپلې ژبې لرغوني ادبیات د رنسانس محصول نه ګڼي. د دوی په نظر الماني ادبیاتو د رنسانس له اغېزمنتیا څه نه دي ترلاسه کړي، خو په اوولسم قرن کې له کلاسیکو ادبیاتو سره د خپل ادب تړاو هم نه ردوي. حقیقت دا دی چې په دې دورکې د الماني ادبیاتو د تقلید خوځون ډېر سست روان و، یوازینی شاعر او متفکر چې زموږ د فکر پام ځان ته اړوي، اوپیتیز (۱۶۳۹-۱۶۹۴ م) نومیږي چې د الماني ژبې په اصلاح او بدلون کې لوی لاس لري. اوپیتیز د یو ځانګړي ښوونځي چې سیلزین نومیږي، بنسټګر دی. ادیبان په

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځانګړي ډول شاعران چې د دې ښوونځي پیروان دي، د خیالاتو او احساساتو پر ځای پر فکر ډېر تاکیدکوي او دا هغه اصول دي، چې اوپیتیز ایجادکړي دي. جرمنیان په باروک ټینګار او له فرانسویانو اوکلاسېزم سره بخیلي کوي. د دې دورې نور شاعران (ګوتشد او ویلاند) د اروپایي ادبیاتو منل شوې څېرې دي.

د اوولسمې پېړۍ پر مهال الماني ادبیاتو د غنایي اشعارو په برخه کې ځانته شور او ځواک درلود، چې سرچینه یې له باروک څخه ترلاسه کوله. الماني ادبیاتو په تیاتر، رومان او لیکوالۍ کې دکلاسېزم تاثیرات نه وو خپل کړي، خو لېسینګ (Lessing)، هرډر (Herder) او شلېګل (Schlegel) په ترتیب سره دګویته او ځوان شېلر په ګډون د فرانسوي کلاسېزم پر څېړنو بوخت شول او د ستر شاعر ویلیام شکسپېر اثارو ته یې ترجیح ورکوله. همدا مهال وینکل مېن (۱۷۱۷- ۱۷۶۸م) په ادبیاتو او هنرکې د یوناني ادبیاتو له تقلید څخه وغږېد، په دې ډول یې د فرانسوي کلاسېزم مخه ونیوه او د تقلید لړۍ یې په مستقیم ډول له یوناني ادبیاتو پیل کړه. ځینو لیکوالو بیا د عرفان، خیالي نړۍ او التهاب سره د مینې له کبله ځان ته شور ماشور جوړ کړ او دا په اصل کې د نوي رومانتیکي دور پیل و. ګویته او شیلر دغه نوښتونه ونه منل او دوی خپلې منګولې پرکلاسېزم ښخې وساتلې.

یوهان ګویته او فریدریش شېلر د الماني ادبیاتو، په ځانګړي ډول د کلاسیکې دورې نامتو ادیبان دي. دغه دوره په ( ۱۷۸۶م) کال ایټالیې ته د ګویته په لومړني سفر پیلېږي او د (۱۸۰۵م) کال په وروستیوکې د شېلر په مړګ پایښت مومي. (۱۸: ۱۲۳م)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## یوهان ولفګانګ فون (ګویته) (۱۷۷۹-۱۸۳۲م)

یوهان ګویته د المان د فرانکپورټ ښار په یوه اشرافي کورنۍ کې زیږیدلی دی، یو لوی خو ملي شخصیت دی.



پلار یې د المان د شاهي دربار خادم و. غالبآ شپاړس کلن و، چې د حقوقو د زده کړې لپاره لایپزک پوهنتون ته واستول شو. ګویته د خپل ذوق له مخې ډېره توجه فلسفې او ادبیاتو ته درلوده او تر څنګ یې په طب، انځورګرۍ، معمارۍ او کالبد پېژندنې کې هم زده کړې تر لاسه کړې. له دغو پوهنو او هنرونو یوازې په ادبیاتو او انځورګرۍ کې تم پاتې شو او خپلو افکارو ته یې له دې درکه انعکاس ورکړ. ګویته په لاتیني، فرانسوي، انګریزي، یوناني او الماني ژبو غږېدونکی شخص و او تر څنګ یې پراخه هر اړخیزه مطالعه د دې باعث شوه، چې ډېری کسان پر ځان راټول کړي. په شرقي ژبو یې هم څېړنې کړې دي او د مسلمانانو د ستر لارښود حضرت محمد (ص) په اړه یې هم ښه فکر درلود. ګویته په (۱۷۷۵م) کال د لوی ادبي شخص په توګه وپېژندل شو. (۲۵: ۲۳۱م)

ګویته د (۱۷۸۶م) کال په سپټمبر کې دکارلسیاد ښار پرېښود او په ترتیب سره یې د ایټالیې روم، ناپل او سیسیل ښارونو ته سفرونه پیل او بیا په (۱۷۸۸م) کال د وایمار جمهوریت ته ولاړ. نوموړي ټول هغه ورځني یاداښتونه چې د سفر پر مهال یې لیکلي و، راجمع او د (د ایټالیې سفر) تر سرلیک لاندې په (۱۸۲۹م) کال کې چاپ ته وسپارل. په دغه سفر کې ګویته درې ډرامې چې په وایمار جمهوریت کې پیل کړې وې، پای ته ورسولې. کله

(c) ketabton.com: The Digital Library


چې بېرته هېواد ته راستون شو، نو د (ایفي ژني په تاوریس کې) (۱۷۸۷م) (Iphigenie auf Tauris)، (اګمونت) (۱۷۸۸م) (Egmont) او (نورکو اتو تاسو) (۱۷۹۰م) (Torquato Tasso) نومي اثار چاپ کړل.

د اګمونت ډرامه د نظم او نثر په قالب کې جوړه شوې ده، اګمونټ هغه تاریخي شخص دی، چې د ۱۶م قرن پر مهال یې د هالنډ د ازادۍ په جګړه کې د هسپانیې خلاف مېړانه ښودلې وه. ګویته په دغه ډرامه کې تاریخي حقیقتونه راسپړلي او د اتل اګمونت له قوي ارادې او ځانګړي استعدادونو غبرګېږلی دی.

د (ا.ژ. په تاوریس کې) ډرامه دګویته لومړنی منثور اثر دی، چې په (۱۷۷۹م) کې د وایمار په تیاترکې ننداري ته وړاندې شوی و. دا ډرامه د موضوع په لحاظ د یوناني ډرامه لیکونکي اپریدیس ډرامو ته ورته ده او ډېر پوهان په دې عقیده دي چې ګواکې نوموړي دا اثر روم ته د سفر پر مهال د کلاسیک ادب په چوکاټ کې لیکلی دی.

دګویته درېیم اثر (ن.ا. تاسو) نومېږي، چې په (۱۷۸۹م) کې په وایمارکې بشپړ شوی دی. په دغه اثر کې د شپاړسم قرن پر مهال دفراره (Ferrara) د شهزادګانو د تاریخي وضعیت په اړه معلومات ورکړل شوي دي. په دغه منظوم اثرکې د شاعر تاسو او انتونیو چې یو دولتي شخص دی، تر منځ د سوال ځواب غوندې له حاکم وضعیت څخه د ناراضیتوب له امله له یو بل سره شاعرانه خبرې اترې تبادله شوې دي.

ګویته د سفر پر مهال د جنوبي اروپا د ولسونو له نوښتونو سره اشنا کیږي، چې همدغه ابتکارات د هغه ذهن ته لاره مومي. د نوموړي یو بل کتاب خیالي نغمې (Romische Elegien) نومېږي، محتوا یې شل شعرونه جوړوي. دا شعرونه هغه وخت ولیکل شول، چې ګویته له ایټالیې څخه تازه راستون

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوی و. دغه اثار له ځان سره نوي رنګونه او تازه موضوعات لري او د کلاسیک ادب له رنګ او بوی سره نیږدېوالی ښیي. همدغه شعرونه په (۱۷۹۵م)کال د ډ.هورن (Die Horan) په مجله کې چې شېلر خپاروله چاپ شوي دي. (۲۶: ۱۸،۱۹م)

دګویته بله منظومه چې لسګونه اشعار په کې خوندي دي، په (۱۷۹۶م) کې چاپ شوې ده. دګویته اشعار په ډېریو برخوکې د رومي شاعر مارتیال شعرونو ته ورته دي. دګویته اثار ډېر داسې مسائل په برکې نیسي، چې د کلاسېزم له ادبي ښوونځي سره ورته والی لري، نو د یوهان له اثارو یې تقلید ترسره او د همدې کلاسیکي سبک پر اساس ډېر څه ولیکل شول. موږ کولی شو په الماني ژبه دکلاسیکو ادبیاتو بېلګې له ګویته او شېلر وروسته په څرګند ډول ووینو، دوی دواړه په دې هېواد کې د کلاسیکو ادبیاتو سرلاري ښودل شوي او په دې برخه کې د دوې هڅې د ستایلو وړ دي. د ګویته تر څنګه په المان کې د کلاسیک ادب بل نامتو استازی فریدریک شېلر نومېږي. ده دګویته سره اوږه په اوږه دکلاسیک مفهوم د انعکاس لپاره ډېرې ستړیاوې ګاللې دي. د دغه علمي شخصیت اندونه او فردي ځانګړتیاوې په لاندې ډول درپېژنو:

(c) ketabton.com: The Digital Library



## یوهان کریستوف فریدریک (شېلر) (۱۷۵۹-۱۸۰۵م)



شېلر لوی شاعر، فیلسوف، تاریخ او ډرامه لیکونکی دی. په (۱۷۵۹م) کې د جرمني هېواد د ورتمبرګ ایالت په مار باخ ښارکې زیږیدلی دی. شېلر په ډرامه لیکلوکې لوی لاس لري او د ګویته سره یوځای یې دکلاسیک ادب په غوړیدا کې ګټه‌ې هڅې کړي دي.

د یوهان پلار نظامي ډاکټر و، چې په مرسته او پېژنګلوۍ دشتوتګاټ اکاډمۍ ته شامل او د طب په برخه کې زده کړې پای ته ورسولې. شېلر د طب په پرتله له ادبیاتو، تاریخ او فلسفې سره ځانګړې مینه درلوده، د شکسپیر او روسو اثار یې ډېر لوستل او د همدغې ادبي ذوق او تجربې له بابته په دې وتوانیدو، چې د اتلس کلنې پر مهال لومړی کتاب ولیکي. شېلر د خپل مسلک تر څنګ په ادبیاتو او تاریخ ډېرې څېړنې کړې دي او په دې برخه کې یو څه اثار هم لري. د المان ولس شېلر د خپل هېواد یو وتلی او منلی تاریخي، ادبي او فرهنګي شخصیت ګڼي. (۲۵: ۲۱۹ م)

ډون کارلوس (Don Karlos) د شېلر هغه اثر دی، چې په (۱۷۸۷م) کې چاپ او یو تعداد نامتو ډرامې په کې خوندي او د ځانګړنو په لحاظ کلاسیک ادب ته ورته دي. دا ډرامې تاریخي بڼه لري؛ د لوړ تفکر او علمي اندېښنو څخه پیلې دي؛ ولسي ارمانونه، ازادي او حقیقت ښکاره کولو ته په کې پوره توجه شوې ده. شېلر په (۱۷۹۵م) کې دکلاسیکو اثارو په لیکلو پیل وکړ او له هغې مخکې یې د اثارو موضوع نظري او هنري مسائلو جوړوله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



یوهان د نثر په پرتله شعر ډېر لیکه، په (۱۷۸۸م) کال کې د یوناني خدایانو (Die Gotter Griechenland) تر سرلیک لاندې فلسفي شعر چې د خدایانو او انسانانو نېږدې والی ستایي، چاپ کړ. د روښانتیا پېر له خدایانو او ارباب النوع خالي و، خو د یوناني ادبیاتو د تقلید پر مهال شیلر له هغوکیسو سره مخامخېږي، چې په کې د یونان او روم پخواني خدایان ستایل شوي وو. دا ټکر د خدایانو سره په روښانتیا عصرکې د تپلي علاقې سبب ګرځي، د زیاتره نورو اثارو نومونه یې په لاندې ډول دي.

**ډرامې**

لار وهونکي(Die Räuber)

د فیسکو دسیسه

نیرنګ عشق

ډون کارلوس (Don Karlos)

ماریا سټوارټ (Maria Stuart)

پیغله اورلئان (Die Jungfrau von Orléans) ( ژان ډارک ته منسوب اثر)

د مېرمن مسینې واده (Die Braut von Messina)

**تاریخي اثار**

د هالنډ انقلابي تاریخ

د دېرش کلنې جګړې تاریخ

**فلسفي لیکنې :**

د اګوستبورګ لیکونه (Augustenburger Briefe)

ساده او حساس اشعار (Ber naive und sentimentalische Dichtung)

د فرزانګي ازادي او دولت (۲۶: ۲۲م)

(c) ketabton.com: The Digital Library



دکانت اثارو پر کلاسیکي دورې ژور تاثیر غورځولی وو او شیلر له هغې ډېره ګټه اخیستنه کړې ده. شیلر غوښتل دکانت په فلسفه کې له څېړنې وروسته ښکلا پېژندنې ته تعریف وټاکي، خو خبره برعکس را ووته. د شیلر له مرګ وروسته په (۱۸۰۵م) کې الماني کلاسیک ادبیات وتړل شول او یوهان ګویته همدا مهال ټول کلاسیک اثار په یوه مجموعه کې راټول کړل. د الماني کلاسېزم د زوال پر مهال ګویته کلاسېزم د سلامتیا او رومانتېزم د ناروغیو عصرګڼه. (فاوسټ) دګویته او الماني کلاسېزم وروستنۍ تراژیدي ده چې دویم ټوک یې په (۱۸۳۲م) کال کې له چاپه راووت. په دې تراژیدیوکې د منځني قرن او پخواني یونان مجراوې انځور شوې دي.

## کلاسېزم او انګلستان

په انګلستان کې کلاسېزم د اوولسمې میلادي پېړۍ له درېیمې او څلورمې لسیزې د اتلسمې پېړۍ تر لومړۍ او دویمې لسیزې پورې جریان پیدا کوي. په دې دوره کې د جان ډرایډن John Dryden (۱۶۳۱-۱۷۰۰م)، الکساندر پوپ A.Pope (۱۶۸۸-۱۷۴۴م)، جوزیف ایډسن J.Addison (۱۶۷۲-۱۷۱۹م)، جاناتان سویفټ J.Swift (۱۶۶۷-۱۷۴۵م)، ساموېل جانسن S.Johnson (۱۷۰۹-۱۷۸۴م) او ګولډ سمیت Goldsmith (۱۷۳۰-۱۷۷۴م) نومونه د یادونې وړ دي. دلته که چېرې د هر یو پر سبک او ځانګړنو بحث وکړو، دا نو ډېر وخت ته اړتیا پیښوي، موږ یوازې د دوی د عمومي سبک او طرز تفکر ته اشاره کوو. د انګلستان د کلاسیک ادب په هکله مشهوره خبره دا ده، چې ډېری کلاسیک پوهان د انګلسي ادبیاتوکلاسیکه دوره د عقل او تعادل پېرګڼي او لامل یې د اوولسمې پېړۍ په لومړیو لسېزو کې پر فکرونو د جان لاک John Lacke اغېزمنتیا ښیي. جان لاک عقل په انساني ژوند

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې ضروري او اړین ګڼل کېږي او مسیحي دین یې هم د عقل پر اساس واقع یا حقیقي دین ګڼي. له بل لوري په غربي نړۍ کې د اسحاق نیوټن I. Newton (۱۶۴۸- ۱۷۲۱م) نوې اختراعګانې په (۱۷م) پېړۍ کې طبیعي قوانینو ته اشاره کوي او له دې طریقه ولسونو ته دا مفکوره لېږدوي چې ټوله نړۍ د یو منظم سیستم او عقل پر بنیاد پر مخ ځي. السکندر پوپ دنیوټن د ستاینې لپاره د انګلستان په یوه نامتو صومعه دا لاندې بیت لیکي:

Nature and Nature's laws hid in night
God Said "Let Newton Be"! And all was light

د اتلسمې پېړۍ په پیل کې انګلیس لیکوالو د کلاسیکو اصولو سره سم ډراماټیک او غنایي اشعار وپنځول. دوی په انساني طبیعت پورې تړلي موضوعات شرح او بیان کړل او د ادبیاتو او فنونو په ذریعه یې پرابلمونه او نوښتونه ولسونو ته وښودل. (۱۸: ۱۲۰م)

پاتې دې نه وي، چې کلاسیزم د یو ادبي ښوونځي په توګه ریالېزم ته الهام ښښونکی رول افاده کوي. له کلاسیزم وروسته د اروپا په ادبیاتوکې یوه بله نوې دوره چې رومانتېزم نومېږي، منځته راځي. دغه ادبي ښوونځی د خپلو اصولو له مخې له کلاسیزم سره جوت توپیر لري، اصول یې ښېل دي، د اثارو محتوا د عقل پر ځای احساساتو او تخیلاتو ته ځانګړې کیږي او په ډېرو برخوکې دکلاسیزم اصول ماتوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## رومانتېزم

رومانتېزم د غربي نړۍ له صنعتي او اقتصادي تمدن سره سم راوپېښ او د زاړه فیوډال اوکلاسېزم پر خلاف د منځنۍ طبقې پر اوږو ځان د بریا پولو ته ورساوه. دا حقیقت دی چې فیوډالېزم پر ټولې اروپا واکمن او د بورژوازي طبقې په هڅو له پښو ولوېد. هغه مهال د مختلفو قشرونو د فکر زړی نوو مدنیتونو، ازاد فکرونو، اقتصادي تحولاتو او جغرافیوي اکتشافاتو جوړاوه. د دغو تحولاتو په راټوکېدو د اروپا ټولنیز او وټهییز وضعیت پوره بدلون وموند. رومانتېزم د ادبي مېتود په څېره کې د اروپا په لویدیځې څنډې، د اتلسمې پېړۍ په پای او د نولسمې پېړۍ په پیل کې وزرې وغځولې او د اروپا او امریکا په فنونو او ادبیاتو کې په پراخه پیمانه مطرح شو. د پیدایښت او پراختیا لامل یې په (۱۷۸۹) میلادي کې د فرانسې د بورژوازي خوځون رامنځته کېدل وو. په هغه دور کې فیوډالان، روحانیون او د قدرت واکمن د لویو پانګوالو او تاجرانو له قدرت سره مخ شول او په پای کې ورو ورو له واک او فکره ولوېدل. پانګوال له صنعتي انقلاب وروسته د وټه ییزې فردي ازادۍ په لټه کې و، دوی غوښتل خپل ماشیني تولیدات څنګه یې چې زړه وغواړي وپلوري. د همدې ایډیالوژۍ محصول انډیویډوالېزم او لیبرالېزم هم ګنل شوي دي. دغو نظریاتو نه یوازې په سیاسي او اقتصادي تحولاتو بلکې پر ادبیاتو او هنرونو هم اغېز غورځولی و. بافکره انسانانو په لیکنو او رسمونوکې هم د خپلواکۍ نارې راپورته کړې، تر څو ادب او هنر د کلاسېزم او فیوډالېزم له انحصاره راوباسي. (۹: ۲۸۳م)

په رومانتیکو اثاروکې د واقعیتونو انعکاس ډېر تر سترګوکیږي، داسې لکه څنګه یې چې دوی غواړي، نه لکه څنګه چې دی. د رومانتیکو افکارو غټه نښه قوي ذهنګیري ده، انسان د هغې داخلي نړۍ او احساسات یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



مرکزي ځای لري او پر فردي ازادۍ ډېر ټینګارکوي. په دې ښوونځي کې تصور، خیال او د هنر طبیعت ته هم زیات پام اړول شوی دی. (۳: ۱۱۸م)

حقیقت دا دی، چې شاعر او پنځګر له یوې خوا ادب د فیوډالېزم او کلاسېزم له انحصار څخه ژغوري او هم د پانګوالو بې رحمه او غیر انساني کړنې له نیږدې نشي لیدلی. د فرانسې له انقلاب سره سم په ټوله اروپا کې مادې د انسان پام خپل کړ، د انسان ارزښت او اهمیت له پامه وغورځول شو، د ټیټې طبقې حقونه تر پښو لاندې شول او پانګوالو د صنعت او تجارت له ودې سره سم ماشیني پرزه جاتو ته د انسان پر وړاندې ډېر ارزښت ورکاوه. ادیبانو له دغه رنځور حالت څخه د ژغورنې لپاره کومه خاصه دوا نه لرله، یوازې یې دومره کولی شول چې د خپلې خیالي نړۍ پر اسمانونو چکرې ووهي. الماني لیکوال ګویته (۱۷۴۹-۱۸۳۲م) لا دمخه دې ته اشاره کړې وه، چې:((رومانتېزم ناروغي اوکلاسېزم سلامتي ده.)) (۱۸: ۱۹۰م) یوازینی واقعیت دا دی چې اروپایانو د اتلسمې پېړۍ په اوایلوکې دا حقیقت موندلی و چې نړۍ له هغه چې تصور یې کېږي، ډېره پیچده اوکړکېچنه ده،نو د همدې اصل پر اساس اړینه نه ده، چې د ګونګو اصولو رعایت ته دې غاړه کېښودل شي.

د پښتو ژبې ستر ژبپوه رښتین صاحب د رومانتېزم ښیګڼې په لاندې ډول راپېژني:(( په ادب کې رومانتېزم د یو خاص ادبي مسلک او ښوونځي نوم دی، د خیال او فکر ازادي، بې پروایي، اوچت الوت ، له ادبي قید و بند نه ځان ساتل دي. د ښکلا او جمال د خیالي جهان مشغولا، د لغاتو او تعبیرونو پراختیا، د احساس او تخیل لوړتیا او د ژبي او ادب سمسورتیا یې له ښیګڼو شمېرل کېږي. د دې سبک غرض د کلاسېزم سره ښکاره مخلافت کول دي، په رومانتېزم کې د پخوانیو اصولو پابندي نشته او زاړه چوکاټونه په

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې ماتېږي. یعنې رومانتېزم یو نوی هنري مېتود او نوې لار ده، چې د ژوندانه د نندارتون په انځور کې له تخیل احساس او ذوق نه زیات کار اخلي او پخواني قیدونه او شرطونه نه مني.)) (۱۵: ۳م)

## د رومانتېزم پیدایښت



د رومانتېزم پیدایښت د ژان ژاک روسو (۱۷۷۸-۱۷۲۱م) او ولټر (۱۷۷۸-۱۶۹۴م) له افکارو او اندېښنو سرچینه اخلي. نړیوال ادیبان فرانسوی لیکوال او فیلسوف ولټر د دې عصر یو مخکښ نوم بولي. د اتلسمې پېړۍ په درېیمې لسیزې کې دا جنجالي پوښتنه (کولی شو ټولو پوښتنو ته یوازې د عقل له لارې ځواب ورکړو؟)، راپورته شوه او د حل لپاره یې یوازینی لار عقل نه بلکې نورې لارې چارې هم وسنجول شوې. اروپایي ټولنه له پراخو ستونزو او وینې زبېښوونکو پانګوالو سره لاس اوګرېوان وه، نو له دې امله ځانګړو اصلاحاتو ته اړتیا پکار وه. له همدې طریقه ټولنیزو متفکرانو او لیکوالو وپتیله، چې د دغه اشرافي طبقې سنتي او غیر بشري اعمالو ته دې پای ټکی کېښودل شي. دوی د لیکنو او پنځونو له لارې پراخو تحولاتو ته لاره هواره کړه او د اتلسمې پېړۍ په اواخرو کې یې همفکرې ډلې رامنځته کړې. په المان کې غنایي اشعار او په انګلستان کې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



کالریج (۱۷۷۳-۱۸۳۴م) او ویلیام ورډ زورث اثار ټولنې ته وړاندې شول او په زنځیري شکل یې په ټولنه کې واقعي رومانتېزم ولسونو ته ور وپېژاند.

رومانتېزم مخکې له دې چې یو ادبي او هنري جریان واوسي، اروپایانو ورسره یو ډول حساسیت څرګنداوه. دا ښوونځی لومړی د اتلسمې پېړۍ په لومړۍ نیمه لسیزه کې په انګلستان کې د ویلیام بلیک W.Blake، ورډ زورث W. Sworth، کالریج Colreidge، په جرمني کې د نامتو هولډرلېن Holderlin، په فرانسه کې د ویکتور هوګو، شاتو بریین او لامارټین، په ایټالیا کې د منزوني Manzoni، لئو پاردي Leopardi او په هسپانیه کې د زور یلا Zorrilla په هڅو راڅرګندیږي. (۱۳: ۱۹۳م)

## ویی او ریښه

رومانتېزم یو انقلابي خوځون دی؛ شعارونه یې فلسفي او سیاسي خبرې دي؛ د انسانانو حساسیتونه ښکاره کوي او شخص ته فردي حقونه غواړي. لومړی رومانتیک یو ستاینوم و، چې په اروپایي ژبو کې یې د بېلا بېلو کلمو (Romantic, Romantisch, Romantico, Romantique) یې ذکر راغلی و. بېلې بڼې تشکېلوي چې کره محصول یې د رومانتېزم کلمه ده. رومانتیک ستاینوم په اصل کې د منځنۍ پېړۍ د لاتیني ژبې له رومانتیکوس (Romanticus) څخه مشتق او په تدریجي ډول یې په اوولسمه پېړۍ کې رواج موند. (۲۴:م)

لوی استاد روهي صاحب په (ادبي څېړنې) کې د رومانتېزم نوم د (Romantic) له صفت څخه مشتق شوی بولي او رومانتیک کلمه د زړې فرانسوۍ ژبې له رومانز (Romanz) څخه اخېستل شوې ګڼي، چې مفهوم یې رومان (Romanc) یا ناول (Novel) دی. دغه کلمه د لومړي ځل لپاره په (۱۶۵۴م) کې په انګلیسي ادبیاتو کې کارول شوې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library


لیکوال لیترنر د ویلیام شکسپیر پر ترجمه شوي اثر یوه مقدمه لیکلې او وایي: د رومانسک (Romanesque) کلمه او د (Pitroresque) لفظ د دې
کلمې هغه لطیف تاثیرات او ملانکولي افکار نشي افاده کولی، چې په انګلیسي مفهوم کې ورسره شتون ولري، دلته دا ښاغلی په انګلیسي ادب کې د رومانتیک کلمې ښکلې بڼه ښیي. دا کلمه نه یوازې په انګلستان، بلکې په فرانسه کې هم د فکر وړ وګرځېده او زیاتو لیکوالو او شاعرانو ومونډله. په (۱۷۷۷م) کې روسو په (ګرځندویه منزوي اندیښنو) کې د دغې کلمې استعمال وکړ. لنډه دا چې په (۱۷۹۸م) کال د اکاډمۍ له خوا رسما ومنل شوه.) (۹: ۳۸۶م)

## د پانګوالۍ پیل او د فیوډالیزم زوال

د اتلسمې پیړۍ په لومړۍ لسیزه کې اشرافیان او فیوډالېستان ورو ورو د زوال خوا ته نیږدې کېدل، دوی په غیر اخلاقي فساد ککړاو تر منځ یې داسې څوک نه وو، چې خپلې مېرمنې ته وفادار پاتې شوی وي. دغې طبقې د ټولنې داسې ککړې خوښولې، چې عیاشۍ او ځان منې ته یې میلان ډېر و. دوی د پرمختللو اقتصادي او سیاسي طرحو په نه درلودلو له وټه ییزو او ټولنیزو ستونزو سره لاس اوګرېوان وو، ولس نور دې ته تیار نه وو، چې د یوې فاسدې طبقې امرونو ته غاړه کیږدي. اروپایانو د کلاسیکو لیکوالو له جوړو شوو اصولو څخه لرې والی اختیارکړ، نور یې دا فکر نه کاوه، چې هر راز نوې عقیده او فکر دې له کلاسېزم سره مخالف واوسي.
د لویدیځې اروپا ولسونه له حاکم وضعیت څخه د خلاصون او د ځان او مکان د تکامل په اړه په فکرونوکې ولوېدل، د فرانسې له ورځپاڼو یې لوستل پیل کړل او د نورو وچو د افرادو د ژوند او اند په هکله یې معلوماتو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ترلاسه کولو ته علاقه پیدا شوه. دوی غوښتل چې د اوولسمې پېړۍ له جهل او تورو تیارو ځانونه راوباسي او یوازې د طبیعت او د نه تغیرمنونکي عقل تر څنګ په نور واقعیتونو هم پوه شي. دغه نه تغیرمنونکو اصولو د دوی فکرونه او ولس په تیاره کې ساتلي وو او د موضوعاتو دننه هېڅ ډول تفکر، تجزئې او تحلیل شتون نه درلود. د اتلسم میلادي پېړۍ په اوایلوکې اروپایان د دې معقولې پر اساس چې (نړۍ له هغه چې تصور یې کېږي، ډېره پیچده اوکړکېچنه ده، نو ضروري نه ده، چې دګونګو اصولو رعایت ته دې غاړه کېښودل شي.) (۱۸: ۱۶۶م) نور ځانونه اړ نه بلل، چې دغه پخواني کلاسیک اصول مراعات کړي. دوی غوښتل په ادبیاتو، هنر او شخصي ژوندانه کې پر نویو لارو چارو غور وکړي. په اتلسمه پېړۍ کې نامتو فیلسوفان ولټر او مونتسیکو راولاړ شول او د روح قوانین، فلسفي لیکنې او د ځوارلسم لوئي د عصر تر سرلیک لاندې اثار یې منځته راوړل. حاکمې طبقې لا دمخه د علومو په برخه کې داسې قوانین وضع کړي وو، چې د زغملو وړ نه وو، خو په (۱۷۵۷م) کې د قانون له مخې کوم اثر چې محتوا به یې د اخلاقي مسائلو خلاف سکالو غږوله، لیکونکی به یې په مرګ محکومېده. زیاتره لیکوالو د همدغو اصولو په ماتولو سره ډېرکلونه د تورو تمبو شاته تېرل کړل، خو په اتلسمه پېړۍ کې دغه قوانین له پامه ولوېدل اوکله به چې لیکوال ونیول شو، د څو محدود ورځو وروسته به د ټولنې د عمومي فشار په پایله کې بېرته راخلاص شو. په (۱۷۶۲م) کې د ژاک روسو اثر محکوم کړای شو او روسو مجبور شو، سویس ته وتښتي. نظام لا وړاندې په (۱۷۵۲م) کې د دائرة المعارف چاپ ممنوع اعلان کړ، خو چاپ یې ونه درول شو.

د اتلسمې پېړۍ په لومړیوکې ولسونه له اشرافو په تنګ راغلل او د هر اړخیزو اصلاحاتو لپاره متفکرانو او لیکوالو د اشرافو پر ضد له پانګوالو (بورژاوزي) سره لاس یوکړ. د دوی مبارزې رنګ راوړ، د قلم او بیان

(c) ketabton.com: The Digital Library


ازادي، د دیني تعصب ختمیدل او پر جرم د تورنوکسانو نه ربړونه او وهل هغه لاسته راوړنې دي چــې نومونه یــې اخــېستلی شـو. د دغو لاسته راوړنو
اصلي سرچېنه د دائرة المعارف چاپ و، چې د دوو تنو لیکوالو ډیډرو او ډ. البمبرپه زیار لیکل شوی و. د دایرة المعارف چاپ فکري انقلاب ته لاره پرانیسته او د خلکو په اذهانوکې یې نوي فکرونه را وټوکول. په (۱۷۶۰م) کې فرانسویانو د ادبیاتو نوی والی احساس کړ او د ښکلا، هیجان او خیال پر لوري یې تمایلات زیات شول. د رومانتېزم تیوریکي بحث په المان کې شلګل شلینګ او نووالیس د ستر لیکوال موریتس د خبرو او بحثونو په پام کې نېولو سره مطرح کړ. له بلې خوا ماډام دواستال (۱۸۱۷-۱۷۶۶م) د المان په اړه یو اثر ولیکه، دې اثر د رومانتیک ښوونځي په پیدایښت کې ډېر ژور تاثیرات خپل کړل. البته ناپیلیون د دغه اثر زیاتې نسخې نابود کړې او په (۱۸۱۳م) کې په لندن او (۱۸۱۴م) کال په پاریس کې بیا ځلې چاپ شو. دغه کتاب په حقیقت کې د المانۍ ټولنې اندیښنو ته ځانګړی شوی و او په دې ډول دوی فرانسویانو ته ور زده کول، چې نور د دې وخت رارسیدلی، چې نوي پړاو ته وردننه شو. دا کتاب د فرانسویانو لپاره الهام ښښونکی و.

شمالي اروپایي هېوادونه که څه هم دکلاسېزم سرسخت ملاتړي وو، خو د روسو عقایدو د دوی پر اذهانو مثبت تاثیر غورځولی و، ډنمارکي شاعر ایوالډ (Ewald) هم د لویدیځې اروپا د بدلونونو هرکلی وکړ او دغو نوښتونو ته یې په خپلو اثاروکې ځای ورکړ. همداسې په سویډن، هسپانیې، ایټالیې او نورو هېوادنوکې دغه پراخ ادبي جریان وده ومونده او په دې ډول رومانتیکو افکارو په انګلستان، المان او شمالي اروپا پوره نفوذ وموند. البته په فرانسه کې د رومانتېزم یوازینی استازی چې د یادونې وړ بلل کیږي، ژان ژاک روسو نومیږي. ژاک د خپلو اثارو له درکه په ټوله اروپا د رومانتیزم اغېز

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپور کړ او روسي ادب هم له فرانسوي ادبیاتو څخه په دې برخه کې تاثیرات خپل کړي دي.

د رومانتیک کلمه د اوولسمې پېړۍ پر مهال په انګلستان کې په شاعرانه ډول تته راښکاره شوه، مخکې فرانسې ته وردننه شوې وه، د ډېر وخت لپاره په مترادف شکل د خیال او افسانې تر سرلیک لاندې وکارول شوه او تر (۱۷۷۵م) پورې په اوسني مفهوم رومانتېزم ونه کارېدله. هغه مهال دا کلمه هغو کلاسېستانو چې ماته یې خوړلې وه، د رومانتېزم د ملاتړو د مسخرې لپاره کاروله. کله چې د اتلسمې پېړۍ په اخرو کې رومانتېزم په انګلستان کې منځته راغی، له هغې ځایه یې المان ته لاره وموندله او په (۱۸۳۰م) کال فرانسوي ادبیاتو ته وردننه شو او بیا یې هسپانوي او روسي ادبیات تر اغېز لاندې راوستل. دا ښوونځی تر (۱۸۵۰م) کال پورې په اروپایي ادبیاتو حاکم و.

فرانسوی رومانتېزم د انګلستان او المان له رومانتیک ادب څرګنېږي. د لومړي ځل لپاره بریان انګلیسي او مادام دواستال الماني منظوم اثار فرانسوي ژبې ته را وژباړل. په فرانسه کې د ریچارډ سون، ولټر، ګویته او شېلر اثارو د رومانتېزم په پراختیا کې مهم رول افاده کړ. په لومړیو کې رومانتېزم په فرانسه کې د پردیو ادبیاتو تر تاثیر لاندې و، خو وروسته دومره غښتلی شو چې متفاوت او نه پخلا کیدونکي ادیبان یې هم سره پخلا کړل. لامارټین، الفره، الکساندر دوما، ویکتور هوګو، سنت، او ژرژ ساند چې د طرز تفکر پر اساس له یو بل ډېر لرې وو، د همدې ښوونځي په برکت تر ډېره بریده د یوې واحدې فکري دستګاه خاوندان شول. تر ټولو مهمه یې دا چې په اواخرو کې رومانتېزم په فرانسه کې دکمال درجې ته ورسېد چې د المان او انګلستان لپاره الهام ښبونکی شو. (۱۸: ۱۶۴م)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د رومانتېزم اصول

رومانتېزم د یو ادبي ښوونځي په توګه ځانته اصول او قواعد لري چې له نور مکتبونو په دې ډول خپله لاره بدلوي. د رومانتیک مکتب اصول پیچلي، بېل او مغلق دي، چې په لاندې ډول یې درپېژنم:

۱- په دې ښوونځي کې هنرمند فرد او احساس ته اهمیت ورکوي.

۲- عاطفه د عاطفې لپاره او احساس د احساس لپاره د اهمیت وړ دی.

۳- د ذهني خواهشاتو پیروي او له ثابتو اصولو څخه سرغړونه د رومانتېزم له مهمو اصولو شمېرل کیږي.

۴- د انساني عواطفو او معنوي مسائلو لوړوالي ته ترجیح ورکول د دې مکتب مهمه ځانګړنه ده.

۵-رومانتیکان د احساساتو په راپارولوکې هنر د یوې وسیلې په توګه کاروي.

۶- دوی د داسې ازادۍ غوښتنه کوي چې هنرمند په کې د ژوند هره برخه انځورکړای شي.

۷-طوفانونو او سرغړونکي طبیعت ښودلو ته لیوالتیا ښیي.

۸- پر داسې خوځون فکرکول چې د مانا له پلوه له رنګ او حرکت څخه ډک وي.

۹- پنځګر د ژوندانه د پېژندنې حالاتو ته په اندیښنه کې وي یعنې کشف او ناڅاپي پیدا کول یې ذاتي حیثیت دی.

۱۰- د رومانتکانو زیاتوالی یا افراط د دې باعث کیږي، چې واقعیت ته ورنېږدې شي. (۲۴:.م)

## د رومانتېزم ډولونه

رومانتیک ادب په خیالي نړۍ ټینګارکوي او د ژوند مبارزې او هیلې انځوروي. په دې ترسیم کې غیر عادي هېرو غیر عادي قرباني ورکوي، چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا ډول رومانتېزم ته د اکتیف رومانتېزم مفهوم کارول کېږي. ځینې بیا ورته د مترقي رومانتېزم نوم هم ورکوي. مترقي رومانتېزم او ریالېزم د ادب هغه دوه مهم مېتودونه دي، چې د خپلو ذاتي ځانګړتیاوو په لحاظ د پېښو په انځور او دژوندانه په باب د ستونزو د حل لارو په پیدا کولوکې له یو بل سره نه بېلېدونکي اړیکې خپلوي. دا ډول په ټولنه کې د نیمګړتیاوو په مقابل کې له مبارزو سره د بشر دوستۍ د پرنسیپونو ایډیال نه یو ځای کوي.

د رومانتیک ادب بل ډول ارتجاعي رومانتېزم دی. استاد دوست شینواری صاحب په دې اړه داسې لیکي:((... لیکوال واقعیت ډېر ښکلی کوي او بیا د هغه سره د هېرو د پخلا کولوکوښښ کوي، که له واقعیت نه د هغه پاملرنه د ژوند ژورو ته د تفکر، فلسفې او نورو په باب هیرو یو غیر عادي انسان ښودل کېږي. د رومانتېزم دغه ډول ته ماکسیم ګورکي بسیف رومانتزم وایي.)) (۸: ۱۳۳م) دا ډول رومانتېزم انساني تفکر له ژوند او د هغه په باب له حیاتي پوښتنو لرې کوي او په غیر حیاتي موضوعاتو یې مصروفوي او د انساني ژوند لپاره ځانګړې ارزښت نه لري. دا ډول صفات په ځرګند ډول په ناتورالېزم او سېمبولېزم کې شتون لري، چې وروسته به پرې بحث وشي.

## د رومانتېزم برنامه

## ازادي

(۱۸۳۰) میلادي کال د ادبیاتو انقلابي نېټه ده، په همدې کال ویکتور هوګو له ملګرو سره یو ځای رومانتېزم د تاودو بحثونو او مجادلو په ترځ کې د ازادۍ، هنر او شخصیت تر عنوان لاندې ټولنې ته وړاندې کړ. رومانتیک هنرمند روحي غوښتنو او احتیاجاتو ته ډېر ارزښت ورکوي او د دوی په فکر هغه څه چې هنرمند ته الهام وروبښي، مینه او علاقه ده. علاقه باید ازاده

(c) ketabton.com: The Digital Library


واوسي، که هنرمند د اخلاقي قوانینو او ټولنیز فشار لاندې راوستل شي، نو دا حق لري چې له ټولنې او اصولو څخه لرې والی اختیارکړي او د ځان لپاره داسې وړ چاپېریال برابرکړي، چې مخکښتوب یې په کې خوندي وي. ادبیات باید داسې قاعده ونه وسي، چې مینه او علاقه تر پوښتنې لاندې راولي. ادبیات کولی شي د ژوند هره برخه د موضوع په توګه ومني. دلته ښکلا، بدرنګي، ښه او بد ټول کولی شي ادبیاتو ته دننه شي او د انځورولو لپاره یې هرې تاریخي دورې او یا د نړۍ له هرې ښکلې منظرې ګټه واخلي.

## شخصیت

رومانتیک هنرمند له کلاسیکو قواعدو د خلاصون په لټه کې و، په هنر کې له فردي ازادۍ غږېدنه ځانګړی هدف بولي. دوی د هنر په وسیله غواړي د زړه غوښتنې او د روح دردونه وقایه کړي. د رومانتیک هنرمند دغه روش ته باید د ځان منني او له بشر څخه د تېښتې بڼه ور نه کړل شي. کلاسېسټانو د کرکټرونو د تمثیل لپاره خپل هېرو له ارباب النوعو، خدایانو او پهلوانانو ټاکه، خو رومانتیکان بیا د دغه تمثیل اجرا د رښتیني، غښتلي او احساس پال مبارز پر مټ ترسره او د کلاسېزم دا اصل هم تر پښو لاندې کوي. شخصیت ټاکنه د هر ادبي ښوونځي د اصولو ښکارندوی کوي، نو له دې کبله له یو بل توپیر لري.

## احساس او هیجان

عقل او طبیعت، زړه او احساس هم بېل وضعیت ته اړتیا لري. د انسان په روح کې داسې احساس غزونې کوي، چې له تفکر څخه خړوبېږي. هیله یې له اغېزمن حقیقت پرته بل څه نه دي، نو له دې طریقه د روح احساسات او میل د امکان تر حده د اخلاقو په چوکاټ کې تر بحث لاندې نیول کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


الفره دوموسه وایي: ((باید چې (هذیان) ساندې ووایو. موږ باید هغه څه بیان کړو، چې د شاعر له هیجان سره اړیکه لري او هغه څه چې باید لاسته ته یې راوړو، د خلکو هیجان دی.))

## تېښته

د چاپېریال ناروغي او د ټولنې له مریض روح نه فضا، اسمانونو او پخوانیو تاریخي دورو ته تېښته د روماتیکو اثارو یوه خاصه ځانګړنه ده. روهي صاحب هم دې موضوع ته داسې اشاره کوي:((کله چې شاعر د ټولنې د مریض روح لپاره د علاج وسیله نه شي موندلی او د اجتماعي اصلاحاتو لپاره څه چاره نشي سنجولی، د خیال پر وزرو سپرېږي، په شنو چمنونو، سمسورو باغونو، وچو دښتو، ګڼو ځنګلونو، د اسمان په لمن، د شفق په سره ګرېوان او د تیارې په ناپایانه بحر کې د نسیم په شان سرګردانه ګرځي. ... له مړو سره خبرې کوي، شپې له تیارې سره راز او نیازکوي، خپل سرکش او طغیاني احساسات او مالیخولیایي افکار اظهاروي او له عقل څخه انتقام اخلي.)) (۹: ۳۸۳م)

## تاریخي، جغرافیوي سفرونه

لیکوال او پنځګر د ټولنې له رنځور حالت څخه د تېښتې لپاره تاریخ او جعرافیې ته پناه وړي، په خیالی نړۍ کې بلې ځمکې او هېوادو ته پرواز کوي. موسه په خوب کې طلایي دوره او د رنسانس جلال او عظمت ویني. هنرمندان، لیکوال او شاعران په خپلو اثارو کې د هغه وخت احساس، فکر، مهرباني او د انسانانو کره وړه ستایي.

## تیاتر

د کلاسېزم او رومانتېزم ترمنځ د مبارزې اصلي میدان د تیاتر صحنه ده. ویکتور هوګو په (۱۸۷۲م) کال د (کرامول) د ډرامې په مقدمه کې دغه

(c) ketabton.com: The Digital Library


مبارزه پیل کړه او د ډرامې له لارې یې د حقیقتونو انعکاس د بېل طرز له لارې ښه وباله. کلاسیستانو حقیقت په تنګ چوکاټ کې ساتلی و، اجازه یې نه ورکوله، چې د ژوندانه هره برخه دې صحنې ته لار بیاومومي. دوی حقیقت له ښکلا لرې ساتلی و او د فردي صفاتو پر ځای یې عمومي ستاینو ته ترجیح ورکوله. دلته د فرد خیال، هوښیارتیا، اند او ... د زغملو وړ نه و، خو رومانتېزم بیا د واقعي طبیعت غوندې سلوک غوره کړ. دوی اجازه ورکړه، چې د انساني ژوندانه هره پېښه وکولی شي تیاتر ته لاره بیاومومي.

په اوولسم قرن کې تیاتر له حرص او تنګ نظرۍ سره لاس اوګرېوان و، په نولسم قرن کې دغه حرص او تنګ نظري له ټولو ځانګړتیاوو سره یو ځای صحنې ته وړاندې کېده. کلاسیک قهرمان په ایډیالي نړۍ کې ژوند کاوه، چې په هېڅ هېواد او دوره پورې اړه نه لري. کلاسېسټ هنرمند هم خپلو قهرمانانو ته یو بېل رنګ او یا بېل چاپېریال نه و ښنلي. ښه پوهېږو که چېرې صحنه رنګونه او نوښتونه ونه لري، بې کټې ده. رومانتېزم دکلاسیک ادب پر خلاف انساني طبقه ازاده پرېږدي، له دې طریقه ازاد ژوند کوي او د محیط اغېزمنتیا مني. ویکتور هوګو وایي:((تیاتر د واقعیتونو ښکاره کوونکی دی. هر هغه څه چې په نړۍ، تاریخ او ژوند کې وجود لري باید په تیاترکې وړاندې شي.)) (۱۳: ۱۸۷م)

## رومان

د رومان د پیدایښت پړاوونه لرغوني بنه لري او تر میلاده رسیدلی شي. کلاسیک لیکوال رومان لیکلو ته زړه نه ښه کاوه او نه یې هم په خپله دوره کې د ارزښت وړ بللی. په رومانتیک پېرکې رومان د نورو ژانرونو په پرتله لا مخکښتوب او اهمیت تر لاسه کوي، رومانتیکان د رومان په موضوع کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



رواني او شخصي موضوعات انځوروي او دا ډول موضوعات شخصي رومان رازيږوي. په دې عصر کې د جالبو او زړه بوږنونکو حوادثو شتون تاريخي رومان او له مينې سره اړيکې او له ژوند سره علاقې دې ته لاره هواره کړه، چې عشقي رومان رامنځته شي.

رومان ليکنه په اساسي ډول په رومانتيک عصر کې په داسې ډول منځته راځي، چې هره موضوع په کې بيانيدلی شي او د ليکوال روح انعکاسوي. په دې دوره کې تحليلي او رواني رومانونو ډېر ژور تاثيرات شيندلي وو. د نثر په برخه کې ويکتور هوګو يو غښتلی نوم لري، نوموړی په خپل اثر (سړی، چې خاندي) کې باندينې نارضايتوب له داخلي ښکلا سره ګډوي او په (بينوايان) کې بيا د انسان ژوند له شومو قوانينو سره دکشمکش په لومړۍ مرحله کې انځوروي او د هغه ناخوالو او بدمرغيو يادونه کوي، چې روح مايوسه کوي. سره له دې چې رومانتيک رومان له رياليستي رومان سره جوت توپير لري، خو رومانتيک رومان د رياليستک رومان لپاره الهام ښښونکی رول افاده کوي. د وخت او ځای له هماهنګۍ سره علاقه، ټولنيز مسائل او د فرد او ټولنې تر منځ اړيکې هغه ټکي دي، چې د دغو دواړو رومانونو ترمنځ اړيکه پيدا کوي. لکه څنګه چې په رومانتيکو ټولنيزو رومانونو کې د رياليزم نښې راڅرګندېږي، همدا شان د رياليزم دورې ستر ليکوال بالزاک، استاندال، جنبه داسې رومانونه ليکي، چې رومانتيک خوند او رنګ لري، يعنې دلته يو ډول همرنګي رامنځته کيږي. (۱۸: ۱۹۳م)

## رومانتېزم په اروپا کې

### فرانسه


په (۱۸۳۰م) کې رومانتېزم په فرانسه کې دکمال درجې ته رسيدلی و. په همدغه کال په فرانسه کې سياسي ستونزو د ليکوالو کډه فکري بنسټونه له

(c) ketabton.com: The Digital Library



منځه یو وړل، دوی په یوه او بله بڼه له یو بل جدا شول. ځینې لیکوالو ان تر دې چې په مستقیمه توګه سیاست ته وردننه شول. د سیاست او قدرت سره علاقه د دې باعث شوه، چې ځینې لیکوال له رومانتیک ښوونځي ځانونه لرې وګڼي. الفره دوموسه په (۱۸۳۶م) کال یوکتاب چاپ کړ، چې محتوا یې د رومانتیکو اصولو هېڅ راز پیروي نه کوله. نوموړی همدا شان له هوګو سره د عقیدې او نظر په اساس اختلاف پیدا کوي او په دې ډول ورو ورو رومانتېزم مخ پر ځوړ روانېږي. یوازې ویکتور هوګو و، چې تر ډېرې مودې پورې یې اشعارو لیکلو ته د همدغې مکتب د سبک په پیروۍ ادامه ورکړه. هوګو ته د رومانتېزم د پلار لقب هم ورکړ شوی دی. رومانتېزم په فرانسه کې د اتلسم قرن له نیمایي وروسته د منځه تلنې په حال کې و. په فرانسه کې رومانتیک لیکوال عبارت دي له: ویکتور هوګو (بنسټ اېښودونکی)، ژان ژاک روسو، شاتو بریان، لامارټین، استاندال، الکسند دوما او ... . (۲۷: ۱۳م)

## ویکتور هوګو (۱۸۰۲ - ۱۸۸۵م)



هوګو د (۱۹) مې میلادي پېړۍ نړیوال نامتو فرانسوی شاعر، لیکوال او سیاستوال دی، چې په (۱۸۰۲م) کال یې د فرانسې په بزانسون کې نړۍ ته سترګې غړولې دي. له وړکتوبه یې له هنر، لیکوالۍ او ادب سره مینه درلوده، په ۱۳ کلنې کې یې د ښه شعر لیکلو له امله جایزه واخېسته او د شاتو بریان لخوا ورته د عالي ماشوم لقب ورکړل شو.

د هوګو کوچنیوالی د ناپیلیون امپراطورۍ پر وخت په اروپا کې د جګړه ییز شور ماشورکوربه و. پلار یې د ناپیلیون وتلی جنرال و، چې د هسپانیې او ایټالیې په جګړو کې ویکټور له ده سره هلته څه وخت تېرکړی و. له ټولنیز او

(c) ketabton.com: The Digital Library



سیاسي چاپېریال زده کړه او له لویو لیکوالو سره ناستې نوموړی د لا سترو بریاوو پر لور وهڅاوه. هوګو د ښوونځي تاند او هڅاند زده کړیال و، چې په شعر او ادب کې یې پوره نوم ایستلی و. هوګو لومړۍ شعري مجموعه په اوولس کلنۍ کې له چاپه راووېسته، په (۱۸۴۱م) کې یې د فرانسې د فرهنګستان غړی شو او لس کاله وروسته یې ډېر ښکلي اثار (د مجازاتو پالل، لیدنې، افسانوي پېړۍ) وپنځول. (۳۷: ۹م)


هوګو په (۱۸۴۸م) کال په فرانسې کې د واک پر سر راپورته شوو نندریو کې د سلطنت غوښتونکو له ډلې سره یوځای شو. ناپیلیون د ده په شمول لسګونه سیاستوال د تاوتریخوالي په تور له فرانسې تبعید اعلان کړل، هوګو بلجیم او ورپسې انګلستان ته ولاړ، خو د تبعید ډېره موده یې دکرنسي په جزیره کې تېره کړه. په (۱۸۷۰م) کال هوګو بېرته فرانسې ته راستون شو، چې د فکر زړی یې هنر او ادب جوړاوه. پاتې دې نه وي، چې هوګو همدا مهال د ستر شهکار (بینوایان) په لیکلو پیل وکړ. د دې اثر ارزښت دومره زیات دی، چې د هر وګړي لپاره د لوستلو ذوق راپاروي.

زیاتره لیکوال هوګو د رومانتېزم پلار بولي او پراخ پرمختګ یې د ده پر غاړه ور اچوي. هوګو په (۱۸۲۷م) کال دکرامول تر عنوان لاندې ډرامه ولیکله. په دې اثر باندې پراخه، له ارزښته ډکه او نوې مقدمه ولیکل شوه، چې د ادب خواخوږو د رومانتېزم د مرامنامې نوم ورکړ. رومانتېزم له دغه مقدمې سره جوخت رسمي بڼه پیدا کړه او ولسونو د یو خپلواک ښوونځي په توګه ومانه. هوګو بلاخره د (۸۳) کالو په عمر د زړه ناروغۍ له امله له دې نړۍ سترګې پټې کړې، وصیت یې له خپلې پانګې بې وزلو ته د پنځوس زرو پرانګو وېشنه او له ولس دعا غوښتنه وه. نوموړی له کلیسا بې زاره او پر خدای (ج) د ټینګ ایمان خاوند و. د رومانتېزم د پیل او پای سره د هوګو نوم تړلی دی، په فرانسوي ادب کې د هوګو نوم او ادبي کارنامې، لکه

(c) ketabton.com: The Digital Library


ځلانده ستوري ځلیږي. دا یوازې فرانسه نه ده، چې په خپل تاریخ کې یې هوګو ته ځای ورکړ، بلکې د اروپا ډیری هېوادنه د ده ادبي زیږونې ستایي او د ده لوړ خیالونه او ادبي ځواک بې ساری ګڼي. (۲۵: ۲۵۳م)

## ژان ژاک روسو (۱۷۱۲ - ۱۷۷۸م)



ژاک روسو په (۱۷۱۲م) کال په ژنیوکې نړۍ ته سترګې غړولې دي، مور یې له زیږیدو نهه ورځې وروسته ژوند له لاسه ورکړ، چې پالنه او روزنه یې پلار ته ور په غاړه شوه. پلار یې هم د ځینو جرمي کړنو له مخې د زوی پالنه خپل ورور ته چې یوکشیش و، وسپارله. د روسو اسلاف له اصله فرانسویان وو، خو په (۱۵۴۹م) کې دکاتولیکانو له وېرې ژنیو ته را کوچیدلي وو.

ژان تقریبا د دولسوکالو و، چې د پلار له اجازې پرته یې ژنیو پرېښود او فرانسې ته ولاړ. په دې هېوادکې نوموړي له یوې فرانسوۍ کاتولیکې مېرمنې لوییز دو وارانس سره اشنایي پیداکړه او د هغې په ملګرتیا کاتولیک ته واوښت. روسو په خپل اثر (اعترافات) کې دا مني، چې دا مېرمن چې له ده دیارلس کاله مشره وه، ورسره د مینې تارونه غځولي وو. روسو ښېل انسان خو رېښتینی دی، د ځان په اړه یې ټولې سمې او ناسمې کړنې بیان کړې دي او همدا علت دی، چې ناسموکړنو یې شخصیت ته ډېر زښت زیان رسولی دی. دکاتولیک مذهب د منلو په برخه کې یې دومره لیکلي، چې نوموړی له فقره د خلاصون له مخې داکار کړی و، نه د ایمان او عقیدې له مخې. (۲۴:م)

روسو ډېر اثار او مقالې لري، له مطالعې سره یې زیاته مینه لرله او د فرانسې له وتلو لیکوالو شمېرل کیږي. ژان له څه وخت وروسته ساوو ایالت ته سفرکوي، خو ډېر ژر په (۱۷۴۲م) کې بېرته د یو نوی سبک د ایجاد په

(c) ketabton.com: The Digital Library



لټون پاریس ته راستنېږي او له مهموکسانو سره ملګرتیا پیلوي. د همدغو پېژندنو پر اساس نوموړي د یو څه وخت لپاره په وینزکې د فرانسې د سفیر د منشي په حیث خپله دنده پرمخ وړله. روسو د مذهب سره کومه خاصه دلچسپي نه درلوده، تل یې له کلیسا او پاپانو څخه د ولسونو د خلاصون فکر درلود. دې لیکوال د نورو مشهورو لیکوالو (ولټر، بوفون، منتسکیو) سره یوځای د دایرة المعارف په لیکلو پیل وکړ او د فرانسې حکومت او مذهبي روحانیونو یې د نېولو امر صادرکړ. په دې دایرة المعارف کې داسې فلسفي او ویښونکې لیکنې ځای پر ځای شوي وې، چې د عامه شعور د وېښتیا لپاره یې زمینه برابروله. د نوموړي نور اثار (نوی هلوئیز، امیل، اجتماعي تړونونه، د موسیقۍ فرهنګ، له غرونو لیکونه) نومېږي. (۳۷:۲۵م)

د ژان روسو اخري ژوند له سختیو اوکړاوونو سره مل و، چې وروسته ورته عصبي ناجوړي هم پیدا شوه. نوموړي بلاخره په (۱۷۷۸م) کې له دې نړۍ سترګې پټې کړې، خو ځینې نور بیا ادعا کوي، چې ګواکې روسو په خپله ځان وژلی دی. (؟)

## انګلستان

ویلیام بلیک (۱۷۵۷- ۱۸۲۷م) رومانتیک شاعر او انځورګر وایي:(( په هغه ځای کې چې خوښي نه وي، مانا چې انسان شتون نه لري!!)) رومانتېزم په انګلستان کې ډېر اوږد تاریخي پس منظر لري، د اوولسم میلادي قرن په پای کې د فرانسې له انقلاب وروسته انګلستان د نړۍ په سطحه د شهرت له پلوه د پرمختګ لوړ پړاوونه وهل. د رومانتېزم دورې د لیکوالو او هنرمندانو (کالریج، زورث، بلیک) ترمنځ واحد او منلی شوی نظر نه و موجود، چا د فرانسې له انقلابه ملاتړ نه کاوه، ځینې یې بیا په مخالفت کې ولاړ وو. دا مخالفتونه د انساني طبیعت نورو برخو ته هم

(c) ketabton.com: The Digital Library



وغزېدل، خو ځینې یې په دې وتوانېدل، چې د ریالیستي رومان لپاره لار او زمینه برابره کړي. انګلیس نامتو رومانتیک لیکوال ویلیام ورډ زورث، لارډ بایرون ، ویلیام بلیک، ساموېل ټېلر کالریج نومېږي.

**ساموېل ټېلر کالریج (۱۷۷۲-۱۸۳۴م):** شاعر، لیکوال، فیلسوف او د



رومانتیک سبک ستر نقادکالریج په (۱۷۷۲م) کال د اکتوبر میاشتې پر (۲۱) نېټه نړۍ ته سترګې پرانیستې دي. نوموړی د ویلیام زورث سره یوځای په انګلستان کې د رومانتیک ښوونځي له بنسټ والو شمېرل کیږي.دکالریج دوه منظوم اثار(زوړ جاله وان، ...) نومېږي او منثور اثر یې (ادبي بیوګرافي) دی، چې د شهرت په برخه کې یې ساموېل نړیوالو ته ورپېژندلی دی. ټېلر د شکسپیر په اثارو هم څېړنه کړې ده او په فلسفه کې له امرسون زیات متاثر شوی دی. پاتې دې نه وي چې دا لیکوال تر ډېره بریده له رواني ستونزو سره لاس او ګرېوان و او د ژوند ډېره برخه یې تشوېش او اضطراب خوړلې وه.کالریج بلاخره د(۶۱) کلونو په عمر ومړ او په انګلستان کې خاورو ته وسپارل شو.(۲۲:م)

## ویلیام ورډ زورث (۱۷۷۰-۱۸۵۰م):



لیکوال او شاعر زورث په (۱۷۷۰م) کال د اپریل پر (۷)مه د انګلستان په کامبرلېنډ کې نړۍ ته سترګې پرانیستې دي. پوره نهه کلن و، چې مور یې له لاسه ورکړه او په روحي فشار اخته شو. په (۱۷۸۷م) کال له خپل پلار سره یوځای کېمبرېج، چې د خوښې ور یې نه و، راوکوچید. زورث هغه مهال بدلون وموند، کله چې په (۱۷۹۰م) کال د تحصیل پر مهال داسې فرانسې ته ستون شو، چې د انقلاب او مثبت خوځون لپاره حالت

(c) ketabton.com: The Digital Library



جوړ شوی و. د فرانسې انقلاب د ویلیام شعوري وېښتیا راویښه کړه او په چټکتیا یې په انګلستان کې د بې عدالتۍ او فقر پر وړاندې مبارزې ته را ودانګل. زورث په دې مبارزې کې له بل هڅاند سړي کالریج سره په برېستول کې اشنا او له ده سره یې د رومانتیک شپیلۍ غږولو ته ملا وتړله. په (۱۷۹۸م) کال دوی دواړو (د غنایي اشعارو ترانې) تر عنوان لاندې د اشعارو مجموعه له چاپه را ووېسته او په دې ډول یې په انګلیسي ادبیاتوکې یوه نوې دوره پیل کړه. (۲۴:.م)

دغه طبیعت پالونکي شاعر په (۱۷۹۹م) کې له خپلې خور سره د انګلستان په شمال غربي سیمه لېک ډېسرټ کې استوګنه پیل کړه او له ګلانو، چمنونو، ښکلو زړه راښکونکو منظرو او دریابونو سره یې ورځنۍ ناسته پاسته درلوده، له همدې کبله یې په شعرونوکې طبیعت ډېر غږېدلی دی او همدا لامل دی، چې ورته طبیعت پال شاعر هم وایي. په (۱۸۰۲م) کې زورث له م. هاچینس سره واده وکړ او د عمر تر پایه یې شعر لیکلو ته ادامه ورکړه، چې بلاخره یې د اتیا کلونو په عمر خپل ژوند له لاسه ورکړ او ځان یې د مرګ غېږې ته وسپاره. د(۱۸۴۳-۱۸۵۰م) ترمنځ نوموړی د انګلستان ملک الشعراء یاد شوی، چې دا عنوان ورته د هغه وخت د سترو هستیو له لوري ټاکل شوی وو. پاتې دې نه وي، چې په انګلستان کې رومانتېزم تر (۱۸۳۴م) او له هغې وروسته یې هم په انګلیسي ادبیاتو راج وچلاوه.

## المان

په المان کې د رومانتېزم پیدایښت له (۱۷۹۷م)کاله راپیلېږي. په همدې کلونو کې الماني لیکوالو د رومانتیک ادب په پیروۍ رومان او مقالې ولیکلې. د دغو لیکنو په محتوا کې خیال، درد او عاطفې ته ځای ورکړ شوی و.الفر دوموسه لیکي رومانتېزم المانی شعر دی. الماني رومانیتکان هم

(c) ketabton.com: The Digital Library



په اواخرو کې د نورو په څېر د ناراضیتوب له امله د الماني کلاسېسټانو ګویته او شېلر افکارو ته ستنیږي او د رومانتېزم له مفهوم څخه ځانونه لرې کوي.

## روسیه

په روسیې کې د لومړي ځل لپاره شاعر ژوکووسکي (۱۷۸۶-۱۸۵۲م) د تقلید له مخې ډېر اثار ولیکل، خو په روسیې کې یې ځلانده ستوری الکساندر پوشکین (۱۷۹۹-۱۸۳۷م نومیږي. پوشکین د فوق العاده استعداد او هیجاني روح په درلودلو داسې احساساتي اشعار ولیکل، چې قفقاز او کریمیې ته یې تبعیدکړ. نوموړي د ولتېر غوندې حماسي اثار ولیکل، دی له شکسپیر او بایرون الهام اخېستوونکی بلل شوی. د ده یو بل اثر چې غنایي اشعار په کې خوندي دي (قفقاز زنداني) نومیږي. پوشکین نه یوازې په روسیې کې د نوي شعر باني دی، بلکې د نړۍ په سطحه د سترو رومانتیکو شاعرانو په کتارکې راځي. په شعرونو کې یې تخیل، ښکلا، عاطفه او احساس له ورایه ښکاري. په روسیه کې بل رومانتیک شاعر لرمانتف (۱۸۱۴-۱۸۴۱ م) نومیږي، چې رومانتیک اثار او اشعار یې پنځولي او له بایرون او الفره څخه یې په مستقیم ډول تقلیدکړی دی. (۲۴: م.)

## الکساندر سرګیوېچ پوشکین (۱۷۹۹- ۱۸۳۷م)

لیکوال او شاعر پوشکین د رومانتیک سبک یو نابغه لیکوال دی، په (۱۷۹۹م) کال د جولای میاشتې په (۶)مه نېټه په مسکوکې نړۍ ته راغلی، چې د روسي ژبې ستر شاعر او د معاصرو روسي ادبیاتو بنسټ ایښودونکی بلل کیږي. اسلاف یې اصیل روسان او با فرهنګ خلک ښودل شوي، چې اوږده تاریخي سابقه لري. دا شاعر په خپل لومړي شعر چې د عمر په پنځلس کلنۍ کې یې لیکلی، د ټولنیزو اصلاحاتو په ملاتړ انتقادي خبرې

(c) ketabton.com: The Digital Library



غږوي. د ده زیاتره اشعار سیاسي، ټولنیز او اصلاحي مسائل بیانوي او ډېری شعرونه یې فصیح او روان دي. نوموړی له فرانسوي ژبې سره د ځانګړې علاقې له مخې فرانسوي ادب ته ورننوځي او د دغې ژبې په چوکاټ کې لیکل شوي ادبي کتابونه او رسالې مطالعه کوي. الکساندر په شعرکې د دولت خلاف د ټولنیز عدالت او د ولسي سمون ایډیال غږاوه، نو له دې وجهې د حکومت لخوا د انقلابي اشعارو د ویلو په تور په ونیول شو. د ژوند له دې ترخو خوړو وروسته یې مالداویا ته سفر وکړ او د فیلیکي اتریا د سیاسي خوځوون د هغې برنامې ملاتړی شو، چې له عثماني امپراطورۍ یې د یونان ازادي او استقلال غوښت. دا ښاغلی بلاخره په (۱۸۲۳م) کې اوډېسا ته راستون او د مامور په حیث یې دنده پیل کړه، تر څنګ یې د غربي ادبیاتو پر مطالعې بوخت شو او هم یې د دې ښار له فرهنګ پالو سره نیږدې اړیکې پیدا کړې، خو د حکومت لخوا ډېر ژر تبعیدکړای شو. پوشکین د ستونزو د هواري په موخه له تزار (لومړي الکساندر) سره خبرو ته کېناست او ډېرې ستونزې یې راکمې کړې. د ده منظوم اثار خورا زیات خو ښکلي او زړه وړونکي دي، بېل ټولنیز، عشقي او سیاسي مسائل یې په دغو اثاروکې بیان کړي دي. د ځېنو اثارو نومونه یې په لاندې ډول دي:

- روسلرن او لیودمیلا (۱۸۲۰م)
- د قفقاز زنداني (۱۸۲۲م)
- دواړه وروڼه (۱۸۲۲م)
- ګاوریلیادا(۱۸۶۱م)
- کولیها (۱۸۲۴م)
- بوریس ګودونوف (۱۸۲۵م)
- پولتاوا(۱۸۲۹م)

(c) ketabton.com: The Digital Library



- کولومانه سراچي (؟)
- طلایي مارغه (۱۸۳۴م)
- د بوکاچف د شخړې تاریخچه ( ۱۸۳۴م)
- دوبروفسکي (۱۸۴۱م)
- تابوت جوړونکی (؟)
- تور دام (؟)
- مسخره او ژوند (؟)
- توري نجونې (؟) (۲۲: م)

په (۱۸۳۱م) کې پوشکین له کومیډیک لیکوال نیکولی ګوګول سره لیده کاته وکړل، د هغه له کومیډیکو داستانونو ډېر متاثر او په همدې کال یې له اغلې ناتالیا ګونچارووا سره واده وکړ. له واده وروسته نوموړی دربار ته لا نیږدې شو، خو تزار ورسره کومه ځانګړې دلچسپي ونه ښوده او په دې ډول د پوشکین زړه مات شو. په (۱۸۳۶م) کې یې مور د سختې ناورغۍ له امله خپل ژوند له لاسه ورکړ او مړینې یې پر نوموړي بده اغېزه وکړه. له بله پلوه یې مېرمنې له یو فرانسوي ځوان جورج دانتېس سره د مینې تارونه غځولي وو چې پوشکین یې دغه کړنه ونشوه زغملی او له دې ځوان سره د فزیکي شخړې وروسته د چاکو د سختو ټپونو له امله په (۱۸۳۷م) کې ساه ورکړه او په روسیه کې خاورو ته وسپارل شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ریالېزم (رېښتیا پالنه)

د ریالېزم بنیادي زړی د یوې تاریخي پدیدې په ډول د بشر له رېښتیني فکري تکامل سره سم راشین کېږي. کله چې انسان د ټولنې د پېژنګلوۍ او د تکامل بهیر تر غور لاندې ونیو، نو پوه شو، چې د انسانیت مفهوم د مادې پر سیوري پټ دی. ریالېزم خپله موضوع له معاصرې نړۍ او په هغې کې د شتو مسائلو له جملې ټاکي او پر ځان د حقیقت پېریان کېنوي، تر څو د رومانتېزم پر خلاف پر تخیل او هیجان حاکمیت پیدا کړي. دا یو عیني او غیر شخصي ښوونځی دی، چې د رومان اتل یې عادي وګړی او د ټولنې د غریبې طبقې برخه جوړوي. د ریالېزم کلمه په اصل کې د لاتیني ژبې له ( Realis) څخه چې مانا یې واقعیت ده، اخېستل شوې او د (۱۸۳۰-۱۸۸۰م) کلونو ترمنځ اوږده دوره په برکې نیسي.

د اتلسمې پېړۍ له اولې لسیزې تر پنځمې لسیزې پورې د رومانتیکو هنرمندانو ترڅنګ فیلسوفانو، ټولنپوهانو او مورخینو ناسته ولاړه درلوده، چې ځینې وخت به یې رومانتیک تمایلات تائیدول او ځینې وخت به یې بیا داسې مسائل بیانول، چې په کلي توګه له رومانتیکانو مختلف وو. رومان لیکونکي یې زیات سرکش او ځانونه به یې د دې ښوونځي له قوانینو ناپامه اچول. د رومانتېزم سقوط هم له دغې ځایه پیلېږي، چې په پایله کې یې احساساتي رومانتیکانو ماتي وخوړه او ټولنیز رومانتېزم رواج وموند. د ناپیلیون د امپراطورۍ له سقوط وروسته ځېنو لیکوالو هڅه کوله، چې ټولنیز نظام تغیرکړي، خو له احساساتي رومانتیکانو سره یې توپیر په دې کې و، چې شخص یې پر ټولنې لوړ نه ګاڼه. دوی په یو نه یو ډول د سوسیالېزم پر لورې ځانګړی تمایل درلود او په دې اند وو، چې په ټولنه کې ټولې بې نظمۍ له دې لارې پیدا کېږي، چې یوه کوچنۍ طبقه د هېواد سرمایه په لاس

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې اخلي او بیا په خلکو ستم کوي. دغه نظریات د دې باعث شول، چې ریالیستي افکار ورو ورو راوټوکیږي او د بدلون لپاره لار پرانېزي. د دغه نظر خاوندان ریالېستان نه وو، خو د دوی نظریاتو او څېړنو دې ته لار هواره کړه، چې په راتلونکي کې کوم لیکوال او هنرمند په خیالاتو کې ډوب نشي، بلکې واقعیت بیا مومي او هغه ته د عمل جامې ور واغوندي. (۱۳: ۲۶۹م)

دا حقیقت دی، چې نولسمه پېړۍ د بشر په تاریخ کې له خاص اهمیت او ارزښت نه برخمنه وه، په دې پېړۍ کې د انساني ژوندانه په هره خوا کې نوښتونه رامنځته شول او پر ډېرو مغلقو او پېچلو مسائلو یې څېړنې پیل کړې. اختراعګانې رامنځته شوې، نوو موندنو ته لاره هواره شوه او دغه ټولې لاسته راوړنې د انسان د فکر او څېړنو محصول شمېرل کېدې. ماشین الات، د اورګاډي د بخار بدلونونه، برېښنایي الات، الوتکې، فضايي بېړۍ او په صنعت کې وده د (۱۹)مې پېړۍ د انسانانو په زیار رامنځته شوي دي. د فرانسې له انقلاب وروسته سرمایدارو د مشین الاتو په ذریعه وکولی شول ټولنه تر خپل واک او اغېز لاندې راولي. تجارانو او لويو پانګوالو د فردي سرمايې د ډېرښت لپاره د انسان په پرتله ماشین الاتو ته ډېره ترجیح ورکوله، د الاتو په ډېروالي سره پرېمانه بې کاري رامنځته شوه او په دې ډول د بزګرې او کارګرې طبقې حقوق تر پښو لاندې شول. د پانګوالو کړنو د انسانانو تر منځ په اجتماعي اړیکو او د خلکو په ذهنیتونو کې هم پراخ تغیر راوټوکاوه. په دې دورکې طلا د شرافت او حیثیت معیار وګڼل شوه، د طلا څښتنو له خپلو شتمنیو څخه د ازادۍ ناره پورته کړه او په دې ډول د سیاست، اقتصاد، تجارت، هنر او ادب له اړخه هم د ازادۍ غږونه پورته شول، روهي صاحب په دې اړه لیکي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



((دغه تاریخي نهضت چې د لبرالېزم په نامه یادیږي، د خپل وخت شعار ګرځي، د اقتصاد لیبرالېزم تقلید په هنر او ادب کې د ازادۍ عنصر غلبه مومي او د ریالېزم ادبي مکتب منځته راځي.)) (۹: ۳۹۳م)

((ریالېزم د رومانتېزم پر خلاف واقعیت ښکاره کوي او هنرمند د ریالېزم پر بنا د ټولنې ښکلاوې، ناخوالې او حقیقتونه راسپړي. بنیادي غوښتنې یې د ملت، تاریخ، لوړ هنریتوب او د اروا ترسیم دی. د ریالېزم اساسي حقیقت ته د ورته والي تناسب او په واقعیت کې د انساني ژوند روح جوړوي، ریالېزم د ژوند د نویو بڼو جوړونه د نویو روحي او ټولنیزو ټیپونو په انځورونو کې د ښکاره کولو وړتیا لري.)) (۳: ۱۲۰م)

رومانتېزم او ریالېزم داسې ادبي مېتودونه دي، چې له حقیقت سره د هنرمند دوه ډوله اړیکې ښيي. ارستو په بوتیکا کې دغه حقیقت ته لا وړاندې ګوتځنډنه کړې ده، نوموړي د لرغوني یونان له دوو انځورګرو (سفوکل، ایفرپیډ) یادونه کوي، چې لومړی یو یې انسان داسې انځوروي لکه څنګه چې باید وي او دویم یې داسې ترسیموي لکه څنګه چې دی.

د اتلسمې پېړۍ تر نیمایي وروسته رومانتېزم مخ پر ورکېدو و، یوازې ویکتور هوګو او نورو پنځګرو رومانتیکو اشعارو لیکلو ته دوام ورکاوه. ریالېزم له (۱۸۳۰) میلادي کال وروسته په تدریجي ډول راڅرګند شو، دا ښوونځی (( د ژوند د هغو ریښتېنو واقعیتونو انعکاس دی، چې هنرمند او لیکوال یې د خپل چاپېریال د اړیکو په هینداره کې ګوري. ریالېزم په ادب او هنرکې یوه داسې مېتودیکه لاره ده، چې له لیکوال او هنرمند څخه د پېښو د بشپړیدو ریښتینی ترسیم او تصویر غواړي. د همدې اصل پر اساس کوم اثار چې ژوند یې په حقیقي ډول راسپړلی وي، ریالستیک اثار بلل کیږي.)) ریالېستان د پانګوالو پر ضد راپاڅیږي او د نوي تفکر په کشف سره نوې لاره پیدا کوي. (۲۸: ۱۱۰م)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د بالزاک تیاتر (د ریالېزم تاریخي شالید)

فرانسه د ریالېزم د پیدایښت لومړنی زېږنځی دی، ریالېزم په هنر او ادب کې یو داسې مېتود دی، چې پنځګر یې د واقعاتو ترسیم او انځورونه په حقیقي بڼه غواړي. ریالېزم له انساني ژوند او واقعیت سره نه شلیدونکې اړیکې ساتي او د تخلیق اصلي کرکټرونه داسې جوړوي، چې د یوې ځانګړې ټولنې د انسانانو مشخص صفات د پېښو په تفصیل کې منعکسوي. د ریالېزم رېښې اوسنۍ نه، بلکې د هومر تر دورې پورې رسېږي او ریالېستان بیا هومر د ریالېزم او ایډیالېزم پلار ګڼي. په اتلسمه پېړۍ کې د اجتماعي او اقتصادي حالت د بدلولو لپاره یو نوی ادبي جریان رامنځته کېږي، چې د منځنۍ طبقې غوښتنې او ارزوګانې انعکاسوي. دوی د اشرافیت پر وړاندې ودرېږي، حال دا چې د نولسمې پېړۍ ریالېزم بیا د موجوده وضعې د اړولو فکر لري. (۹: ۳۹۶م)

بالزاک (۱۷۹۹-۱۸۵۰م) د ریالېزم ستر سرلاری او بنسټ اېښودونکی ګڼل کېږي، د اتلسمې پېړۍ په منځینیو لسیزو کې یې دوه اثار (انساني کومیډۍ او (؟)) ولیکل او په دې ډول د علم او ادب بحر ته دننه شو. نوموړی تیوریست نه و، خو د دغه اثارو په چاپ سره د ریالېزم ستر لارښود وګڼل شو. بالزاک د رومانتیکانو په دورکې ژوند  کاوه، خو ځان یې تخیل او حسرت ته تسلیم نه کړ، بلکې د قرن د ناروغۍ پر وړاندې یې مبارزه پیل کړه، د محیط له افکارو څخه د ژغورنې لپاره ببرته د عقل او منطق دور ته ستون شو او اثارو ته یې د هغه پخواني دور موضوعات وردننه کړل. نوموړي د پیسو او پانګوالۍ نفوذ په ټولنه کې انځوراوه او په یو داستان (د طلایې سترګو نجلۍ) کې یې د پاریس د مختلفو طبقو افرادو ته ورپېژانده او په دې ډول یې ولیکل: ((دغه خلک یا سره غواړي یا خوښي !)) (۱۳: ۲۷۰م)

(c) ketabton.com: The Digital Library



بالزاک په دې پوه و چې هغه مسائل چې رومانتیک لیکوال او شاعر یې وایي، نور بازار نه لري. په (۱۸۴۰م) کې نوموړی د یوې لیکنې له مخې دې پایلې ته ورسېد چې رومانتیک افکار نور زاړه شوي او هر اړخ یې کمزوري او له فکره لویدلی دی. بالزاک وښودله چې د رومان لیکونکي کار بل څه دی، ټولنه باید په حقیقي ډول ولس ته ورپېژندل شي او ترمنځ یې موجود تپیونه ور وښودل شي. دی د لیکوال او تاریخ لیکونکي کاري ورته والي ته اشاره کوي او وایي چې په حقیقت کې لیکوال د مورخ په شان د ټولنې د ملا تیر جوړوي. رومان لیکنه په دې دور کې یو نوي پړاوو ته وردننه کیږي او نوي موضوعات بیانوي. بالزاک د ریالېزم لومړی بنیادګر دی خو د ریالېزم د قوانینو او اصولو په برخه کې ترې څه نه دي لاسته راغلي. هغه څېړنې چې وروسته ترسره شوې، معلومه شوه چې د نوموړي عمل او طرزکار په خپله د ریالېزم اصول جوړوي. پاتې دې نه وي چې(استندال) هم د ریالېزم یو ستر معنوي لارښود بلل شوی. په انګلستان کې د چارلېز دیکنزد رومان د بالزاک لاره تعقیبوي او همداسې روسی لیکوال لئو تولستوی اجتماعي نیمګړتیاوې په خپل شهکار (جنګ او سوله) کې خوندي کړې دي.

## د ریالېزم مبارزه

د ریالېزم په هکله تر ټولو مهمه موضوع دا ده، چې ریالېزم د یو عکس العمل په توګه د (هنر د هنر لپاره) د ایډیا پر خلاف منځته راغی. د ریالیستي افکارو انعکاس لومړی په ادبیاتو کې نه، بلکې په انځورګرۍ کې مطرح کیږي. د ریالېزم لارښود ګوستا کوربېټ (۱۸۱۹-۱۸۷۷م) په دې هکله وایي:((د هنر د هنر لپاره د نظریې هدف پوچ او بې مانا دی.)) (۱۸: ۲۷۳م)

دکوربېټ اثار او تابلوګانې په رومانتیکو نندارتونونوکې د تحقیر سبب شوې، همدا دلایل و، چې نوموړی د خپلو اثارو د دفاع په برخه کې له دوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



سره ښکر په ښکر شو او ځانته یې بېل نندراتون جوړ کړ. کوربې له دوه کلنې (۱۸۴۸-۱۸۵۰م) مبارزې وروسته په دې بریالی شو، چې عمومي افکار ځانته ته راجلب کړي. د نوموړي بریالیتوب د ادبیاتو په برخه د ریالیستي لیکوالانو لپاره هم موثر ګام بلل کېږي.

د ریالېزم ښوونځی لومړی په فرانسه کې منځته راغلی، د دې مکتب سرلاري د هنر او ادب لومړني هنرمندان او لیکوال وو، چې له هغې جملې شانفلوري، مورژه، دورانتي د یادونې وړ دي. د ریالېزم نوم او قواعد لومړی شانفلوري په (۱۸۴۳م) کال په خپله یوه لیکنه کې ولس ته ور وپېژندل. نوموړی په دې اند دی، چې د ریالیست عنوان نسبت ما ته کېده، همغسې لکه څنګه چې د رومانیتک نسبت په (۱۸۳۰م) کال رومانتیکو لیکوالو او شاعرانو ته ورکول شوی و. شانفلوري او دورانتي دواړه د رومانتېزم مخالف وو، دوی د بورژویانو له منځه تللی ژوند او د عادي وګړو د اندېښنو صحنې رواخیستې او په خپلو اثارو کې یې هغوی ته ځای ورکړ. دورانتي ډېر ټولنیز او د خلکو په عاداتو میین شخص و، ښه هنر یې هغه ګاڼه چې د ټولنې لپاره ګټور واقع شي. دورانتي د (ریالېزم) تر عنوان لاندې مجله خپروله او په دې ډول یې د رومانتیکانو پر وړاندې درانه ګوزارونه پیل کړل. هوګو، موسه او ځینې نورو ته یې سپکاوی او د نړۍ تر ټولو وروسته پاتې شاعران یې بلل. د ریالېزم مجله له پنځو میاشتو وروسته ودرول شوه، خو په دې سره د ریالېستانو فکرونه ساړه نه شول، بلکې د ریالېزم او د بالزاک د اثارو د اصولو په پېروۍ یې کتابونه او رومانونه منځته راوړل، چې د زیاتې توجه وړ ونه ګرځېدل، لامل یې دا و چې دوی دومره مهارت نه درلود او د منځنۍ درجې لیکوال وو. هـر ادبي جریان او دوره ځانـته ځانګړتیاوې لري، له نورو

(c) ketabton.com: The Digital Library



دورو جوت توپېرونه څپلوي، لکه اووم قرن چې د تراژیدۍ او اتم دنثر او شعرعصر بلل کېده. رومانتیک رومان هم د خیالي نړۍ او شاعرانه عالم سره تړاو درلود. تئوفیل ګوتیه په (۱۸۶۷م) کې د هماغه دور پر شعري ذوق غبرګېږي او د وخت ذوق نور له شعر څخه مخ اړولی بولي. د رومانتېزم په پای کې لیکوالو د شعر او خیال پردازۍ په پرتله ډېره توجه علمي، تاریخي او ټولنیزو مسائلو ته کوله. همدا مهال الکساندر پوشکین (هنر د خلکو لپاره) تر عنوان لاندې یو پېچلی بحث منځ ته راوړ او په دې ډول له یو لړ نیوکو سره هم مخ شو.

باید له هر څه دمخه پر دې موضوع فکر وکړو، چې ریالېزم انتقادي بڼه لري او دا انتقاد په پوهنو او هنرونوکې پټ دی. په رومانتیک دورکې رومان ډېر پرمختک کړی و، د (۱۸۵۰ – ۱۸۹۰م) کلونو دننه په غربي ادبیاتوکې رومان مخکښ پړاو او د اولې درجې نوم او ارزښت له ځان سره درلود. رومان د رومانتېزم پر خلاف واقعیت راسپړي او له افسانو، خوبونو، خیالاتو او اشباحو څخه لرې والی اختیاروي. کوم شی چې د دغو دواړو ادبي مکتبونوګډ ټکي جوړوي، زماني او مکاني سفرونه دي، چې دا برخه په رومانتېزم کې ډېره قوي ده. په ریالېزم کې د خیالي نړۍ د جوړولو پر ځای لرې پرتو سیمو ته د واقعیت په وزرو سفرونه کیږي او لیکوال شانفلوري په (۱۸۷۲م) کال د ریالېزم په تعریف کې وایي:(( نننی انسان، په نوي تمدن کې.))

موږ نشوکولی ریالېزم او رومانتېزم د دوو واقعي او غیر واقعي ښوونځیو تر عنوان لاندې د یو او بل په وړاندې ودروو. رومانتېزم یوه محسوسه نړۍ کشف کړې وه، کوم چې د ریالېزم لپاره یو نوی پیل و او په دې ډول ریالېزم د رومانتېزم ځای ناستی ټاکل کیږي، خو بیا هم ځمکه او اسمان توپیر لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ریالېزم د عادي او غیر شخصي مکتب په توګه

رومانتېزم یو داسې ادبي ښوونځی دی، چې په کې لیکوال خپلو لیکنو ته خصوصي او شخصي بڼه ورکوي، په داسې ډول چې ریالېزم بیا خپل اثر په عمومي او خارجي چوکاټ کې رانغاړي. ریالیست لیکوال د اثر د پنځونې پر مهال په خپله تماشه کوونکی دی او خپل احساسات او افکار په داستان کې نه ښکاره کوي. ریالېزم غواړي ټول واقعیتونه کشف او د لوستلو پر مهال یو احساس وزیږوي، چې واقعیت ته نږې او ښکاره وي. رومان لیکونکی ځان په اثرکې دننه نه ښکاره کوي او له کونګو احساساتي رمزونو او فلسفي خیال پردازۍ نه لرې پاتې کیږي. لیکوال دا حق هم ځانته ته نه ورکوي، چې خپل غبږ د اثر د اتلانو له غبږ سره یوځای کړي، یا یې په اړه قضاوت وکړي او د هغه سرنوشت وټاکي. دوی د اتلانو په اړه دومره پوهاوی لري، چې یو عادي لوستونکی یې هم احساسولی شي. په رومان کې دننه د کرکټرونو تر منځ خبرې یوه نوې مجارا انځوروي، چې کلمات یې ولسي او عام فهمه دي. دلته یوه د تامل وړ خبره په رومان کې د لیکوال ځرګندیدنه ده، د رومان قهرمان په خپله د لیکوال د فکر انعکاس ځرګندوي.

دا حقیقت دی، چې ریالېزم د اشرافي ټولنې پر ضد راپاځیږي او هدف یې د عامه او ټیټې طبقې د ولسونو ژغورل دي. ریالستان په واقعي نړۍ او هم د لیکوالۍ پر مهال دا ټکی په پام کې نیسي، چې لیکنې اوکړنې مو د ولس او عادي ټولنې لپاره دي، نو د همدې اصل پر اساس ټول داخلي او خارجي کرکټرونه باید اصلاح او د دوی لپاره وي. دوی دا ښوونځی یوازې په ریالستانو نه، بلکې په ټولنه پورې تړي او د شخص نوم له منځه وباسي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د ریالېستي ادب موضوع

د ریالیستي ادب موضوع معاصره ټولنه او د هغې اړوند مسائل جوړوي. د یوې داسې نړۍ شتون چې بشر په کې ژوند لري، نو ادبي اثار مجبورېږي په خپل غیږه کې دغه مسائل بیان او تشریح کړي. رومانتیکانو د داخلي تشوېشونو د رفع کولو لپاره طبیعت ته پناه وړې وه، د دریابونو غاړې، ژور والي، ځنګلونه او ابشارونه یې د زړونو د راز محرم یادول او د تخیل لپاره په نړۍ کې په نویو موضوعاتو پسې ګرځېدل. زوال، غم او هیجانات یې نورې موضوعګانې یادولی شو.

د ریالیستي ادب د اثارو موضوعات تر ډېره بریده داستاني بڼه لري او اتلان یې عادي وګړي دي. د انساني ژوند د واقعیتونو بیان د دې هېروګانو اصلي ځانګړنې په ګوته کوي، دغه فرد باید ټول خصوصیات ولري، چې د اجتماعي او محیطي موقعیت په واسطه ټاکل شوي وي. اتل باید ځانګړي اوصاف او د مشخصې طبقې نماینده اوسي، روهي صاحب یې په اړه داسې لیکي:((د ریالېزم د کیسې یا رومان جوړښت د طبیعي او اجتماعي قوانینو پر اساس بنا کوي. روحي مظاهر د (اجتماعي علیت) په رڼا کې څېړي، د انسان د سرنوشت رېښه په فردي خصوصیاتو او محیطي شرایطو کې لټوي، ټولنه د یوه ژوندي او متحرک موجود په شان ګڼي. د دې پر ځای چې انسان د ژوند پوهنې له مخې تشریح کړي، له یوه اجتماعي او تاریخي انسان سره اړه لري. تصادفي پېښو ته ارزښت نه ورکوي او انسان په تکاملي سیر کې مطالعه کوي.)) (۱۸: ۴۰۲م) دغه اتلان په واقعي ډول په ټولنه کې ژوند کوي. لوېږي، زړېږي او تر مرګه پورې پر واقعیت ټینګار او له مبارزې لاس نه اخلي.

ریالیست لیکوال اړ نه دی، چې د داستان لپاره یو مشخص، غیر عادي او

(c) ketabton.com: The Digital Library



عجیب قهرمان وټاکي. دوی خپل اتل د ولس له منځه چې په هر محیط پورې اړه ولري، انتخابوي. دا سړی په اصل کې یو بریالی او وتلی شخص دی، چې په کوپړۍ کې یې درانه فکرونه پرته دي. کله چې ریالیست لیکوال جګړه د خپل اثر موضوع ټاکي، نو د اتل رول د لښکر مشر (قوماندان) پر ځای یو افسر یا ساتونکي ته ورکوي، چې لامل یې په جګړه‌ییز ډګر کې د هغه نېږدې شتون ښیي. دا د ریالېزم د ټیټې او بې اهمیته طبقې د انځورولو یو ښه نمونه ده.

## نړیوال ریالېزم

په کلي توګه ریالېزم په فرانسه کې پیل شو، د (۱۸۵۰ – ۱۸۹۰م) کلونو دننه په غربي ادب کې د رومانتېزم پر خلاف تمایلات اخرې کچې ته ورسېدل او ریالېزم یې ومنه. په انګلستان، المان، روسیې امریکا او نورو هېوادونوکې یې رواج وموند، په دې هېوادونوکې لیکوال له یو واحدې فکري دستګاه د نړیوال ریالېزم هغه هڅې پالي چې دکمزورو طبقو حقونه په کې خوندي وي او ډېری یې د مارکسیستي ستر تیژۍ لپاره کار کوي.

### انګلستان

په انګلستان کې ریالېزم د فرانسې په کچه هومره چې تمه کېده ونه ځلید. انګلیسی ریالېزم د مالکې ویکټوریا د واکمنۍ پر مهال را څرګندېږي. دا دوره په انګلستان کې د غنایي ادبیاتو یو روښانه انځور دی، خو په انګلستان کې یې د رومانتېزم په څېر ځانته شور اوګرانښت پیدا نه کړ. په انګلستان کې ریالېزم له خوریدو سره جوخت د پام وړ ونه ګرځید او په پخ او بې خونده ډول راښکاره شو. د ژوندانه د واقعیتونو په بیـان کې له طنز سره ګډ شو او له

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپل اصلي حالت ووت. په (۱۸۳۵م) کال ریالېزم د رومان لیکنې له لارې په ازادنه ډول انګلیسي ادبیاتو ته لاره پیدا کوي، په دې هېوادکې د ریالېزم تر ټولو ستر سرلاری چارلېز دیکنز (۱۸۱۲-۱۸۷۰م)نومېږي، چې څوارلس رومانونه یې لیکلي دي. دیکنز په طنز او احساساتي ډول د ټیټې طبقې غبږ راپورته کړ او خپله یې هم له وږکتوبه د رزق د پیدا کولو لپاره سختې تجربې ازمایلې وې. د دیکنز ریالېزم پر انسانیت او بشردوستۍ ولاړ دی، له بې چارو او ساده ګانو سره یې ځانګړې مینه درلوده، له دې مخکې هېڅ لیکوال کوچنیان خپل اثر ته نه و دننه کړي، خو نوموړي دغه کار ترسره کړ. د نوموړي رومان ببله بڼه لري، په یوه پاڼه کې لوستونکی خندوي، خو په بله کې مجبورېږي، چې وژاړي. د دیکنز اثار په المان کې له ګرم استقبال سره مخ او د هغې هېواد لیکوال ترې ډېر اغېزمن شول. کوم لیکوال چې له فقر او بې وزلۍ کړېدلي وو، په کلکه یې د هغه ملاتړ وکړ، خو د اثارو په لیکلوکې یې له شدت او بدبینۍ هم کار اخیستی او د نورو سببونو تر څنګ له ځان سره ځانګړي پاملرنه نه لري. (۲۲:.م)

## المان

الماني ادبیات دګویته له مړینې او د رومانتېزم له زوال سره سم ساړه شول. د الماني ادب په دې دوره کې داسې غښتلي اثار نه تر سترګو کېږي، چې د ریالېزم تنده پرې ماته شي. ریالېزم په دې هېواد کې په مستقل ډول نه راڅرګندېږي. دوی د فرانسوي ریالېستانو پر خلاف په صداقت سره د رومانتېزم پر پلاوی مبارزه نه کوله او په دغه دوره کې راغلی اثر د کلاسېزم او رومانتېزم تر هماغه زاړه تاثېر لاندې و او له وړو شاعرانو پرته د ریالېزم غبږ چا نه پورته کاوه. د بورژوا ریالېزم پر هغه الماني ریالیستي جریان اطلاق

(c) ketabton.com: The Digital Library


کیږي، چې د نولسم میلادي قرن په دویمه نیمایي کې منځ ته راغلی دی. د (۱۸۴۸م) کال د انقلاب له ماتې وروسته د المان بورژوازي طبقه له سیاسي او اجتماعي وضعیت څخه ناخوښي ښیي او لامل یې د اقتصادي ازادیو وضع کول په ګوته کوي. دا ګام د ادبیاتو لپاره هم ګټور تمام شو، خو ریالېزم تر ډېره بریده د فکر وړ ونه ګرځید.

## روسیه (روسی ریالېزم)

په (۱۸۵۲م) کال په روسیه کې د لیف تولستوی او تورګنیف په زړه پورې اثار چاپ شول او رومان د شعر ځای ناستی شو. پر دې خبرې ځان پوهول لازمي دي، چې رومانتېزم په روسیې کې په یو ډول نه یو ډول لا وړاندې په خپله ریالېزم و. د پوشکین ادبي زیږونې او شعرونه زیاتره ریالیستي غنایي اشعارګڼل شوي. نوموړی وایي:(( شعر چې څومره د اسمان پر لورې خیږي، هغومره سرېږي.)) (۱۸: ۲۹۸م) نوموړی له هغو ارزښتونو دفاع کوي، چې کاملا غیر رومانتیکي بڼه لري. ریالېزم په روسیې کې تر فرانسې ډېر متفاوت دی. روسی ریالېزم د ژوندانه د ژورو او خامو برخو تحلیلونه ته لومړیتوب ورکوي. د لیکوال چخوف په خبره په موضوع کې د داسې انسانانو ژوند انځوروي چې له خوړلو، څښلو، ویده کېدو او مرګ پرته بل کار نه لري. روسی ریالېزم په درې دورو وېشل کیږي.

الفــ:لومړنی ریالېزم ب: انتقادي ریالېزم ج: سوسیالیستي ریالېزم

## لومړنی ریالېزم

دغه دوره د روسي ادب د عظمت او جلال پېر بلل کیږي، په دې دور کې د پخو لیکوالو شتون او د معنوي اثارو لیکل د روسي ادب په هېڅ کومه دوره کې نه تر سترګو کیږي. د (۱۸۴۰ –۱۸۸۰م) کلونو ترمنځ په ادبیاتو کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



داسې شهکارونه رامنځ ته شوي چې د دغه هېواد ادبیات یې د شهرت اوج ته رسولي دي. د لومړي ځل لپاره ریالېزم د داستان له لارې ادبیاتو ته لاره ومونده، چې د دغه داستانونو لومړنی لیکوال ګوګول ښودل شوی. د دغه لیکوال سبک له طنز سره مخلوط دی او د واقعي اتلانو پر ځای یې د هغوی خبرې د خندا او فکر وړ انځور کړې دي. دا اثر د تزاري روسیې د ټولنیز وضعیت یوه ښه نمونه ده.

د ګوګول وروسته ګونچارف (۱۸۲۳ -۱۸۹۱م) د (اوبلموف) تر سرلیک لاندې رومان په لومړي ځل د بالزاک د سبک پر پېروۍ ولیکه. بل ستر لیکوال تورګنیف (۱۸۱۸-۱۸۸۳م) دی، چې د ژوند زیاته برخه یې په پاریس کې تېره کړې وه او دفرانسوي لیکوالو (فلوبر، الونس دوده، زولا) سره نېږدې دوستي درلوده او د الفره دوموسه د رومانتیک سبک پر پېروۍ یې کوچنۍ کومېډۍ لیکلې دي. له دې وروسته یې رومان لیکنې ته مخه کړې، اثار یې ښکلي خو ژوره بدبیني لري. پاتې دې نه وي، چې ډېریو انګلیسي، ډنمارکي او ناروېژي لیکوالو د تورګنیف له سبک او افکارو متاثر او له ده یې تقلید کړی دی. لیو تولستوی (۱۸۲۸-۱۹۱۰م) په روسیې کې د ریالېزم له لویو بنسټ ایښودونکو شمېرل کیږي. تولستوی د روس هېواد یو بزګر لیکوال دی، له کارګرې طبقې سره یې لیونۍ مینه او په (۱۸۷۹م) کې یې د بزګرۍ ژوند اختیارکړ. د ولس د واقعي تیپونو په راڅرګندولو، د ټولنیز رنځ او د دردونو د راسپړلو په برخه کې یو رېښتینی ریالیست لیکوال شمېرل کیږي. د ده ریالېزم ساده او روښانه بڼه نه لري، د ژوند په مسائلوکې له ژان ژاک روسو ډېر متاثر او د ټولنیزو ستونزو حل یې د انجیل په اخلاقي واعظ او نصیحت پورې تاړي. نامتو رومان یې (جنګ او سوله) نومیږي، چې د روسیې د مختلفو طبقاتو تیپونه او د ولس د ژوندانه مختلفې بڼې را

(c) ketabton.com: The Digital Library


څرګندوي. دغه رومان دوکتور لطیف بهاند پښتو ژبې ته ژباړلی دی. د تولستوی تر څنګ داستایوسکي (۱۸۲۱-۱۸۸۱م) هم له لوړ استعداد او علمي قدرت څخه برخمن دی، د ولسي درد انځور ته یې په خپلو اثاروکې ځای ورکړی، ډېری لیکوال د ده ترڅنګ راغلي او د هغه د سبک پیروي یې کړې ده. دا ادبیات د درد بدبینۍ له احساس سره تر هغې ادامه پیدا کوي، چې ماکسیم ګورکي (۱۸۶۸-۱۹۳۶م) له نوي طرز او روش سره راڅرګندیږي او د (انتقادي ریالېزم ) بنسټ ږدي. (۱۸: ۳۲۰م)

## انتقادي ریالېزم

که په ژوره پیمانه دګورکي ژوند وڅېړو، پوه به شو چې د ژوند ډېری برخه یې غربت او ستونزو خوړلې ده. ګورکي په لومړیوکې خاص سبک نه درلوده او د لنډو رومانتیکو لیکنو له لارې د ادب بڼ ته ورننوت. نوموړی د بشري احساس او له ژوند سره د خوږې مینې پر بنسټ ټولنیزو ژورو مسائلو ته وردننه کیږي، په اثاروکې ولس ته ډېر ځای ورکوي او داسې داستانونه او رومانونه لیکي، چې د ژوند خواږه او ترخه رنګونه په کې مطرح شوي وي. (پاماګردیف) او (مور) رومانونه یې خورا مشهور دي، له عادي ریالېزم تېریږي او د انتقادي ریالېزم بنیاد منځته راوړي.

په دې مرحله کې لیکوال خپل هېرو له چاپېریال څخه غږوي، نوي ټولنیز وضعیت ته د رسیدو لپاره هڅه کوي، له موجوده حالت سره په جګړې اخته او د بدلون لپاره شپه او ورځ پر ځان یوه او مخکې ځي. د ماکسیم ګورکي لیکوالي د روسیې له سوسیالیستي انقلاب نه کلونه وړاندې پیل کیږي او تر انقلاب شل کاله وروسته هم ادامه پیدا کوي. ګورکي د یو سوسیالست په توګه د انتقادي ریالېزم تر څنګ سوسیالیستي ریالېزم هم ترویجوي او مخکې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځي. دوست شینواری انتقادي ریالېزم په طبقاتي ټولنوکې د استثمار او هر ډول ظلمانه روابطو پرده لرې کول بولي او ډېریو څیزونو ته د انتقاد له زاویې ګوتڅنډنه کوي. دوی ذات الیني اړیکې غندي او پر ځای یې داسې روابط چې د ټولنیز عدالت او بشر دوستۍ په احساس ترل شوي وي، ستایي او دې ډول اړیکو ته لومړیتوب ورکوي. په ریالېزم کې دوه ډوله تیپونه تر سترګو کېږي:(( لومړی د وړي او ماړه، د بادار او مزدور ، داستثمار شوی او استثمارګر تر منځ اړیکې او جنجالونه او دویم یې د واکمنې طبقې او زبېښناکګرو تر منځ مبارزه ده، چې د یو بل دکمزوري کولو په عرض سره خوري.) (۸: ۱۲۱م)

د انتقادي ریالېزم وده او پراختیا په ټولو هېوادونوکې یو شی نه، بلکې له تاریخي، کلتوري او ذهني شرایطو سره سم په بېلا بېلو وختونوکې منځته راځي. دا ریالېزم په انګلستان کې په اتلسمه پېړۍ چین کې شلمه او په پښتو او ختیځ ادب کې د شلمې په اوایلوکې را زرغون شوی. په پښتوکې د قیام الدین خادم اثر (څو ورځې په شمال کې) نومېږي، په (۱۳۲۰ه ش) کې یې ځینې برخې د (اصلاح) په ورځپاڼه کې چاپ شوې چې د انتقادي ریالېزم نښې نښانې له ځان سره لري.

## سوسیالیستي ریالېزم

سوسیالیستي ریالېزم د شوروي اتحاد د ټولو هېوادونو په ادبیاتو او هنرونو کې د یو رسمي ښوونځي حیثیت درلود. په (۱۹۳۴م) کال په مسکوکې د شوروي اتحاد د لیکوالو دکنګرې لخوا د یو واحد زده کړه‌ییز مکتب په توګه شهرت او بڼه خپله کړه. دا ښوونځی د شلمې پېړۍ په لومړیوکې د ماکسیم ګورکي د انقلابي پنځونو په پایله کې منځته راغلی دی. په (۱۹۳۲م) کې د کمونېست ګوند مرکزي کمیټې په شوری اتحاد کې ټول ادبي هنري

(c) ketabton.com: The Digital Library


سازمانونه او ډلې منحل کړې او د هغوی پر ځای یې د موسیقۍ، ادبیاتو او فنونو یو واحد مرکزیت ایجاد او نظارت لاندې ونیو، پر دې اساس کمونېستانو د خپلې سوسیالیستي ایډیالوژۍ، مارکسیستي افکارو د خورونې لپاره لیکوال مجبور کړل، ترڅو د ترویج لپاره یې په هر اړخیزو اثارو کې ځای ورکړي.

په انتقادي ریالېزم کې موږ ټولنه د داسې شخص د مقدراتو په انځورولو کې ګورو چې له ټولنیزو بې عدالتیو سره په مبارزه بوخت دی. په سوسیالیستي (اجتماعي) ریالېزم کې موږ د یو خپلواک فرد مقدرات ګورو چې د یوې ناپېیلې ټولنې د جوړښت او پرمختک لپاره مبارزه او جد و جهد کوي. د شوروي اتحاد کمونېست ګوند مرکزي کمېټه سوسیالیستي ریالېزم په هنر کې د ((ګوندي توب او ولسي توب پر اصولو ولاړ دی، د ژوند په بدیعي تمثیل کې شجاعانه نوښت د جهاني کلتور د ټولو مترقي تمایلاتو د ګټې اخېستلو او پراختیا سره یو ځای شي.)) (۸: ۱۲۶م)

دا ډول ریالېزم په ادب او فن کې یو روش دی، پنځګر په کې واقعیتونه راسپړي، کوم چې په سوسیالیستي روحیه د انسان پالنې اوروزنې هدف ترې څرګندېږي. په لوستلو سره یې په فرد کې د بشر پالنې او هېواد پالنې احساس را ژوندي کوي او د فردي ښېګڼو پر ځای ټولنیزو ښېګڼو ته لومړیتوب ورکوي. سوسیالیستي ریالېزم د دیموکراتیکې خپلواکې ټولنې د ترقۍ او انکشاف هنداره ده، چې په اثرکې له یو عادي فرد څخه ستر هېوادپال او ولسي مبارز جوړوي. دا ډول ریالېزم د هغو ولسونو او ملتونو په ادبیاتوکې نوتی، چې طبقات او طبقاتي مبارزې له منځه تللي او سوسیالیتي نوې ټولنیزې ، سیاسي، اقتصادي اوکلتوري اړیکې ټینګې یا یې په حال کې دي.

د انتقادي ریالېزم هېرو غالبا لوړکس دی، چې د ټولنې له شرایطو او ټولنیزو بې عدالتیو سره په مبارزه کې ماتې خوري، خو د سوسیالیستي ریالېزم هېرو

(c) ketabton.com: The Digital Library



عادي وګڼي دی، چې د ازادې ټولنې مثبتو شرایطو روزلی او له هغه یې ګټور شخص جوړ کړی دی. (۲۹:۵،۴م)

## ماکسیم ګورکي (۱۸۶۸-۱۹۳۶م)



دغه ځلانده ستوری د نولسمې پېړۍ د روسي نوي ادب ستر لیکوال، ډرامه لیکونکی او مقاله نویس دی، چې په (۱۸۶۸م)کال د مارچ پر (۲۸مه) یې د روسیې په لرغوني او تاریخي ښار سیژني نوګرد کې نړۍ ته سترګې پرانیستې دي. اصلي نوم یې الکسي ماکسیموېچ شکوف دی، چې د روسیې د مارکسیستي ادب په تاریخ کې ځانګړی مقام لري. السکي د ژوند په اوږدو کې له بدمرغیو او سختو مبارزو سر مخ و، په کوچنيوالي کې یې پلار له لاسه ورکړ او پالنه یې انا او بیا نیکه ته پاتې شوه. دغه هڅاند تنکی ځوان د ځان ساتنې لپاره له موچي، ډوډۍ پخوونکي او ... سره کار ترسره او هم له کتاب سره د لیونۍ مینې له بابته یې د لیکوالو خوږې خبرې او زړه راښکوونکي اشعار له یاده تېرول.

ګورکي د ژوند او نړۍ په محتوا کې له پرتو واقعیتونو هغه مهال خبرېږي چې له میخائل اوماس سره په نانوایۍ کې کار پیلوي، اوماس د الکسي پټ استعداد او زیرکتیا له نیږدې څاري او خپل کتابتون د ده په واک کې ورکوي، تر څو فکر یې وده وکړي. دا وخت په روسیه کې تزاریان د لیکوالو او سیاسي مشرانو د ویښوونکو اندونو د ځپلو او د همدغو افکارو د خورونې د مخنیوي په موخه ښوونځي، پوهنیز او روزنیز مرکزونه تړي، خو ګورکي په پټه مطالعه کوي او ډېر نوې څه زده کوي. نوموړی له دې وروسته د روسیې سهیلي سیمو ته حرکت پیلوي؛ د حذر غاړو ته رسیږي؛ بیا په کازان

(c) ketabton.com: The Digital Library


کې پاتې کيږي او هماغلته په کازان پوهنتون کې د مارکسيستي ادبياتو سره روغبړکوي او د همدغې ايډيالوژۍ د ترويج او تبليغ لپاره قوي اراده خپلوي، خو زړه يې نه لګي او بېرته خپل ښار ته راستانيږي. له هغو سياسي او ادبي ککريو سره يو ځای کيږي چې د تزار لخوا تبعيد ته مجبورکړای شوي دي، له مشهور ليکوال کرلينکو سره پېژني او د خپلو اشعارو ټولګه ورښيي او نوموړی ورته د انقلابي اشعارو د پنځولو سپارښتنه کوي. (۲۴:.م)

ګورکي يو سياسي او مبارز ليکوال و، د ده ډېری ليکنې د مارکسيستي رياليزم په فورم کې ليکل شوې دي. رومانونه، ناولونه او نورې کېسې يې له ولسي ستونزوغبرگيږي اوله ځان سره ځانګړی پيغام ليږدوي. الکسي د روسيې له نامتو شاعرانو او ليکوالانو سره له نيږدې پېژندل او هم يې له چاپي رسنيو سره خپله قلمي همکاري جاري ساتله، د ژوند په اوږدو کې يې امريکا، اروپا او نورو هېوادنو ته سفرونه کړي دي او د سفرونو پر مهال يې ډېرې سفرنامې هم ليکلې دي. بلاخره د ادب دغه خوږ بلبل د (۱۹۳۶م) کال د جون مياشتې پر اتلسمه نېټه د (۶۸) کالو په عمر ومړ. د مړينې علت يې د ابهام ملګری دی او تر ډېره بريده ويل کيږي چې د مخالفينو له لوري په زهرو وژل شوی دی. (۲۵: ۲۴۱م)

## د ګورکي اثار

دګورکي اثار په لاندې ډول درپېژنو:

### رومانونه

۱ـ درې ملګري (۱۹۰۰م)

۲ ـ مور (۱۹۰۶م)

۳ ـ د ارتامانوف سوداګري (۱۹۲۷م)

(c) ketabton.com: The Digital Library



۴ ـ یو اعتراف (۱۹۰۸)

**لنډې کیسې**

۱ـ دکوچینوالي دوره (۱۹۱۴م)

۲ ـ مالوا (؟)

۳ ـ(شپږویشت سړي او یوه نجلۍ (۱۸۹۹م)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ناتورالېزم (طبيعت پالنه)

ناتورالېزم يو ادبي او هنري مکتب دی، چې نچرالېزم يې هم بولي. د لاتيني ژبې له (Natura) چې د طبيعت مانا لري، اخېستل شوی دی. د نچرالېزم لغوي مانا ((د طبيعت دقيق تقليد او ډېرې زياتې ستاينې ته وايي او په ادبي اصطلاح په ادبياتوکې د علمي تجربې له روش څخه کار اخېستلو باندې عقيده او باور څخه عبارت دی. هر ليکوال يا شاعر د خپل چاپېريال او طبيعي شرايطو لکه: نژاد، روزنې، تربيې او د خپل وراثت د عواملو تر اغېز لاندې وي، چې جسمي او روحي ځانګړنې يې هم پر اثارو اغېز کوي.)) (۵: ۱۸۸م)

ناتورالېزم د ژوند د واقعيتونو يو داسې انځور دی، چې ليکوال يې مهم او غير مهم ته لومړيتوب نه ورکوي، بلکې د ژوند ټولې لوړې ژورې او سړې تودې رانغاړي. د بشريت هر موضوع په دې برخه کې انځوريدای شي او ناتورالېزم په دقيق ډول هڅه کوي، چې د پېښې له هرځای ښه يا بد انځور واخلي، خو د انځور اخېستونکې کمرې په شان د مادې منځ نشي انځور ولی. دا مکتب د اشخاصو، پرابلمونو اوکانفليکتونو د ترسيم او تصوير سره کار نه لري. ((... يو رياليست ليکوال چې څومره د انسان اخلاق او روحي نړۍ راسپړي، باالعکس يو ناتورالېست ليکوال خپل ټول کوښښ د جسم د بڼې او د هغه د ظاهري چاپېريال انځور ولو ته ښښي.) (۸: ۱۳۵م)

د دې ښوونځي د نوم ټاکنې نېټه (۱۸۷۷م) کال ښودل شوې، کوم چې په (تراب) رسټورانټ کې د فلوبر، اډمون، دوګنکور، زولا او د (مدان) ډلې لخوا ورته انتخاب کړای شوی دی. له اووم ميلادي قرن راهيسې په فرانسې کې د ښکلو هنرونو اکاډمۍ له طبيعت څخه تقليد لازمي او ضروري ګڼله، چې دا کار په اصل کې د ناتورالېزم د پيدايښت سبب وګرځيد. دغه اصطلاح

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ځانګړي ډول د انځورګرۍ لپاره کارول شوې وه، ناتورالېزم په فلسفه کې د هغو افرادو نظام دی، چې طبیعت یې د لومړني اساسي عنوان په توګه منلی وي. ویکتور هوګو په خبره چې دا کلمه په هغو لیکوالو د اطلاق وړ ده،کوم چې غواړي د ټولنیزو مسائلو سره داسې چلند وکړي، لکه څنګه یې چې له ژوندیو حیواناتو سره پوهان کوي. بوډلر په (۱۸۴۸م) کې بالزاک یو لوی پوه او ناتورالېست شمېرلی. د ناتورالېستانو هنري ابتکارات زیاتره وخت ریالېزم ته نیږدې کېږي، ځینې یې بیا په معلومو او تاریخي شرایطوکې د ریالېزم د ایجاد لپاره لومړی پړاو بولي. په ناتورالېزم کې د واقعیت کوچنۍ او بې مانا خواوې انځورېږي، چې په ظاهري لحاظ له انځور او تمثیل نه بل څه نه دي.

## ریالیستي هنر د ناتورالېزم د مقدمې په توګه

په نولسمه پېړۍ کې له ټولنیزو څېړنو او مسائلو سره مینه د بالزاک او اوژن سو په اثارو، د دومیه او هنري مونیه په انځورونو او تابلوګانو کې محسوسېدلی شي. له (۱۸۵۰م) کال وروسته دوو ریالېستانو شانفلوري او دورانتې په رومان کې د ناتورالېزم د برنامې ځینې زړي کرلي وو. ریالېزم په جدي ډول د رومانتېزم پر وړاندې ودرېد، د خیال او ښکلا په کیسه کې نه و، بلکې پر ځای یې د انسان ټولنیزو اړخونو ته لومړیتوب ورکاوه. دورانتې په اصل کې له تاریخي پېښو تېښته کوي او د حاکم وضعیت مطالعې ته ترجیح ورکوي. دغه دواړه رومان لیکونکي د ناتورالېزم په شان عادي اشخاص او د دوی عادي کړنې انځوروي. شانفلوري غواړي مسائل او پېښې لکه څنګه چې دي شرح او بیان کړي. فلوبر یو احساساتي فردپال و، له مډرنېزم او معاصرانو سره یې هم حساسیت درلود، د خلکو په اند د ریالېزم ستر پیغام راوړونکی او د ناتورالېزم پلار بلل کېده. ادمون او ژول کنګور چې دواړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



سره ورونه وو، د شانفلوري او دورانتې له هنري سبک سره زيات توپير درلود، خو د واقعيت په پالنه کې بيا سره نيږدې وو. دوی د ټيټې طبقې د حقيقتونو په راسپړلوکې هر اړخيز جريانات دننه کړل او په دې ډول يې ورو ورو د طبيعت انځورولو پر لور ګامونه پورته کړل، چې د رياليزم او ناتوراليزم ترمنځ يې يو پل رامنځته کړ.

## د ناتوراليزم لنډه فلسفه

د ډايډرو (۱۷۱۳-۱۷۸۴م) په خبره په اوولسم قرن کې ناتوراليستانو د طبيعت له مشاهدې او ائين څخه هدف په خپله طبيعت و، سنت په (۱۸۳۹م) کې د اوولسم م.قرن فلسفه ماده پالنه، مذهب پالنه او طبيعت پالنه ناتوراليزم بولي. د پوهانو په اند ناتوراليزم له نولسمې پېړۍ دمخه ژورې ريښې لري، رينان (۱۸۲۳-۱۸۹۲م) او برتلو (۱۹۰۷-۱۸۲۸م) د بشر خيالات او احساسات بيا را ژوندي کوي او د اوولسمې پېړۍ وروسته د مختلفو هېوادنو په ادبياتو باندې څېړنه کوي او د طبيعت پالنې اړخونو ته اشاره کوي. (۱۸: ۳۹۷م)

په ناتوراليزم کې د شوپنهاور (۱۷۸۸-۱۸۶۰م)فلسفي نظريات ډېر د پام وړ او په پراګنده ډول يې زيات شمېر ليکوال تر اغېز لاندې راوستي وو. ناتوراليستي ليکوالو دغه تاثيرات منلي او د وخت له بدبينۍ يې د مخ اړونې په موخه عمومي اړخونو ته پناه وړې ده. په زړو فلسفوکې طبيعت پالنه داسې بيان شوې، چې ماده پرستي، خوند اخېستنه او له دين څخه ناراضيتوب په خپله غيره کې رانغاړي. دا مفهوم تر پېړيو د انسانانو په ذهن کې تم پاتې کيږي، خو ناتوراليستي فلسفه ذهن د مادې له طبيعت سره تړلی بولي او په هنر او ادب کې، چې د رياليزم له واقعيت پالنې سرچينه اخلي، توپير يې پر ځای او حقيقت بولي. زيات شمېر خلک د ناتوراليزم پر ځای د اميل زولا نوم مهم ګڼي. شايد چې دليل يې د نوموړي د داستانونو خاص

(c) ketabton.com: The Digital Library



سبک وي، چې طبیعتي رنګ لري. له امیل سره اشنایي موږ صنعتي انقلاب ته بیایي. (۳۰: ۴،۳م)

## ناتورالېزم د سیاست او اقتصاد له زاویې

لوی لیکوال امیل زولا ټولې هغه مقالې چې د (Salur Publique) ورځپاڼې لپاره لیکلې وې، د ناتورالېزم د زیږېدنې خبر ورکاوه. په دغو مقالاتو کې زولا د ښوونځي د نوم لپاره کومه ځانګړې کلمه نه وه کارولې، خو په هغو اصولوکې چې وروسته یې د هنر لپاره ټاکل، تقریبا په ډېره اندازه په کې د دې کلمې بیان شوی و. زولا چې یو ښاري ځوان و په (۱۸۵۸م) کال د فرانسې له اکس ښار پاریس ته راکډه شو او د دویم امپراطور (دریم ناپیلیون) د امپراطورۍ پر مهال یې سیاسي او اقتصادي چاپېریال مطالعه او تجربې یې پخې شوې. زولا د ځوان نسل ارزوګانو ته ځانګړي تمایلات درلودل، چې دغه تمایلات یې په ډېر جدي ډول د تیوري په بڼه بیان کړل. دا په اصل کې دوګوني (سیاسي، اقتصادي) انقلاب او ذهني تحول و، چې د (۱۸۶۰-۱۸۶۴م) کلونو تر منځ د احساس وړ و. د معاصرو مورخینو له نظره (۱۸۵۹-۱۸۶۰م) کلونه د فرانسویانو په سیاسي ژوندانه کې ځانګړی ارزښت لري، فرانسویان له سستۍ او خوب رابیداروي او جمهوریت غوښتونکي نوی قیام کوي، دغه ویښتیا د رژیم په طرز عمل کې بارز تحول پیښوي. دغه تغیر نه یوازې په سیاسي بلکې په اقتصادي لحاظ هم بدلون رامنځته کوي، د اور ګاډي ډېرې لارې، د بانکونو ځانګړي شبکې او لوی ښارونه یې اقتصادي میراثونه ګڼل کیږي. د دغه مبارزو په لړکې زولا د ورځپاڼو له لارې له نور همفکرو ملګرو سره د ناتورالېزم او معاصرو اختراعګانو په هکله ډېر څه ولیکل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ناتورالېزم او پوهنه

فیزیولوژي، ځمکپېژندنې او د پوهنو پرمختګ له وړاندې د زولا فکر محاصره او په وجود کې یې نوي فکرونه راټوکولي وو. زولا د (۱۸۶۶-۱۸۸۰م) کلونو تر منځ یو شمېر اثار ولیکل، چې (تجربوي رومان) یې تیوریکي بڼه درلوده. پر دې اثار سربېره یې نورې تحلیلي لیکنې هم وکړې، چې لیکنې او اثار یې د ورځپاڼو لخوا تر انتقاد لاندې ونیول شول. زولا یې هم دفاع ته ودرید او په خپلو تیوریکي متونونوکې یې دا خبره په ډاګه کړه چې:((د ناتورالېزم ښوونځی په ادبیاتوکې وجود نه لري، ناتورالېزم یوازې یو روش دی یا په ساده الفاظو یو تحول دی.)) (۱۸: ۴۰۱م) زولا ناتورالېزم د ډایډرو د عقایدو محصول ګڼي او له ډایډرو سره یوځای په ادبیاتوکې د نوو روشونو او تطبیقي تجربو د زېږونې خبره راپورته کوي. لکه څنګه چې رومانتکانو د روسو، شاتو بریان، لامارتین، هوګو او ژرسان افکار پالل، همداسې دوی د ډایډرو، استاندال، بالزاک، فلوبر او ګنکور فکرونه او روشونه وپالل او د دوی په پیروۍ یې بې شمېره لیکنې وکړې. زولا د رومانتېزم ماتې له نوې ټولنې او پوهنې سره د عمومي قشرونو د تمایلاتو د تطبیق نشتون ښيي او وایي:(( ناتورالېزم د یوې نوې دیموکراتیکې ټولنې محصول دی، زموږ روښانه او نوی تمدن د طبیعت په هکله ځانګړې او اړینه پوهېدنه له ځان سره لري. له شک پرته چې نننی لیکوال به د خپلو اسلافو په پرتله غني او بډایه اثار منځته راوړي اوکار به یې له واقعیت سره نیږدې وي.) (۳۰: ۴۰۲م)

زولا په دې اند و، چې په ادبیاتوکې د طبیعي علومو طریقې یا روشونه باید دننه شي، د ده لارښوونې په دې برخه کې هغه علمي اثار دي، چې په ډېرو اړخونو کې ژوند او علمي روشونه تر تحلیل لاندې نیسي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ناتورالېستان او په خاص ډول زولا او ملګري يې هڅه کوي چې علمي جبر په ادب کې رواج کړي او ادبیاتو او هنر ته علمي بڼه ورکړي.

## د ناتورالېستي اثارو ځانګړې

ناتورالېستان د اثارو دننه د اخلاقو او مذهب پر وړاندې ودرېږي، داسې خبرې کوي، چې په ادب کې چا نه وي کړې. دوی غواړي، د هغو کسانو چې رسم، عادت او اخلاقو ته پابند دي، غوسه راوپاروي او د خپل ځان پر وړاندې يې تحريک کړي.

د ناخوښيو، فقر او بې عدالتۍ انځورونه چې لومړی د دیکنز په اثارو کې اوج ته رسيدلې وو، خو بورژوازي ټولنې کوم ځانګړی ارزښت نه ورکاوه او زولا بېرته دغه حقايق راوسپړل. ناتورالېستان د حقيقت او ژوند تر منځ ژورو اختلافاتو ته اشاره کوي او د مينې اړوند مسائل بيانوي. په ناتورالېزم کې زياته پاملرنه جزيي مسائلو ته کېږي اوليکوال د قهرمانانو کوچني حرکتونه هم له پامه نه غورځوي. دلته د انسان جسم د روح په پرتله ډېر اهميت پيدا کوي، د دوی په اند د انسان ټول احساسات او افکار هغه جريانات دي، چې د انسان د جسمي جوړښت له طريقه حاصلېږي، دا جسم له مور او پلار څخه انسان ته د وراثت له لارې رسېږي. د ناتوراليستي اثارو بله مهه ځانګړنه د اشخاصو مکالمې دي، چې په ساده او عامه ژبه راوړل شوې دي، دا ډول مکالمې په نورو ادبي مکتبونو کې ډېرې تتې يا په نشت حساب دي.

## د ناتورالېزم ماته

په (۱۸۹۰م) کې فيلسوف او د ادبي نظرياتو خاوند ه .ټين (۱۸۲۸-۱۸۹۳م) پر علومو او تحقيقي فلسفې باندې تاکيه کوي، د بورژوه پر هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



چاپ شوي رومان کې چې مرید نومیږي، داسې نظر ورکوي: (( زموږ د نسل عمر ختم شوی دی.)) نوموړی دلته هغه نسل یادوي، چې نړۍ او ادبیاتو ته یې له علمي زاویې نه کتل.

په ادبیاتوکې له دې وروسته شارل بوډلر له نوي شعر سره روغبړکوي، د نولسمې پېړۍ په پای او د شلمې پېړۍ په اوایلوکې نوی شعر او نوی دور د سېمبولېزم سره یوځای پیلیږي او په دې ډول نوی جریان ادبیاتو ته لاره پیداکوي. دغه جریان د سترو شاعرانو (شارل بوډلر، ارتر، ستېفن) شعرونه او افکار له ځان سره لري، چې د شلمې پېړۍ د شعري تحول لپاره اغېزمن واقع کیږي. شارل بوډلر د خپلو ادبي تخلقینو په اساس د سېمبولېزم پلار بلل شوی، نوموړی د ایډګار الن (۱۸۰۹-۱۸۴۹م) له اثارو متاثر اوزیات اثار یې په فرانسه کې ترجمه کړي دي.

## سېمبولېزم (ابهام)

سېمبول د یوناني کلمې له (Symbolo) چې مانا یې نښه او علامه ده، اخېستل شوې ده. د ادبي مکتبونو په لړکې سېمبولېزم هغه ښوونځی دی، چې د (۱۹)مې میلادي پېړۍ په پای او د شلمې پېړۍ په اوایلوکې د ریالېزم او ناتورالېزم پر خلاف منځ ته راغی. (۵: ۱۱۵م)

دا ادبي جریان د بورژوازي ټولنې د عمومي او ټولنیزکلتور له بحران نه را زیږدلی، د پیدایښت لومړی ځای یې فرانسه او بیا د لویدیځې اروپا هېوادونو دي. استاد محمد صدیق روهي د چولیس تیلر په خبره چې ((کلمه پرتمینه ده؛ خو په خپله شی ډېر ساده دی، سېمبولېزم په ساده‌ګۍ سره دې ته ویل کیږي، چې څوک د یوه ذهني حالت د څرګندلو لپاره یو تصویر (ایماژ) تر لاسه کړي او هغه په داسې ډول افاده کړي، چې د ذهني حالت د څرګندلو پرځای د هغه په باره کې ترلاسه شوی تصویر مجسم کړي.)) (۹: ۴۱۸م)

(c) ketabton.com: The Digital Library



سېمبولېستان په عمومي ډول طبيعي ژوند د انساني طبقې د حاکم وضعيت پر وړاندې دروي او د بورژوازي واقعيت سره منفي برخوردکوي. سېمبولېزم په روسيه کې د (۱۹۰۵م) کال د انقلاب د پخېدو په پړاونوکې منځ ته راغلی او له پانګوالو او اشرافوکرکه او له هغوی څخه د وېرې په څرګندلو ادب او هنر ته لار پيدا کړې ده. هغه تصوير او تمثيل چې د سېمبولېزم په چوکاټ کې راڅرګندېږي، د فرد ځانګړي تمايلات ښيي او واقعيتونه په کې ژر نه محسوسېږي، بلکې سړی ابهام، پېچلتيا او تيارو ته بيايي. ډېر ليکوال سېمبولېزم د ابهام ناپېيلی او مرموز جريان بولي، چې پرې پوهېدل ځانګړې مهارت ته اړتيا پيښوي. حتی تر دې چې ځينې يې له تعريف او پېژندنې څخه تېښته کوي او نشي کولی د سېمبولېزم ماهيت او محتوا تعريف کړي. د يونان ستر فيلسوف اپلاتون چې پخوا له دوو لارو سېمبولېزم ته ورننوتی، وايي :(( يوشی يا يوه پديده د رمز او تمثيل له لارې ډېر ژر پېژندل کيدای شي، خو د دې پرځای چې دا څه شی دی، دا به اسانه وي، چې ووايو دا شی څه ته ورته دی؟)) (۵: ۱۳۸م)

دا حقيقت دی، چې سېمبولېزم د افراطي طبيعت پالنې او د هنر د هنر لپاره د نظريې پر ضد منځته راغلی، خو د پام وړ خبره دا ده چې د دې نوي ښوونځي بنسټ اېښودونکی شارل بوډلر په خپله د هنر د هنر لپاره د



(c) ketabton.com: The Digital Library


نظریې پلوی و، خو وروسته یې نوې لار وټاکله او نوی مکتب یې منځ ته راوړ.

سېمبولېستانو د دې پر ځای چې خپلې لیکنې او اشعار په روښانه او ښکاره ډول وړاندې کړي، خپلې اندېښنې، عواطف او احساسات یې په ابهام او رمزي چوکاټ کې دننه بیان کړی دي. د بوډلر په فکر حقیقت د ساده خلکو له سترګو پټ دی، یوازې شاعر چې د درک قدرت لري، د دغو علامو او نښو په تعبیر او تفسیر سره کولی شي دغه حقیقت احساس کړي. بوډلر د خپل کار د اساس لپاره سېمبولیکه ژبه وټاکله، کوم چې د سېمبولېزم لوی ځانګړتیا فردي اصالت او د ژوند ستونزو ته عیني او نفسي ځواب دی. د فن په اړه د سېمبولېستانو ځانګړتیا دا ده، چې د حسي پوهاوي هغې خوا ته د پرتو ایډیاوو له مخې انسان د سېمبولیکي ورته والي د ښکاره کولو له لارې د دنیا د یووالي پوهاوي ته رسیدلی شي. مخکې مو هم اشاره وکړه چې سېمبولېزم د تعریف په تنګ چوکاټ کې له ابهام سره مخ دی، یعنې د تعریف په ټاکلوکې ټول لیکوال او شاعران سره یوه خوله نه دي، خو دومره وایو چې ((سېمبولېزم د افکارو او عواطفو داسې بیان دی، چې په مستقیم ډول د ښکاره تشبیه او یا په عیني او لمسي ډول نه ښکاره کیږي، بلکې د دوی ښکاره والي ته اشاره په غیر توضیحي سېمبولونوکیږي او هدف ترې د لوستونکو په ذهن کې د افکارو او عواطفو ایجاد وي.)) (۱۳: ۲۲۳م)

په (۱۸۸۰م) کال کې د نوي نسل په افکاروکې د هنر او ادب له درکه یو نوی حالت راوزیږید، چې لامل یې د انساني ژوند نا ارامتیا او له زاړه تمدن څخه بې زاري په ګوته کوي. سېمبولېستان د ریالېزم او ناتورالېزم پر وړاندې ودریدل، له ریالېستیکو واقعیتونو یې لوستونکي بې خبره ساتل او له سېمبولېزم د ځای او وخت په حساب په فکري او سیاسي نظره سره یوشان

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه وو. په روسیه کې سېمبولېزم د انګلستان او په انګلستان کې سېمبولېزم د المان او په المان کې سېمبولېزم د فرانسې په نسبت ډېر بدلون لري.

## سېمبول

د سېمبول (Symbole) کلمه له یوناني سومبولون (Sumbolon) څخه مشتق شوې ده، مانا یې د دوو شیانو چسپېدل، نښلېدل، سرېښېدل او نصبېدل دي، داسې څه چې دوې برخې ولري. د بېلګې په ډول دوه کسانو ته چې یو بل نه پېژني یو کاغذي نوټ چې په غیر منظم ډول څېرې شوی ورکول کېږي، تر څو وېې رغوي. د دغې نوټ د جوړولو پر مهال هغوی ته زمینه برابرېږي، چې یو بل وپېژني او پر یو بل اعتماد وکړي. د وخت په تېرېدو له دغې کلمې څخه د مانا برداشت مخ پر پېچلتیا روان شو. هغه تعریف چې په (فن او انتقادي فلسفي قاموس) کې ا.لالانډ (۱۸۶۷-۱۹۶۳م) لیکلی، داسې دی:((هره حس کیدونکې نښه چې له طبیعي رابطې سره د یو پټ او نا لیدلي شي ذکر وکړي، سېمبول دی.)) (۳۱: ۵۳۸م) یا د ژول لومتر (۱۸۵۳-۱۹۱۴م) تعریف :((دا یو ډول تطبیق دی، چې یوازې دویم جز یې مونږ ته راکول کیږي او دا د پرلپسې استعارو یوه اړینه دستګاه ده.)) (۵: ۵۳۹م)

هګل په (ښکلا پېژندنه) کې د سېمبولېزم اړوند بحث ته لومړیتوب ورکوي او په دې هکله وایي:((سېمبولېزم د خپل طبیعي جوړښت پر اساس مبهم او څو اړخېز دی، انسان له سېمبول سره د لومړي تماس وروسته له ځان نه پوښتنه کوي، ایا دا په واقعي ډول یو سېمبول دی که نه؟ د سېمبول ټولې مختلفې ماناوې پوښتنې زیږوي، لکه: (( هغه کومه مانا ده، چې له دې سېمبول سره په حقیقي ډول متعلقه ده؟ نو د دې پر اساس د نښې او مدلول تر منځ واټن ممکن ډېر زیات واوسي.))

(c) ketabton.com: The Digital Library



د سېمبول فعالیت په دوه ډوله دی، یو د رمز او بل د ایجاد دنده سرته رسوي. سېمبول د استعارې پر خلاف انسان د یوې پټې مانا د پېژندلو لپاره مېلمه کوي، دغه مخفي مانا کیدای شي یو ممنوع او له لاسه ورکړل شوی څیز وي، چې په اسانۍ سره د بیان وړ نه وي.

## بیانیه

سېمبولېزم له نورو مکتبونو نوې او بېلې ځانګړنې لري، سېمبولېستانو مطالعه ډېره او هیلې کمې درلودې، دوی د انحطاط دورې د شاعرانو اهداف د ځان لپاره غوره او له نوي شعر چې د بوډلر وروسته را پیدا شوی و، کلکه دفاع کوله. د دې ترخنګ هغه مجلې او مقالې چې له (۱۸۸۴م) کال را په دې خوا د ځوان کهول لخوا چاپېدلې د فکر زړې وکرل، په (۱۸۸۶م) کال د سپټمبر میاشتې په اتلسمه نېټه شاعر ژان مورېس د نوي ادبي ښوونځي بیانیه په (فیګارو) نومي ورځپاڼه کې نشرکړه. دې بیانیې په ادبي محفلونو کې نوي توده بحثونه راوزېږول او همدا لومړی ځل و، چې مورېس د سېمبولېزم کلمه وکاروله. له دې وروسته دا نوی ښوونځی په همدې نوم ونومول شو. سېمبولېزم په (۱۸۹۰م) کې د عمل ډګر ته لاره پیدا کړه او د (۱۸۵۵-۱۹۰۱م) کلونو ترمنځ په اروپا کې وپالل شو. په اتریش کې (امېل ورارن ،مورېس مترلینګ) ستر سېمبولېستان دي او همداسې په یونان، روسیې او امریکا کې د دې ښوونځي ډېر پیروان تر سترګو شوي او سېمبولېزم نړیواله بڼه غوره کړه.

## د سېمبولېزم اصول

سېمبولېزم د محتوا په لحاظ د ایډیالېزم د فلسفې تر تاثیر لاندې و، له (۱۸۸۰م) کال وروسته په فرانسه کې نوي فکرونه راوټوکېدل او د شوپنهاور د

(c) ketabton.com: The Digital Library



بدبینۍ غږونو ډېر شاعران له درانه خوبه راویښ او په هوش راوستل.
سېمبولېزم د نچرالېزم، ریالېزم او رومانتېزم پر خلاف رامنځته شوی او له هر ادبي مکتب یې لار بېله ده. له ناتورالېزم په دې توپیرېږي، چې د خارجي طبیعت انځورونه د هنر دنده ګڼي او سېمبولېزم درون هر څه بولي، ریالېزم یې په دې نه خوښېږي چې واقعیت په مستقیمه ژبه بیانوي، خو سېمبولېزم حقیقت د انسان داخلي څرنګوالی ګڼي، چې د فن سکالو جوړوي. له رومانتېزم سره یې وران والی په دې و، چې رومانتېزم ځانګړي فرد او سېمبولېزم ټولنې ته ارزښت ورکاوه. سېمبولېزم دکیفیتونو پر ځای احساساتو ته خوښ و، د شعر خوند او رنګ یې په احساساتو نه، بلکې په ژبه کې لټوي. (۳۲: ۲،۱م)

سېمبولېزم د یو نړیوال ادبي مکتب په توګه ځانته بېل اصول لري، سېمبولېستان وايي:(( د طبیعت په اړه زموږ نظریات عبارت زموږ له روحي ژوند نه دي، موږ یو چې احساس لرو او زموږ د روح اغېزمنتیا ده، چې په شیزونوکې انعکاس مومي.)) (۳۳: ۸م)

د توجو وړ خبره دا ده، چې سېمبولیک شاعران په ځانګړي ډول بوډلر او رمبو لومړني کسان دي، چې د ازاد شعر پر لور ګامونه اخلي او فرانسوی شعر د وزن او قافیې له قیده ازادوي. همدا دوی د منثور شعر لپاره لار پرانېزي او دې ته ورته ادبي خدمتونه ترسره کوي، چې په خپل ځای د ستایلو وړ دي. د سېمبولېزم اصول په څو لنډو کرښو کې داسې درپېژنو:

(۱) ـ په دې ښوونځي کې شکلونه، سېمبولونه، موسیقي او قوانین د عقل او منطق څخه لرې او نه منونکي ګڼي، یوازې احساسات ورسره همغږي دي او بس !

(۲) ـ هر لوستونکی یو ادبي اثر د خپل درک او احساس په اندازه پېژني،

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو داسې اثار باید ولیکل شي، چې ټول وګړي یې په عادي ډول ونه پېژني، بلکې هر لوستونکی د خپل روحي حالت او درک په اندازه ترې یوه بله مانا واخلي.

(۳) ـ د امکان تر پولو له عیني واقعیت نه لرې او ذهني واقعیت ته نیږدې وي. (۲۴:.م)

## ازاد شعر

شاعرانو پټېيلې وه، چې شعر باید نور له زړو محدودیتونو راوباسو، دوی د الکساندر نظم چې په (۱۲) څپه‌ییز فورم کې لیکل شوی او د فرانسې د اصلي شعر زړه بلل کېده، له پښو وغورځاوه. د شعر دغه زاړه قوانین یې ونګول، شعر ته یې نوي قالبونه جوړ کړل او لنډې، اوږدې، مساوي او غیر مساوي مصرې یې ترویج کړې، چې دغه اصل تر ننه په خپل ځای پاتې دی. دوی د شعر پر مساوي مصرعو د وېش خبره ورکه کړه، قافیه یې ساده او پر ځای یې د ناقصې قافیې خبره ترویج کړه، چې په دې ډول ازاد شعر ته زمینه برابره شوه او نوی وجود یې پیدا کړ. په فرانسه کې دا قالبونه د جوړښت وړاندې په امریکا او نورو هېوادونو کې د اصولو سرغړونه شمېرل کېده. امریکایي شاعر ا.و. وایټ مېن (۱۸۱۹-۱۸۹۲م) خپل اشعار د ازاد شعر په فورم کې لیکلې وو، له دې طریقه په فرانسه کې د ازاد شعر د پیدایښت مرحله د وایټ مېن له اشعارو سرچینه اخلي. په فرانسه کې لومړی ازاد شعر ارتور رمبو په (۱۸۸۶م)کې ووایه او له ده دوه درې کاله وروسته نورو شاعرانو زیات ازاد شعرونه ولیکل. د دغه شعري فورم د اصولو د ټاکلو په برخه کې دوی د (۱۸۸۶-۱۸۸۹م) کلونو ترمنځ یو شمېر مقالې ولیکلې او په دې ډول یې د ازاد شعر لپاره د قوانینو ټاکنه وکړه. (۳۱: ۵۴۷م)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## نامتو استازي

شارل پیر بوډلر (۱۸۲۱-۱۸۶۷م): شاعر، نقاد او فرانسوی ژباړن دی، د پلار د مړینې وروسته یې تریخ ژوند درلود او د ایډګار الن نامتو اثر یې فرانسوي ژبې ته ژباړلی دی. بوډلر په ادبیاتو کې د نوښتونو له امله د معاصریت (مډرنېزم) مشهوره څېره بلل شوې او دا لقب ورته مشهورو نقادانو ورکړی دی.

ژان ارتور رمبو (۱۸۵۴-۱۸۹۱م): نامتو فرانسوی شاعر او د سېمبولېزم پیرو ګڼل کېږي، په شعر لیکلوکې لوی لاس لري او په دې برخه کې یې د پام وړ کتابونه هم لیکلي دي.

ستېفن مالارمه (۱۸۴۲-۱۸۹۸م): دا یو بل فرانسوی شاعر دی، چې په اشعاروکې یې ابهام دومره پټ او ننوتی دی، چې پوهېدل پرې اسان کار نه دی. نوموړي په نظم او نثر دواړه کې قلم چلولی دی.

ا.پاوند (۱۸۸۵-۱۹۷۲م): دا سړی د نویو نړیوالو ادبیاتو په برخه کې نه هېرېدونکی شخص دی. نوموړی له اصله یو انګریز ښاغلی دی، خو د جګړې او ناوړه حالت له مخې یې انګلستان د تل لپاره پرېښودلی، لومړی فرانسې او بیا ایټالیایې ته کډه شوی دی. پاوند د شلم قرن مشهور شاعر دی چې اشعار یې نوي رنګونه لري، د پخواني یونان له اشعارو ډېر متاثر او د سېمبولېزم کلک پلوی و. یوازې اشعار نه، بلکې په نور ادبي پنځونوکې هم لوی لاس درلود او ډېری مقالې یې په معاصره ادبي کره کتنه کې ځانګړی ارزښت لري.

ایډګار الن پو (۱۸۰۹-۱۸۴۹م): امریکایی رومانتیک، خیال زنګونکی شاعر او لوی نقاد دی، د اشعارو مجموعه یې (کوډ تیمور) نومېږي، چې په (۱۸۲۷م) کې چاپ شوې ده. لنډ پولیسي او وحشتناک داستانونه یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



لیکلي او د (کلاغ) په نوم شعر یې نړیوال شهرت لري، چې د ښکلې مېرمن پر ویر لیکل شوی دی. په اشعارو کې یې نبوغت له دې څرګندیږي، چې لویو شاعرانو او لیکوالو ستر شاعر بللی. د دې تر څنګ ځینې نور مارشل پروست (۱۸۷۱-۱۹۲۲م)، ماریه ریلکه (۱۸۷۵-۱۹۲۶م)، استفین کیورګ (۱۸۶۸-۱۹۳۳م) د سېمبولېزم نامتو پیراون ګڼل کیږي. په بلژیک کې د دې مکتب ستر پیرو موریس مترلینګ نومیږي، چې د ادبیاتو په برخه کې یوه مشهوره څېره ښودل شوې ده. (۱۳: ۲۷۷م)

## له سېمبولېزم جلا شوي مکتبونه

ځینو شاعرانو او لیکوالو له سېمبولېزمه لاس واخیست او د درون د پرېښودلو پریکړه یې وکړه، دوی د داخل په پرتله د خارجي طبیعت د انځورونې په فکرکې ډوب شول، له سېمبولېزم سره یې مقابله پیل کړه او بېل واړه ادبي مکتبونه یې رامنځته کړل. د یادونې وړ ده، چې دا ادبي ښوونځي د پېژندنې پراخه ساحه نه لري، ملاتړ یې کمزوری او ډېری یې په نشت حساب دي.

## رومن

په (۱۸۹۱م) کال د سپتمبر میاشتې په څوارلسمه نېټه د سېمبولېزم له بیانیې پنځه کاله وروسته ژان موریس په (فیګارو) نومې ورځپاڼه کې د نوي ادبي ښوونځي (رومن) په هکله لیکنه خپره کړه. په دې لیکنه کې موریس پخواني یوناني او رومي ادب ته د فرانسوي ادبیاتو ستنېدل غوښتل او له دې کار یې کلکه دفاع کوله. دوی د فرانسې اصیل ادبیات چې له یونان او روم څخه تقلید شوي وي، غواړي او د پخوانیو فرانسوي لیکوالو (راسین، لافونټن، ...) ستاینه او پالنه کوي. (۳۴: ۱م)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ناتورېزم

ناتورېزم د نورو ادبي مکتبونو تر څنګ د نړۍ په ادب کې ځانته مقام لري. دا په کامله توګه یو فرانسوی ادبي مکتب دی، چې د فرانسې له سرحداتو بیرون کوم اغېز او پلویان نه لري، که چېرې د فرانسوي لیکوالو لخوا نه وای پالل شوی، لرې نه وه، چې په ادب کې به یې یوازې نوم راپاتې وای. د دې ښوونځي بیانیه په کال (۱۸۹۷م)کې د سېمبولېزم او رومن په څېر په (فیګارو) ورځپاڼه کې د سینټ جورج دوبویله (۱۹۴۷-۱۸۷۶م) لخوا خپره شوه، چې په کې پر سېمبولېزم ډېرې نیوکې او حملې شوې وې. ناتورېستانو د فرانسې طبیعي منظرې ته پر بل هر طبیعت لومړیتوب ورکاوه، دوی په شکسپیر، واګنر او ناروېژي ډرامه لیکونکو سختې نیوکې کولې او پر دې نظر و، چې :(( لازمه ده له دغو خارجي افکارو څخه چې زموږ ذهن ته یې ربښې غځولې، ځانونه وساتو.)) (۳۱: ۶۱۹م) په دې بیانیه کې د ملي روح د بیدارۍ، د ځمکې او قهرمانانو ستاینه او د مدني قوتونو د سپېڅلتیا په هکله خبرې شوې دي، چې د دې ښوونځي دریځ ښیي او فرانسویانو په ځانګړې ډول ځوان نسل ته ډېر نوي څه لري.

ناتورېستان د پېچدګۍ، ابهام او رمز مخلاف وو او له شعر څخه یې د هغوی ایستل پیل کړل، د ژوند او نړۍ د ښکلاوو په انځورونو یې پیل وکړ، خو ونه توانیدل، چې د اثارو په لیکلو او د بیانیو په خپرولو په نړیوال ادب کې ځانګړی مقام خپل کړي. البته ځینې مخکښ لیکوال او شاعران شته، چې طبیعت یې پاللی، خو دوی کوم ناتورېستان (طبیعت پالونکي) نه وو. د دې ښوونځي دوه مشهور سرلاري بویلیه او انا ډونوی نومیږي. (۳۴: ۴م)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## کسموپلیتېزم (جهان پالنه)

دا اصطلاح د زړې یوناني ژبې (Kosmolpoits) کلمه ده، چې د نړۍ تبعه (اوسېدونکي) مانا لري. دا مفهوم د نړۍ پر ټولو انسانانو دلالت کوي، د دې مکتب استازي د نړۍ د ټولو اوسیدونکو تر منځ د همکارۍ او باور فضا رامنځته کول غواړي، دوی دا نړۍ د ټولو انسانانو مشترک کورګڼي او کوم مادي او معنوي اړیکې له خاص قوم او هېواد سره نه ساتي، هېڅ راز پوله او سرحد نه پېژني، بلکې نظر یې نړیواله بڼه لري. مارکوس سیرون هغه شخص دی، چې دغه نظریه په درې ډوله وېشي.

(۱)-طبیعي عدالت (۲)-نړیوال طبیعت (۳)-نړیوال دولت

د دوی په فکر نړۍ یو واقعي حکومت لري، چې دا حکومت په خپله خدای دي. دوی معتقد دي، چې د خدای او بنده ګانو ترمنځ رابطه د زوی او پلار په شان ده، نو په دې ډول غلام او وینځه، سړی او ښځه ټول یو برابر دي.

د دې کلمې پیدایښت اوږد تاریخي پس منظر لري، له لرغوني یونان تر روښانتیا دور پورې یې ریښې غځولې دي. د رنسانس په دوره کې د جهاني تابعیت مفکوره د فیوډالي سیمه پالونکو د مفکورې پر ضد وه. دوی د فیوډالېزم تنګ او وړوکی چاپېریال انځوروي، چې هدف ترې ازادي ده. دا نښې د ګویته، شېلر، کانت او فیخت په اثارو کې د پام وړ دي. ځینو پوهانو دا اصطلاح یوه ارتجاعي بورژوازي مفکوره بللې، چې د انسان له زړه نه د وطن او خلکو مینه وباسي او د فداکارۍ احساس یې وژني، خو دا نظر د تامل وړ دی. دا ښوونځی د ناتورېزم په شان یوازې په فرانسه کې ځانګړو کسانو تعقیب کړی دی، دوه فرانسوي شاعران وابیري لاربوو او پل موران د دې مکتب سارلاري ښودل شوي دي. (۸: ۱۶۵م)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## نور واړه مکتبونه

ځینې نور واړه مکتبونه هم شته، چې د ادب په نړۍ کې ځلانده نوم او مقام نه لري، مومږ دغه مکتبونه په څو لنډو کرښوکې تاسې ته درپېژنو. دغه مکتبونه په اروپايي هېوادونو کې منځته راغلي، زيات نه دي پالل شوي، خو بيا هم د يادونې او تشريح وړکيدای شي.

## اونانيمېزم

اونانيمېزم فرانسوي کلمه ده، له (Unanime) چې مانا يې متحد، صميمي، متفق او سره يو ده، مرکب شوې ده. رېښه يې د لاتيني ژبې له (Unanimus) څخه اخېستل شوې، چې په شپاړسمه پېړۍ کې له لاتيني ژبې فرانسوي ژبې ته راغلې ده. د شلمې پېړۍ په اوايلو (۱۹۱۰م) کې د اونانيمېزم اصطلاح په هغه ادبي مکتب اطلاق کېده، چې نامتو فرانسوي شاعر او ليکوال ژول رومين (۱۸۸۵- ۱۹۷۲م) د جورج شنوير په ملګرتيا په پاريس کې يې بنسټ اېښودلی و. اونانيمېزم د نولسمې پېړۍ د متفاوتو فکري جرياناتو محصول دی، د همدې پېړۍ د دوه نيمې لسيزې را په دې خوا فرد پالنې، ديموکراتيکو غبرګونونو، سوسياليستي او په کلي توګه ټولنپېژندنې د اونانيمېزم په پيدايښت کې مهم رول لوبولی دی. د دې مکتب اصول له ساده استدلال پيلېږي، د دوی په اند د هر انسان د وجود دننه ځينې احساسات او افکار شته چې له ځان نه توليد شوي، خو ځينې نور هم شتون لري، چې د بلې ډلې، ټولنې او خلکو لخوا پر مونږ تحميل شوي وي. هنري او فلسفي مکتبونه په دې نظر وو، چې :((فرد د تکامل اخري درجې ته د رسيدلو لپاره لازمه ده انفرادي شخصيت وروزي او د بيروني نړۍ له تاثيراتو او مداخلو پرهېز وکړي.)) (۸: ۱۳۷م) اونانيمېزم ځان د ټولنې د فرد نبوعت او تکامل يوازينۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



منشاء ګڼي. د اونانیمېزم ستر سرلاری ژول رومن له هومر، هوګو او زولا متاثر و. که د دې مکتب تاریخي پس منظر وڅېړل شي معلومېږي، چې د (۱۹۰۶م) کال په اواخرو کې ځینو ځوانو هنرمندانو او شاعرانو د فرانسې په یوه لرې پرته سیمه کې (د هنرمندو ورونو خانقا) تر عنوان لاندې یوه ډله رامنځته کړه. شارک ویلدرک (۱۸۷۱-۱۸۸۲م) او ر.ارکوس د ژوند له ستونزو د خلاصون لپاره د ځانګړي ژوند په لټه کې وو، چې په همدغې خانقا ور برابر شول. دوی د اقتصادي ستونزو له کبله په همدې کور کې استوګنه غوره کړه او د یوې سترې چاپ خونې د جوړولو په لټه کې شول. په دې ډله کې ډېر موسیقي غږوونکي، انځورګر او شاعران موجود وو، چې رومن هم ورسره یوځای شو، خو ملګرتیا یې تل پاتې نه، بلکې د ځانګړو مالي او فکري ستونزو له امله بېله شوه. دا ډله وتړل شوه، خو د فرانسې د شعر په تاریخ کې یې اغېزمن رول په میراث پرېښود. همدې شاعرانو د سېمبول، رمز اوکنایو سره اړیکې په بشپړ ډول وشلولې او د هغې پر ځای یې په لنډو تصویرونو تکیه پیل کړه. دوامیل او ویلدرک له (۱۹۰۰م) کال د شعر په اړه یادښتونه چاپ او په شعر کې یې د وزن په اړه خبرې پیل کړې او په (۱۹۲۳م) کې ژول رومین او شنویر د نظم کوچنۍ رساله چاپ کړه. ر. ارکوس هم ځینې رومانونه ولیکل، همدې لیکوالو د ځینو مجلو په تاسیس لاس پورې کړ او د نولسمې پېړۍ په لومړۍ او دویمه لسیزه کې نورې پنځونې هم وکړې. ژول رومن وپتیله، چې دغه ټولې لیکنې او اندېښنې د اونانیمېزم تر اصولو لاندې بیان کړې، رومین  وایي دغه صومعه د اوو انسانانو یو ډول قوت او موجودیت و، چې دغه انسانان  په اصل کې اووه ملګري وو، که څه هم په صومعه کې د اونانیمېزم روحیه تیت شوې وه، خو د اونانیمېست نوم یوازې ژول رومین او شنویر خپل ځان ته منسوب کوه. دغه تاثیرات او طرز

(c) ketabton.com: The Digital Library



تفکر په نورو شاعرانوکې هم رېښې وځغلولې او نور جریانات یې پیدا کړل. رومین مختلفې انساني ټولنې مطالعه او بېل افکار تحلیل کړې وو، لیکوال د انسانانو د ټولنیز ژوند نظم او یووالی د فرد په ازادۍ او انتخاب پورې تړي او له هر ډول زور او فشار یې خوندي بولي. رومن په نثر او شعرکې د ژوند او مرګ واقعیت انځوروي او په مختلفو ټولنوکې د مشترک روح له ترسیم غږېږي. د دې ښوونځي تر ټولو اوږد رومان (هوښیار ولس) نومېږي چې په فرانسه او اروپا کې یې ستر تحولات پیښ کړي دي. (۲۴:.م) د دې مکتب د پیدایښت ځای فرانسه ده، نامتو څېرې یې ژول رومین، شارک ویلدرک، جورج دوامیل او شنویر دي، چې د مجردې بشرپالنې تبلیغ یې کاوه.

## فوتورېزم (راتلونکی)

په لویدیځ ادب او هنرکې فوتورېزم له نورو ادبي مکتبونو په متفاوت او بېل ډول منځته راغلی، دا ښوونځی د شلمې پېړۍ په ادبي مکتبونوکې یو ځوان، خو د کم عمر لرونکي مکتب حیثیت لري. فوتورېزم د (Futur) له کلمې چې د راتلونکي مانا لري، اخیستل شوی دی. د ښکلا پېژندنې دا جریان پر روسیې او ایټالیې سربېره ټوله اروپا کې له لومړۍ نړیوالې جګړې مخکې خپور شو. دا ښوونځی په ایټالیا کې منځته راغلی، خو معرفت او تاریخ یې په پاریس کې د فوتورېزم بیانیې په چاپ سره پیلېږي او دا بیانیه یه په (۱۹۰۹م) کال په (فیګار) نومي ورځپاڼه کې چاپ شوې ده. د دې مکتب بنسټ ایښودونکی توماس مارینټي (۱۸۷۶-۱۹۴۷م) نومېږي چې پېراون یې د بشر راتلونکی هنر او ادب د همدې مکتب پر اصولو ولاړ ویني. دوی واقعي هنر او ادب یوازې او یوازې فوتورېزم ګاڼه، د دې مکتب لومړی ټاټوبی ایټالیا او موسس یې مارینټي د فاشیزم یو وفادار سمندربول او په

(c) ketabton.com: The Digital Library



دويمه نړيواله جګړه کې د ایټالیې د هغو فاشستي قواوو لوی منصبدار و چې د شوروي اتحاد د ځواکونو له خوا ماته ورکړل شوه. مارينټي د فوتوريستانو ايډيالوژي د فاشيزم په خدمت کې منحرفه کړه چې ريښې يې له وړاندې په ناتوراليزم، سيمبوليزم او اونانيميزم کې په ځرګند او نا ځرګند ډول موجودې وې.

## د فوتوريزم پيدايښت

فوتوريزم په لومړيو کې د ایټالوي شاعر او رومان ليکونکي ډانيل انانزيو (۱۸۶۳-۱۹۳۸م) او د هغه دور د شاعرانو د سبک، عقايدو او پېچلتياوو پر ضد رامنځته شو. فوتوريزم د شاعر د داخلي احساساتو او هيجاناتو ځرګندتيا او بيان نه مني، د ژبې د قوانينو رعايت او د مانا له بيان سره مخالفت ښکاره کوي اود غير شاعرانه کلماتو غوښتونکي دي. دا ښوونځی د بيانيې له چاپ سره سم په اروپا او ځانګړي ډول روسيه کې له تود هرکلي سر مخ شو، مارينټي په بيانيه کې ليکلي:(( فوتوريزم له زړو هنرونو بې زاره دی، د دې خوځون اصلي هدف معاصريت، سرعت او ټکنولوجي ده.) (۳۱: ۶۴۵م)

فوتوريستانو ته ماشين الات، الوتکې او صنعتي ښارونو ډېر ارزښت درلود، ځکه چې هغوی غوښتل د انسان بريا پر طبيعت لوړه وښيي. روسيې ته فوتوريزم په (۱۹۱۳م) کې لاره پيدا کړه. روسي فوتوريستان له جامدو قوانينو په تنګ راغلی وو، نوی ژوند يې خوښېده او همدا لامل و چې له فوتوريزم سره يې روغبړ وکړ. فوتوريزم په روسيه کې د ادب په پرتله په انځورګرۍ کې ښه وځلېد، خو د جوزف استالين اوکمونيست ګوند له لوري ډېر ژر وځپل شو. په ایټاليا کې فوتوريستانو له فاشيزم سره علاقه درلوده او له مختلفو فاشيستانو يې ملاتړ کاوه، دوی فکرکاوه، چې د فاشيزم په واسطه کولی شي ایټاليا لوړ پړاو ته ورسوي. مارينټي په دې بريالی شو، تر څو د فوتوريستانو

(c) ketabton.com: The Digital Library



یوه سیاسي ډله منځته راوړي، چې وروسته همدا ډله د ایټالیې ملي فاشیست ګوند کې مدغم اعلان شوه. موسېلیني دغه فوتورېستان په رسمیت وپېژندل او هغوی ته یې کار ورکړ. فوتورېزم د بل هر هېواد په پرتله په ایټالیا کې په انځورګرۍ کې د پام وړ پرمختګ کړی دی.

## د فوتورېزم اصول

فوتورېستانو د پخوانیو قوانینو او سنتونو له منځه وړل یو اړین کار باله، دوی د کلاسیک دور طرز، طریقې، بڼکلا، رومانتیک خیالات او د سمبو لېستانو رمز پالنه او تصویرونه ټول له پامه وغورځول، ګرامر ته یې کومه ځانګړې توجه نه کوله او په لیکلوکې یې لیک نښې او نور ګرامري قواعد له پامه وغورځول.

فوتورېستانو په خپلو ادبي او هنري اثاروکې د تېرو یاد نه کاوه، ډېر ټینګار یې د نن په پرتله راتلونکي ته و. په دې ښوونځي کې فوتورېستانو ولس خپل اصلي مخاطب ګاڼه او په دې باور وو، چې هنرمند باید د خلکو په منځ کې واوسي او د دوی په خبره چې (له ولس څخه ولس ته) نوي هنرونه وړاندې کړي. فوتوریستي هنر غوښتل انسان په موډرن ژوندکې له غرق کېدو وژغوري او حل لاره یې هم هنر ګاڼه چې په وسیله یې کولی شي انسانان له دغو ستونزو راوژغوري. فوتورېزم خبرو اوکلمو ته پوچ شعارونه ورکوي او کلمه له هر ډول لفظي او معنوي ارتباط نه ازاده غواړي. دوی داسې اشباح تصویرونه انځورول، چې له افادې به خپلواک وو، د دوی په اند د شعر لیکلو لوی او مهم اصل د قانون عدم مراعات دی او په ترسیم کې یې هم دغه قانون منونکي شمېرل کېږي. د دوی دا شعار ((د ادب او هنر زاړه ماڼۍ باید ورانه او بله نوې له سره جوړه شي.)) (۸: ۴۷م) خورا مشهور او د عامه افکاروپه مفکوروکې ځانګړی ځای درلود. دوی د دغې نوې ماڼۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



معماران يوازې خپل ځانونه او اساس يې يوازې فوتورېزم باله. دوی په خپلو اثاروکې د ښار، ګړندیتوب، تخنیک او ماشین پالنه کوله او ځانونه يې د نوي ژوند نوي خلک بلل.

## د فوتورېستي اثارو موضوع

د فوتورېزم ادبي ښوونځی له پخوانيو ادبي مکتبونو سره جوت توپير لري، دوی په خپلو اثاروکې له طبيعت پاللو سره جوړ نه دي. فوتورېستان ځنګلونه، غرونه، د سيند غاړې او داسې نورې طبيعي منظرې نه انځوري، لامل يې په صنعتي او شور ماشور ژوندکې ډوبيدل ښيي. فوتوريستي ښوونځی له فرياده ډک طوفان او د ازاد او لوړ پرواز مارغه له بې قراره انسان سره تشبيه‌کوي. پاتې دې نه وي چې په فوتورېزم‌کې هغه اثر ادبي او هنري ګڼل کيږي، چې خوځښت، سرعت، زړورتوب، خطر او جسارت ولري. (۳۵: ۲م)

## د فوتورېزم نامتو استازي

دا مکتب په روسيه او ايټاليا‌کې پالل شوی، خو تر روسيې په ايټاليا‌کې ډېر پرمختللی معلوميږي. په ايټاليا‌کې يې پيراون مارينټي، اومبرټو بوتچوني، کارلوکارا، لوينچي روسولو او جينو سوريني نوميږي، چې وروسته ورسره جاکومو بالا، د مارينټي ښوونکی هم يوځای شو. په روسيه‌کې ولادېمير خلبنکوف، الکسي کرچنيخ، ولادېمير ماياکوفسکي او ديويد بوليوک د دې مکتب نامتو استازي بلل کيږي.

## د فوتورېزم ماته

د ايټاليي فوتورېستان او د فاشستي نهضت غړي سره يو لاس او يوه خوله وو، جګړه يې د نړيـوالې سـولې د ساتنې يوه ښه وسيله‌ګڼله او په خـپلو

(c) ketabton.com: The Digital Library


اثارو او شعرونوکې یې د لویې ایټالیې د جوړولو ایډیا پر مخ بېوله او د امپریالیستي اشغال او فاشستي جګړه مارۍ ملاتړ او هر کلی یې کاوه. د شلمې پېړۍ په لومړیو شلوکلونوکې فوتوریزم په لویدیځه ټولنه کې ځان راښکاره کړ، خو هر ځای د ریالیزم د پیروانو له لورې له کلکې مبارزې سره مخ او له منځه ولاړ. فوتوریزم د روسیې په ادب تاریخ کې د (۱۹۱۰م) نه وروسته منځته راغی، خو تر اتوکالو زیات عمر یې ونشوکړای. پرته له میاکوفسکي (۱۸۹۳-۱۹۳۰م) او څو نورو چا نه دی پاللی او میاکوفسکي هم د ګورکي په لارښوونه دا نظریه پرېښوده. بلاخره فوتوریزم د هټلر تر دویمې نړیوالې جګړې وروسته د فاشستي افکارو سره یوځای له منځه ولاړ. (۵: ۱۴۲م)

## اکمیزم

دغه اصطلاح د یوناني ژبې له (Akme) چې دکمال مانا لري، اخیستل شوې ده. اکمیزم یو داسې ادبي نهضت دی، چې د (۱۹۱۲-۱۹۱۴م) کلونو ترمنځ په روسیه کې د شپږو شاعرانو په همغږۍ منځته راغلی دی. دغه شاعران نیکولی ګومیلوف، انا اخماتوا، سرګي ګورودتسکي او اوسیپ ماندلشټام نومیږي. په (۱۹۱۱م) کال ګومیلوف هغه ډله شاعران چې له سیمبولیزم او د و. ایوانف له رهبرۍ ازادي غوښتله، راجمع او ترې یوه ځانګړې ډله جوړه کړه، چې د نشر لپاره یې چاپ خونه او نور توکي نه لرل. دوی ماته ونه منله او په منظم ډول یې خپل فعالیتونه سرته رسول، وروسته یې ځانونه اکمیستان وبلل. دوی له دې وروسته په مسقیم ډول د سیمبولیزم پر وړاندې ودرېدل او درې برنامې یې د اکمیزم لپاره ولیکلې. لومړۍ برنامه ګومیلوف او بیا ګورودتسکي ولیکله، چې په (۱۹۱۳م) کال کې د (اپولون) په مجله کې چاپ شوې. دریمه بیانیه اوسیپ ماندلشټام د (اکمیزم سحرګاه) تر سرلیک لاندې په (۱۹۱۹م) کال لیکلې او چاپ کړې ده. (۲۵:.م)

(c) ketabton.com: The Digital Library



اکمیېزم د سېمبولېزم پر وړاندې یو ادبي نهضت دی، چې ځانونه د سېمبولېستانو رقیبان ګڼي، د دغې ښوونځي ماهیت ډېر له سېمبولېزم سره ورانه نه ښيي، بلکې دواړه د بورژوازۍ اعیانۍ او د مخ پر زوال کلتور خدمت کوي. دوی د انسان نننی واقعیتونه، ښارونه، ګلیساګانې، طبیعت ګلانو او حیواناتو انځورونه او انعکاس غواړي. اکمېیستان د طبیعت او د انسان نننی احساسات راسپړي او د سېمبولېستانو په څېر (هنر د هنر لپاره) د تیورۍ پلوي کوي. دوی د جامدو اصولو پالونکي خلک دي؛ اتل یې جګړه‌ییز مقام لري؛ په ژوندکې د جامد چاپېریال غوښتونکي دي. له انقلابي خوځښتونو سره حساسیت ښکاره‌کوي او د ماتولو لپاره له حاکمې طبقې مننه‌کوي. د امپریالېستي ځواک د غښتلتیا لپاره زمینه برابروي او د دوی ستاینه‌کوم شرم نه بولي.

د سېمبولېستانو متقابلې حملې او د فوتورېستانو پر سر رقابت دوی وېش ته اړکړل، د (۱۹۱۳م) کال په دسمبرکې اخماتوا او ماندلشتام دواړو د جوړې شوې ډلې د ستونزو پر اساس د منحل وړاندیز وکړ. ګومیلوف په (۱۹۱۴م)کال د جګړه‌ییزې جبهې غاړه ونیوه، د نړیوالې جګړې د ختمیدو سره سم‌کور ته راستون او له خپلې مېرمنې اخماتوا جلا شو. نوموړي د نورو پخوانو ملګرو پرته د شاعرانو یو بله ډله راجوړه‌کړه او هم یې د ځوانو شاعرانو لپاره د ماکسیم ګورکي په حمایت ځانته ادبي خوځښت رامنځته کړ، خو له هغه ډلې سره د همکارۍ په تور ووژل شو،کوم چې دکمونیستي رژیم د نسکوریدو لپاره یې دسیسه جوړه‌کړې وه. مېرمنې یې هم شعر لیکلو ته ادامه ورکړه، له انقلاب وروسته تاشکند ته تبعیده او هلته یې ډېر اشعار ولیکل.د دې په اشعاروکې هغه وخت د هېواد دوستۍ غبر اوچت شو، چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



دویمه نړیواله جګړه پیښه شوه. د نوموړي دوه غنایي اشعار د (۱۹۶۱-۱۹۶۳م) کلونو ترمنځ چاپ شوي دي، ګورودتسکي د نورو شاعرانو په څېر خپله ادبي ډله پرېښوده او د ادبیاتو په باب یې څو اثار وپنځول. د (روسي معاصرو ادبیاتو جریان) یې په (۱۹۱۳م)او بل اثر یې په (۱۹۱۴م) کال چاپ شوي دي. نوموړی له انقلاب وروسته له ټولنیزو مسائلو سره علاقه پیدا کړه او یو تعداد په زړه پورې منثور داستانونه او د هېواد پالنې اشعار یې ولیکل. په اکمېیستانو کې ماندلشټم یو با فرهنګه او مترقي شاعر دی، چې ملګري یې په سیالۍ کې ورځخه پاتې راغلي دي، په شعر لیکلو کې ښه مهارت لري، قوي، اهنګین، پیچلي او له فرهنګي ارتجاع سره برابر شعر لیکي. د ژوند په اخري کلونوکې یې مختلفې ادبي پنځونې او د موضوع په لحاظیې عمومي مسائل بیان کړي دي، منظوم او منثور اثار لري، ډېر یې د شلمې پېړۍ په دویمه لسیزه کې چاپ شوي هم دي. (۵: ۲۲م)

## اکمېیزم او روسیه

په روسیه کې اکمېیزم د (۱۹۰۵م) کال له انقلاب وروسته راڅرګند شوی، د سېمبولېزم له دروني جریانونو سره ټینګه اړیکه لري او د (۱۹۰۵م) کال د انقلاب له ماتې سره سم له بورژاوزي طبقې سره یوځای د روسیې له تزاري مطلق العنانۍ سره لاس یوکړ او له دوی یې ملاتړ وکړ.کله چې په (۱۹۱۴م) کال کې اکمېیزم په رسمي ډول رامنځته شو، نو مارکسیستانو یې تود هرکلی وکړ، لامل یې له عرفاني سېمبولېزم سره چې په یو شکل ماټریالېزم (ماده پالنه) وه، جګړه او اختلاف و. له انقلاب وروسته ځینو پوهانو ورته د ځمکوالو او اشرافیانو ادبیاتو نوم وکاروه. ماندلشټام وروسته اکمېیزم پرېښود او دا ښوونځی د نورو ارتجـاعي مکتبونو په څېـر د روسیې د اکتوبر انقلاب

(c) ketabton.com: The Digital Library


وروسته په بشپړ ډول له پښو وغورځول شو.

## امپرسیونېزم

د امپرسیونېزم کلمه د فرانسوي ژبې له (Impression) اخېستل شوې، چې د تخیل او خاطرې مفهوم لري. په هنر او ادب کې ځانګړی جریان دی، چې د فرانسې په انځورګرۍ کې پیدا شوی او د بورژاوزۍ له نظریاتو سره همرنګي ښيي. د دغه ښوونځي پیروان د ادب او هنر دندې د لیکوال او هنرمند د محدودو خاطراتو، احساساتو او تخیلاتو مستقیم انتقال او د هغې د ډېرو نازکو خواوو انځورول ګڼلي دي. (۸: ۱۵۱م)

دا ښوونځی تر ډېره بریده په انځورګرۍ او د ژوند د رېښتیني درک په باب په ځینو برخوکې د ریالېزم پرانسیپونه غښتلي کوي، خو ناتورالېزم ته ډېر نېږدې دی. دوی په ادب کې تفکر ته ارزښت نه ورکوي او لویه ځانګړتیا یې د فورم په محتوا کې مبالغه ده. پاتې دې نه وي، چې دا ښوونځی د نولسمې پېړۍ په شپږمه لسیزه کې پیدا او د تکامل پړاو یې د همدې پېړۍ وروستي کلونه او د شلمې پېړۍ لومړۍ لسیزه ده.

## اکسپرسیونېزم

د اکسپرسیونېزم کلمه د لاتینې ژبې له (Expression) کلمې څخه مشتق شوې ده. دا یو ادبي جریان دی، چې د شلمې پېړۍ په لومړیو څلورو لسیزو کې منځ ته راغلی او د ټولنې شدید ټولنیز بحران انځور وي. دا بحران په اصل کې د لومړۍ نړیوالې جګړې وروسته راغلی او د دې مکتب پیروان د نړیوالې جګړې د ټولنیزو بې عدالتیو، بې مفهومه ژوند او شخصیت د رټلو پر ضد اعتراض کوي. اکسپرسیونیستي لیکوال په دې اند دی، چې د واقعیت د بدلون سره سم باید د انسان شعور هم بدل شي. دوی احساساتو ته ډېر

(c) ketabton.com: The Digital Library



زیات تمایل لري او د اوسني تمدن نښو نښانو د دوی په اثارو کې ژور اغېز کړی دی. (۳: ۱۲۴م)

د اکسپرسونېزم اصطلاح په هغه سبک باندې اطلاق کیږي، چې په هغې کې طبیعت پالنه د ترسیم نه دباندې پاتې کیږي او هنرمند د احساس د بیان لپاره زیات ټینګار په اغراق او مبالغه کوي.

## تاریخچه

د شلمې پېړۍ په پیل کې یو لوی نهضت د ریالېزم او امپرسونېزم پر وړاندې ودرېږي، چې وروسته ترې د اکسپرسیونېزم غبرګپورته کیږي. د دې مکتب تعریف د لومړي ځل لپاره د (اګوست اروه) له انځورګرۍ څخه وړاندې کیږي. اکسپرسونېزم د یو ادبي او هنري خوځوون په توګه په (۱۹۰۳م) کال کې لومړی په المان او وروسته په نورو سیمو کې راڅرګندیږي چې د بشر دروني عواطف، ډار، نفرت، مینه او دردونه ترسیموي. هېر مو نشي چې دا مکتب تر (۱۹۳۳م) پورې د اروپا په ادب حاکم پاتې کیږي.

د اکسپرسیونېزم اصطلاح په (۱۹۱۱م) کال د انځورګرۍ پر هغه ځانګړې ډلې اطلاق کیږي، چې د شلمې پېړۍ په اوله لسیزه کې یې د غیر انساني کړنو انځورونه کښلي وو. اکسپرسیونېستان د ظالمانه نظامونو له غیر بشري کړنو پرده پورته کوي او په انځورګرۍ کې له تشوېش اچوونکو رنګونو ګټه اخلي، تر څو داسې اشکال ترسیم کړي، چې د واقعیتونو استازیتوب وکړای شي. اکسپرسیونېزم د یو ځانګړې هنر په توګه نوې بڼه پیدا کوي، بلاخره د ځینو مخکښو انځورګرو په مټ د (پل) په نوم یوه نوې ډله رامنځته کوي، چې وروسته له هنر څخه ادبیاتو ته هم لار مومي. ویل کیږي، چې ګوګن لومړنی انځورګر و، چې خپل عقاید او نظریات یې د دغې ښوونځي لپاره په انځورګرۍ کې وړاندې کړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library


## اکسپرسيونېزم په ادب کې

اکسپر سيونېزم د انځورګرۍ تر څنګ په ادبياتوکې هم رېښې ځغلولې دي. په ادبياتوکې اکسپرسيونېزم هغه روش او طرز ښودل شوی، چې نړۍ ته د عواطفو او احساساتو له زاويې ګوري. د ليکوال او هنرمند ډېر ټينګار د حقيقي بيان په څرګندولو پورې اړونديږي او د فردي احساساتو او تاثيراتو په حساب درک کيږي. په معاصرو ادبياتو کې له واقعيت څخه هر ډول تحريف او د شکل تغيرکولی شو په اکسپرسيونيستي روشونو کې بيامومو.

و. ويليام ګوګ ( ۱۸۵م-۱۸۹۰م)، جيمز انسور (۱۹۴۹م-۱۸۶۰م)، اميل نولده (۱۹۵۶م - ۱۸۶۷م)، ايډوارډ او جورج رويو (۱۹۵۸م - ۱۸۷۱م) د دې مکتب لوی پيروان ښودل شوي دي. (۳۶: ۲م)

## دادېزم

دادېزم يو ادبي او هنري ښوونځی دی، د شلمې پېړۍ پر مهال په اروپا کې منځته راغلی او داد په فرانسوي ژبه کې د مسخرې اوتفريحي مانا لري. دوست شينواری دا کلمه د فرانسوي ژبې له (Dadaisme) څخه اخېستل شوې ګڼي او مانا يې اسپه کي (د ماشومانو لپاره له لرګي نه جوړ اسپکی) ښيي. دا يو نهايي فورموبيستيک مکتب دی، چې د لومړۍ نړيوالې جګړې (۱۹۱۶م) پر مهال د سويس هېواد په زوريخ کې په هنر او ادب کې راپيدا او تر (۱۹۲۲-۲۴م) پورې يې دوام وکړ. په انځورونوکې انجړ منجړ ترسره کول او په شعرکې د بې مفهومه او بې مانا الفاظوکارول، د دې ښوونځي اصلي ځانګړنې دي.

دادېزم په سويس کې د انارشيستو روښان فکرانو له منځه راجوړ شو. (( دوی د لومړۍ نړيوالې جګړې پر ضديت او له هر څه انکار د ادبي او

(c) ketabton.com: The Digital Library


هنري بدمعاشۍ په چوکاټ کې د بې معنا او بې مفهومه الفاظو په ترکیبونو کې تبارز وکړ.)) (۸: ۱۶۴م) که چېرې د دادېستانو اثار وګورو معلومه به شي چې دوی له جګړې وروسته د داسې ادب او هنر غوښتونکي وو، چې له خپلې ملي وظیفې څخه بې برخې وي. دوی د جګړه‌ییزو ترخو شیبو په انځورولو د خلکو په اذهانوکې د جګړې ضد پیغامونه کېنول او غوښتل یې په دې ډول خلکو ته خوښي ور وبښي. دوی په یوه نوع په دې هڅه کې وو چې د انسان مطلقه ازادي ترلاسه کړي، له ادبیاتو او هنر څخه یې کرکه په دې کوله، چې د جنګ د تبلیغ لپاره یې وسیله ګڼله.

دې مکتب فرانسې، المان، ایټالیې، هالنډ، هسپانیې او بلاخره امریکې ته هم لاره ومونده، چې مشهور پیروان یې رومانیایي شاعر ترېستان تزار، الماني شاعر ریشارډ هولزنبک، ژان ارب، لیکوال او د تیاتر مهم غړی هوګو بال یې اصلي غړي بلل کېږي.

## سور ریالېزم

سوریالېزم د اوسنۍ ټولنې یو روحي ترسیم دی، د فرانسوي ژبې له (SurRealsim) څخه، چې د مافوق الحقیقت مانا لري اخېستل شوی دی. دا ښوونځی د غرب د شعر په تاریخ کې د یو ځوان مکتب په حیث د نولسمې پېړۍ په لومړیو شلوکلونوکې د لومړۍ او دویمې جګړې ترمنځ په فرانسې کې منځته راغلې او بیا یې په لویدیځه اروپا کې ځانته ځای او مقام خپل کړی دی. دغه فکري بهنځ د دادېزم په جریان کې منځ راغلی، د دې ښوونځي بنسټ ایښودونکی اندری بریټون (۱۸۹۶-۱۹۶۶م) یو فرانسوی ارواپوه او شاعر دی، چې له دادایزم څخه جدا او د همدې مکتب اغاز یې اعلان کړ. سور ریالېستان له هنرمند او ادیب نه غواړي، چې له حقیقت نه پیل وکړي

(c) ketabton.com: The Digital Library



او په خپل تخلیق کې هغه څه بیان کړي، چې له حقیقت نه لوړ وي. دوی په اصل کې داسې څه ترسیموي، چې د انسان په مغزو کې نه ځاییږي. عقل او فکر یې پر سر اخیستی او د انارشېزم او بې نظمۍ په ساحه کې لکه طوفان واقع کیږي. سوریالېزم په اصل کې له بورژاوزۍ سره جوړ نه دی او شعارونه یې د دوی پر ضد دي. دوی د انسان روحي قوې ته ځانګړې توجه کوي او په دې نظر دي، چې که چېرې د انسان د روح پټ قوت ازادي پیداکړي، نو لرې نه ده، چې انسان به د یو بهتر ژوند خاوند واوسي. سوریالېستان په لومړیو کې د دادېستانو د افکارو په خلاف ودرېدل، د ادبیاتو او هنرنو څخه یې انکار ونه کړ او د تحول د ایجاد لپاره یې لاره پرانېستله. دوی د دادېستانو له پوچو نظریاتو سره نه و جوړ او همېشه یې د مادې پر خلاف د اعتراض غبږ پورته کاوه. دوی د داسې نویو انساني ارزښتونو په لټه کې وو چې انسان ته غوره او له ښیګڼو ډک ژوند وروبښي. دا ښوونځی په انګلستان، امریکا او نور اروپایي هېوادونوکې ډېر پیروان لري، خو تر ټولو زیات مهشور یې اتریشي اراوپوه ز.فروید (۱۸۵۷-۱۹۴م)نومیږي، چې د روحیاتو او عقل په برخه کې یې ډېر څه کړي دي. (۱۸: ۸۱۱م)

## اګسزیستانسیالېزم

له دویمې نړیوالې جګړې وروسته اګسزیستانسیالېزم یو فلسفي او ادبي جریان دی، چې پر فردي ازادۍ ډېر ټینګارکوي. د دوی له فکره هر انسان ځانته ژوندی موجود دی، چې په خپله د راتلونکي ژوند برخلیک روښانه کولی شي. اګزیستانسیالېزم وجود او هستۍ ته ویل کیږي، چې د ماهیت مانا یې غرض ده او اصلي سکالو یې د انسان حیات جوړوي.

اګسزیستانسیالېزم د بورزاوژي مکتب تر عنوان لاندې مطالعه کیږي، د وجودي اساسي فلسفې انقلابي څېره وړاندې کوي او پر هر څه انسان ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډېره توجه کیږي. دا ښوونځی په معاصره پېړۍ کې د بورزاوژۍ فلسفې د یوې داسې لارې په حیث رېښې لري، چې پر علمي او معقولو اساسانو ولاړه نه دی، د ارتجاعي، هنري او ادبي مکتب په حیث هنر او ادب د ټولنې له خدمت څخه لرې کوي، په فلسفه کې لومړۍ په المان، بیا فرانسه او وروسته په نورو هېوادونو کې خپور شوی دی.

اګسزیستانسیالېزم په هنر او ادب کې داسې یوه ذهني تیوري ده، چې د ((وجود اصالت یا د وګړي خپلواکي او د ژوند پوچوالی یې په متضادو اصولو ولاړ دی. د اتریشي ایجادګر ریلکي (۱۸۷۵-۱۹۲۶م) په اثارو کې څرګنده او د لویدیځو پانګوالو شاعرانو په شعرونو کې انعکاس شوې ده.)) (۵: ۲۳م) د دې مکتب په قول هنرمند دې ته رابولي چې د انسان ټیټې انګیزې او د ژوند تیاره اړخونه انځور کړي.

## ویریزم

د ویریزم کلمه د ایټالوي ژبې له (verismo) څخه چې د حقیقت او رښتینولۍ ماناوې لري، اخېستل شوې ده. دا یو ایټالوی هنري او ادبي ښوونځی دی، چې د (۱۹)مې میلادي پېړۍ په پای کې د ایټالیا په سویل کې منځته راغلی. دا مکتب د ټولنې د ټیټې یا غریبې طبقې د ژوند انځور ونه کوي او غواړي د همدغې طبقې له حقونه دفاع وکړي او د استاد شینواري په خبره د مجردې بشرپالنې ایډیا پر مخ بیایي. دا ادبي ښوونځی زیاتره پوهان د ریالېزم او فرانسوي ناتورالېزم تقلیدګنې او د کارګرې طبقې په اړه د ولس احساسات راپاروي. ((دا ښوونځی د ایټالیا د سیسلي اوسیدونکو جیواني اورګاله لخوا منځته راغلی دی. تقریبا دېرش کاله مشهوره نه و، خو وروسته یې په زنځیري شکل شهرت پیدا کړ او په ایټالیا کې بېرته له منځه لاړ.)) (۸: ۱۶۴م)

(c) ketabton.com: The Digital Library



# اخځونه


۱- الفت، ګل پاچا. ۱۳۸۴ل. ادبي بحثونه. پېښور: دانش خپرندویه ټولنه.
۲- هېوادمل، سرمحقق زلمی. ۱۳۷۹ل. د پښتو ادبیاتو تاریخ. پېښور: دانش خپرندویه ټولنه.
۳- وزیري، محمد اقبال. ۱۳۹۱ل. د ادبیاتو تیوري. پېښور: دانش خپرندویه ټولنه
۴- حبیبي، پوهاند عبدالحی. ۱۳۲۵ل. د پښتو ادبیاتو تاریخ. کابل.
۵- هاشمي، پوهیالی سیداصغر. ۱۳۹۳ ل. د ادبي اصطلاحاتو قاموس. کابل: دانش خپرندویه ټولنه.
۶- ښکلی، اجمل، ۱۳۹۰ل. سبک پوهه. کابل: دانش خپرندویه ټولنه.
۷-زړن، پوهندوی جانس. د نړیوالو ادبیاتو د ادبي دورو وېش. جلال اباد (مقاله).
۸- شینواری، سرمحقق دوست. ۱۳۹۳ل. د ادب د تیورۍ اساسونه. ننګرهار: یار خپرندویه ټولنه.
۹- روهي، څېړندوی محمد صدیق. ۱۳۸۶ل. ادبي څېړنې. کابل: دانش خپرندویه ټولنه.
۱۰- زړن، پوهنمل جانس. ۱۳۹۱ل. د لرغوني یونان ادبي تاریخ ته یوکتنه. جلال اباد: مومند خپرندویه ټولنه.
۱۱- عمید، استاد حسن. ۱۳۸۹ل. فرهنګ فارسی عمید. تهران: انتشارات راه رشد.
۱۲- موقن ، یدالله. معنای اصطلاح رنسانس. تهران: انتشارات.(مقاله).
۱۳- وزارت معارف ایران. ۱۳۷۹ق. تاریخ ادبیات ایران و جهان. تهران: انتشارات امیرکبیر.
۱۴- مصطفوی، خالد. ۱۳۹۰ل. مرور بر تاریخ ادبیات جهان. تهر ان: انتشارات.(مقاله).
۱۵- رښتین، پوهاند صدیق الله. ۱۳۶۲ل. د پښتو ادبي مکتبونه. پېښور: یونیورسټي بک ایجنسۍ.
۱۶- قرار، مجید. ۲۰۱۱م. لویدیځ ادبي مکتبونه او پر ختیځ ادب یې اغېزې. کابل:( مقاله).
۱۷- فلسفی، نصرالله.۱۳۷۰ق. تاریخ اروپا در قرون نوزدهم و بیستم. تهران: موسسه انتشارات خاور.
۱۸- حسینی، رضا سید. ۱۳۸۱ق. مکتب های ادبی (جلد اول). تهران: موسسه انتشارات نګاه .
۱۹-موسوینیا، نورا. ۱۳۸۴ق. مکتب کلاسیک. تهران: انتشارات (؟)(مقاله).
۲۰-شیخ زاده، سمیه. ۲۰۱۲ز. مکتب کلاسیسم. شیراز: انتشارات (مقاله).
۲۱- صیلاد، اریا. ۱۳۷۸ق. نیم نګاهی به مکتب ادبی کلاسیسم. تهران: انشارات موسسه کیهان.
۲۲-انسکولوپیډیا امریکا. دایرة المعارف - انټرنیټي معلوماتي ذخیره.
۲۳ - سپهبدی، دکتر عیسی. ۱۳۲۹ق. تاریخ ادبیات فرانسه. تهران: انتشارات دانشکاه تهران.
۲۴ - ویکیپیډیه -دانشمانده ازاد (پارسي) انټرنیټي معلوماتي معلوماتو دخیره.
۲۵-صفا، مصطفی. ۱۳۹۲ل. د نړۍ سل مشهورې څېرې. ننګرهار: مومند خپرندویه ټولنه.
۲۶-مجله ادبیات داستاني. ۱۳۷۵ق. ادبیات کلاسیک المان. تهران: انتشارات (؟).
۲۷-ثروت، دکتر منصور. ۱۳۶۷ق. مکتب رمانتیسم. ایران: مجله (پیک نور، شماره دو).
۲۸- حکیمي، پوهیالی رحمت الله. ۱۳۹۴ل. د ادبپوهنې اساسات. کابل: مستقبل خپرندویه ټولنه.
۲۹-پناه، زهرا اسلام. ۱۳۶۷ق. سیر مکتب ادبی رئالیسم در روسیه. تهران: انتشارات.

(c) ketabton.com: The Digital Library


۳۰- ابادی، سید سعید فیروز.(؟). ناتورالیسم. تهران: مجله ادبیات داستانی. شماره (۲۷) ایران.
۳۱-حسینی،رضا سید. ۱۳۸۱ق. مکتب های ادبی (جلد دوم). تهران: موسسه انتشارات نگاه.
۳۲- ښکلی، اجمل. ۱۳۹۲ل. سېمبولېزم او ابهام.کابل:(مقاله).
۳۳- قاسم زاده، سیدعلی. ۱۳۸۸ل. در امدی بر سیمبولیسم (نمادگرایی).کابل: (مقاله).
۳۴- مهر، دکتر افشین. ۱۳۹۰ق. مکاتب ادبی. تهران: روزنامه مردم سالاری.
۳۵- حلتوی، زینب. ۱۳۷۸ق. فوتوریسم. شیراز: مجله خراسان. شماره (۵۲).
۳۶- سید رضایی، طاهره. ۲۰۰۵ز . مکتب اکسپرسیونیسم. تهران: انتشارات (مقاله).
۳۷- رحیم زی، ذبیح الله. ۱۳۹۳ل. د فکر څېرې. ننگرهار: مومند خپرندویه ټولنه.

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**